# ولسي هينداره

د شهيد زين العاب الدين (پرديس)

شعري ټولګه







د شهید زین العاب الدین (پردېس) د منځني ښوونځي زده
کوونکي له عبد المجید (پردېس) سره

# ولسي هینداره

د شهید زین العاب الدین پردېس

شعري ټولګه

# بسم الله الرحمن الرحيم

د بیا چاپولو ټول حقوق د ویناوال له کورنۍ سره خوندي دي

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: ولسي هینداره

ویناوال: شهید زین العاب الدین پردېس

چاپ کال: ۱۳۸۹ لمریز / ۲۰۱۰ زېږدیز

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوزگر: پوهیالی عبدالمجید پردېس

ډیزانگر: مدثر ناصري

چاپ زیار: عرفات پردېس

**ډالی:**

د افغانستان کړېدلي او زورېدلي ولس ته!

# مننه او کور ودانی

له ډاکټر صیب عبدالمتین او انجنیر صیب عبدالوهاب (سروري) څخه یوه نړۍ مننه چې خپله فرهنګي ـ هیوادنۍ مینه او خدمت یې په زبات ورسول او ددې کتاب د چاپ لګښت ته یې اوږه ورکړه.
نوموړي له ډیرو کلونو راهیسې د جرمني په هیواد کې اوسیږي او هلته دخپلو شخصي کارونو تر څنګ د افغانانو لپاره په ټولنیزو خدمتونو بوخت دي، د (پردېس) کورنۍ ورڅخه منندویه ده او ددوی دلا زیاتو بریالیتوبونو هیله کوي.

په درناوي
عرفات (پردېس)

# لومړنی خبري

د۱۳۵۹کـال د سـلواغې پـه اتـم مابښـام يـو شـميربې فرهنگـو حيـوان صفتو کسانو زمـا پلار زيـن العابـدين (پـردېس) او زمـا مـشر ورورمحمـد صـادق (پـردېس) يـې لـه کـوره وايـستل او بيـايې څـوورځې وروسـته پـه شـهادت ورسـول او ورسره يـې زموږکورتـالا والا کـړ او زمـا دپـلار دکلونوکلونـوفرهنگي هـستي يـې لـه منځـه يـوړه. لـه هماغـه مابښام څخـه تـر ننـه پـورې چـې د(پـردېس) صاحب پـه فرهنگـي اومـادي پانگـه کـوم ناتارونـه اوتاړاکونـه تيرشـوي کـه پـرې بحـث وکـړم امکـان لـري چـې خبـره لـه څـو پاڼوڅخـه لـسهاو پاڼوتـه ورسيږي، ښـه بـه داوي چـې خپلـې اصلـې خبرې تـه راوگـرځم داچـې زه څنگـه وهڅيـدم، چـې د خپـل پـلار خپـاره واره آثـار ديـو کتـاب پـه بڼـه راټـول او چـاپ تـه چمتـو کـړم. د (۱۳۶۳هـ) کـال دوري دمياشـتې پـه پنځـه ويـشتمه شـپه مـې خـوب وليـدچې دکـلا ورڅـوک و ټکـوي زه پـه منډه منډه بهـر ووځـم گـورم چـې پـلار مـې د ورشـا تـه ولاړ وي زه پـه تعجب ور تـه ووايـم چـې پـلاره تـه نـو ولـې ور ټکـوې دا خـو سـتا خپـل کـور دی. دروازه هـم بنـده نـه وه نـو دی راتـه وخانـدي او ووايـې چـې ځـو يـه زمـا لـه تاسره کـار دی يوامانـت مـې درتـه راوړی ساتنه بـه يـې کـوې اوبيايوځـه چـې کـټ مـټ ديولاکـت غونـدې وي غـاړې تـه راواچـوي . لـه هغـه مهال وروسـته چـې مـا پـه شـپږم ټولگي کښې زد ه کـړه کولـه او عمـر مـې لـه دولـسو(۱۲)کلونـو نـه زيـات نـه و دخپـل پلارورکواوتـالا والا آثـاروپـسې لټـون پيـل کـړ اودادی اوس مـې هغـه څه چې لاس ته راغلي تاسې ته ددې کتاب په بڼه وړاندې کړي دي.

په درناوي عرفات (پردېس)

# دزین العابدین (پردېس) پېژندنه

زین العابدین پردېس دحاجي سعد الدین ځوی د ملامعاذ الدین لمسی په ۱۳۰۷ لمریزکال کې دننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ د ماڼو د کمانګرو د کلي په یوه متدینه او روحاني کورنۍ کې زیږیدلی. او په ۱۳۱۵ لمریزکال کې د خپل پلار سره له ننګرهار نه دکندز ولایت ته لاړ او هلته د چهاردرې ولسوالۍ په لومړني ښوونځي کې شامل شو.

پردېس صیب په ښه توګه خپلې زده کړې په دغه ښوونځي کې پای ته ورسولې اووروسته بیادخپلو لوړو زده کړو لپاره بغلان ته ولاړ، چې بغلان هغه مهال دقطغن مرکز و، هلته یې سوره درې کاله دکرهنې په ښانګه کې زده کړې وکړې، چې له

فارغیـد و وروستـه یـې بیـا پـه نومـوړي ځانگـه کـې دهیـواد پـه ځینـو سیمو کې دندې ترسره کړې.

شـاعرانه انځـور اومینـه یـې لـه ماشـومتوب نـه پـه فطـرت کـې نغښتې وه.

ادبـي اوفرهنگـي بندارونـه یـې ډیـر خوښـیدل اوکلـه چـې دځـوانۍ پړاوتـه ورسید نوبیـا بـه هیڅکلـه هـم دده هجـره لـه ادیبـانو اوشـاعرانونه تـشه نـه وه، پـه خپـل ورځنـي ژونـد کـې یـې لـه ښـکار اوشعر سره زیاتـه مینـه درلـوده خولـه بـده مرغـه چـې کلـه پـه ۱۳۵۷ لمریزکـال کـې دهیـواد پـه سیاسـي نظـام کـې ځینـې تـورې اوکرغیړنـې څیـرې راڅرگنـدې شـوې اوددغـې اوسنۍ غمیـزې سـریزه پیـل شـوه اوزمـوږ دمسلمان ولـس نیولـو اوځورولـو زور واخیسـت اوپـه ټـول هیـواد کـې خپلـواک شـاعرانه چاپیریـال هـم لـه ډیـرو ستونزو اوگواښـونو سره مـخ شـو نـوپردېس صیب هـم دداسـې یوفاسـد نظـام پرضـد دتـورې اوقلـم پـه راجیگولـو سـره خپلـه هراړخیـزه مبـارزه پیـل او دخپـل مجاهـد ولـس دوېښـولو اوپـاڅون لپـاره یـې هـرراز سـتونزې پـه ځـان ومنلـې. پـردېس دخپـل مجاهـد ولس اوهیوادسـره ځـانگړې مینـه درلـوده خولـه بـده مرغـه یوشـمیر پلیـد وکسـانو چـې دمجاهـدینو پـه لیکـو کـې یـې ځانونـه نیـولي وه، پـردېس صیـب یـې د۱۳۵۹ کـال دسلواغې پـه اتمـه شپـه دخپـل مـشرځوی محمدصـادق (پـردېس) سـره یوځـای لـه کـوره وایسـتل او بیـا یـې څـو ورځـې وروسـته پـه شـهادت ورسـول او ورسـره یـې د نومـوړي د کلونـو، کلونـو فرهنگـي هـستي لـه منځـه یوړه.

عرفات (پردېس)

"قاطن" له پینبور څخه

## "پردیس" د شهادت په لیکه:

ذین العاب الدین "پردیس" چې د الحاج ملا سعدالدین مشر ځوی دی د افغانستان سور انقلاب، په سرو وینو د شهیدانو د کاروان په لیکه وخوځاوه.

"پردیس" شهید چې یو هدفمند شخصیت ؤ د عقیدې او فرهنګ غمازانو، دی په خپلې کورنۍ پیرزو نه ؤ او دغه فرهنګي هستي ئی په نیستۍ بدله او په شهادت ئی ورساو "پردیس" چې په یوه متدینه کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولې له کوچینوالی څخه ئی د وطن، اولس، علم او فرهنګ سره پوره علاقه درلوده په قوم اولس مهین او د بیووزلو لاس نیونکی ؤ.

نوموړی شهید په فرهنګی ډګر کې، علمی، اجتماعی، اولسی او انتقادی اشعار ویلی او لیکلی چې بیلګه ئی په همدی کتاب کې لوستلی شئ.

شهید "پردیس" د وخت د حکومت سره د کرهنې وزارت په چوکاټ کې په مختلفو ځانګو کې کار کړی چې تر څنګ ئی کلیوالی او اولسی خدمتونه هم‌هندی هیر کړی.

که ئی په اوصافو قلم وځرخوم قلم به ستومانه او د ده د اولسی او فرهنګی خدمتونو لړۍ نه بشپړیږی.

د شهید ځوی عرفات "پردیس" ته دې الله (ج) خیر ورکړی چې د خپل پلار ارمان ئی پس له شهادت څخه تر سره کړ.

امین یا رب العالمین

# دپاک الله نه غوښتنې

خدایه ماله حقیقته منکر نه کړې
شرمنده مې دقیامت په ډگر نه کړې
دایمان سره مې تیر کړه له دنیا نه
ښځه لور زوی او لمسی مې کافر نه کړې
چې نه دین مني نه خدای نه پیغمبر
داسې څوک راته وراره برادر نه کړې
په لباس دشریعت مې اراسته کړه
جوړ زمائنې ببو او ببر نه کړې
دیوې غوړې مړې لپاره ربه
په تعریف د دوسانو مې سر نه کړې
سوال ځواب راته دگور تمام آسان کړه
په غضب راته انکیر او منکر نه کړې
شفاعت دخپل حبیب مې کړه په برخه
سرگردان مې په صحرا دمحشر نه کړې
په لوستویې چې تنویر دنورو مغز کړم
بې اثر مې داشعارو دفتر نه کړې

قناعت په سوړ سوکړک راکړه خالقه
له حرامو راته رزق مقرر نه کړې
لوی غمونه لکه غر مې په سر کيږده
له وړو غمونو جوړ راته غر نه کړې
ايماندار مې دوطن په غيږ کې مړ کړه
بې ايمانه مې فساد کې کسکر نه کړې
دجواری له بده کسبه مې تل ژغوره
اموخته مې په تيکه اوپنج پر نه کړې
په بغلان کې مې اشنا (وزير احمد) دی
په کندز کې خدايه ما بې (عسکر) نه کړې
له دوستانو سره هرځای کې خوشحال يم
همنشين راسره غل اوغدر نه کړې
بې داستا له لوړ حضوره (پرديس) وايي
نور مې ښکته خدايه بل چاته سر نه کړې
۷ـ ۸ ـ ۱۳۵۸ ـ چهار دره

حاجي وزير احمد (حسين خيل) د بغلان د نوي ښار هستوګنې او پاچا صاحب سيد عبد القيوم (عسکر) د کندز دښار د خواجه مشهد د سيمې اوسېدونکی د (پرديس) صاحب ډېر نږدې ملګري وه.

عرفات پرديس

# مناجات

الَـهي دنیـکو شوق د نیـکو توان را
پـوهـه عـلـم دکمـال لـيمه روښـان را
ما سر ټـيټـی هر مـوزي ممسک ته نـه کـړې
خپـل روزگار اوکاروبار په خپـل احسـان را
پـردی پـور مـې زړه وباسـي لـه گوگلـه
څـو ژوندی يـم پـوروورونه امـان را
شـرمـنده مـې د دنيا په طلـب نـه کـړې
قنـاعـت په سـوړ سوکړک په هر زمان را
چـې تـو بـه مـې دعمل پس لـه مـرگي شي
پـه ژونـدون کـې دربنـتـ يـاعـهد و پـيمـان را
ايـمـانـد ار مـې دوطـن پـه غـيـر کـې مړ کـړه
تـرحم راتـه پـه حـال د هر انسـان را
چـې پر هـر د ژبـې نـه جـو ړيـږي خـد ايه
بـې ضـرره پـه ويـنـا کـې نـيک لـسـان را
زه (پـرديس) پـه زړه زخمـي يـم ذالجـلا لـه
خدايـه تـه مـې د زخـمي زړگـي درمـان را
ننگرهار ۱۳۲۳/۱/۲

# نعت شریف

گناه گاریم گناه گاریم محمده
سوی سوی په انګاریم محمده

د وصال شیرین شربت راته انعام کړه
زه پتنګ ستا د ګلزاریم محمده

ګذارشوی یم دریاب د معصیت ته
ستا کمک ته انتظاریم محمده

صادرشوي رانه ډیر بد عملونه
ولې اوس ترې توبه ګاریم محمده

د قیامت په لویه ورځ کې مې هېرنه کړې
زه (پردیس) په نصیب خواریم محمده
۱۳۴۲/۵/۳ چاریکار

# سپیڅلې عقیده

په دنیا کې مې د توري مثال نشته
څه چې زه کوم د بل چا مجال نشته

عالمان یې په سینه کې روزل کیږي
په وطن زموږ کې خر او دجال نشته

په ملت د ابراهیم خلیل الله یم
د دنیا په نمرودیانو مې خیال نشته

سر او مال به کړم قربان له خپله دینه
د قارون غوندې مې مینه په مال نشته

د لوی خدای له سلطنته صدقه شم
بادشاهي کې یې هیڅکله زوال نشته

زه (پردېس) یې بنده ګي په افتخار کړم
بې له ده نه زما بل ذالجلال نشته

۲۰ / ۹ / ۱۳۳۶ کندز

# پښتونه!

دا چې پاتې سوی سکور یم
خدایږو ورږ د ډېر پېغور یم
ای په خوب ویده پښتونه بل ته شات خپل ته مرغونه
خوند دې تللي له ژوندونه ولې پاتې شوې له یونه
ستا غفلت سوی په اور یم
خدایږو ورږ د ډېر پېغور یم
توده وینه د شېرشاه وم نر بچی د احمد شاه وم
افتخار د آسیا وم تل آزاده په دنیا وم
اوس نفاق کې ګډ په شور یم
خدایږو ورږ د ډېر پېغور یم
چې له منځه مې پښتو ځي د دنیا په څو پیسو ځي
امانت مې د نیکو ځي هدیره مې د پلرو ځي
خجالت زه په هر لوریم
خدایږو ورږ د ډېر پېغوریم
ژوند مې اور دی سر تر پایه دریغه، دریغه له دې ځایه
د نیستۍ خواته مې بیایه نورمې واخله ستره خدایه
په سیلانو کې سر تور یم
خدایږو ورږ د ډېر پېغور یم

اوس به وخته زه آباد وم په ښادي باندې به ښاد وم
نه به غل نه به جلاد وم په علمي دنيا به ياد وم
دا چې نه يم کر او کور يم
خدايږو ور د ډير پيغور يم
دغه ژوندمې ژوندون نه دی دغه ور د پښتون نه دی
يو (پرديس) جګرخون نه دی د دنيا دا قانون نه دی
چې حق غواړم په دارسپوريم
خدايږو ور د ډير پيغور يم
۱۳۵۲/۲/۱ - لمريز
ننګرهار، خوګياني

# خوشال خان خټک ته
# دعقیدت ګلونه

چې دې جوړه په ملي ادب انشاء کړه
رقیبانو له حسده درته شاء کړه

د(اورنګ) په زړه دې داغ د حسرت کیښود
چې دایره دې دعوه د پښتونخوا کړه

ډیر لښکر دې تر همت پورې کاروان و
چې به تا د شجاعت توره ترملا کړه

تنها ته د پښتو ژبې شاعرنه وې
په دري ژبه دې هم خوږه وینا کړه

دلوی فکر پلوشې دې هرخوا لاړې
هره خمه هره سمه یې رڼا کړه

د افغـان پـه ننـګ دې وتـړلـه تـوره
پـه خپـل قـام کې دې ملي جزبـه پيدا کړه

درسـره چـې پـښـتـنـي عـالـي همـت و
دسيـسـه د ظـا لـمـانـو دې ځـنـشـا کـړه

زندانو لـه خپله هوډه پـه څنګ نـه کړې
لايـې زيـاتـه اراده قـوي دتـا کـړه

مـصلحت تـه دې همـيـش کولو فـکر
او تـکيـه دې پـه خالق غـني مولا کـړه

د(بـهرام) غـونـدې فرزند دې ځکه عاق کړ
چې منصب ته د(مغل) يې تقاضا کـړه

هـر ګـذار دې تـنـدريـز لـکـه اتـم و
غـلـيـمـانـو سـتـا د لاسـه تـل ژړا کـړه

زه دې کـومـه پـانـه واړوم خـوشحالـه
ستا په يو غـزل مې تولـه شپـه سبا کـړه

د پښتون عالي مقامه پلاره واوره
مرور پښتانه بیا سره پخلا کړه

خفه نه شي خپل حالونه درته وایم
ځان ځاني مې خیلخانه ټوله تبا کړه

په طوفان د حوادثو کې لاهو یم
صداقت رانه ټولنه تپرا کړه

په نړۍ کې بد قسمته زه افغان یم
چې هستي مې دنفاق بلا تالا کړه

چاته ورشم چاته کښېنم ای بابا زه
زړه مې وايي ځان له هر چانه جلا کړه

هغه وخت چې تالیدلی وو اوس نشته
زیست روز گارد دې ولس مې سره خوا کړه

ای خوشحاله زه افغان وړ دافسوس یم
چې رېښه مې دملي وحدت رها کړه

اوس به زه (پرد پس) دکوم خدمت مصدرشم
چې خپل ورورته مې په مخکې جوړه ښا کړه
۱۳۴۵/۷/۲ کندز

# لیدلی مه وای

گران وطن مې وچ کسکر لیدلی مه وای
د وحشت مې تریخ ثمر لیدلی مه وای

اوسیدای لکه دتلج غوندې محل کې
د افغان کور مې کنډر لیدلی مه وای
لیاقت ته په هر ځای کې پام کیدلای
په کُرسۍ مې ناست سخوندر لیدلی مه وای
د میرویس و احمدشاه دپله سالک وای
قومې روح مې مکدر لیدلی مه وای
تل د ځور ځواب ورکړی مې په ځور وای
د میړو مې ماذیګر لیدلی مه وای
دمردانو سره ورک وای په بیدیا کې
د نامردو مې لښکر لیدلی مه وای

پیښن صحراه کې په لیوانو وای (پردېسه)
خو لیوه مې په د فتر لیدلی مه وای
کندز - ۱۳۵۳/۲/۲۵

# توره استعما ره

زه دې پېژنم ای توره استعماره
د پښتون له سیمې ځه په خپله لاره
پښتانه بلوڅ دې واړه ځورولي
کونډې بورې یتیمان دې ژړولي
پښتنې بیبیانې تا دې کړولي
په بمونو ماشیندارو دې ویشتلي
د اسلام په نوم ناري وهې غداره
زه دې پېژنم ای توره استعماره
غواړي امن په جهان کې پښتانه
په تمام پښتونستان کې پښتانه
د نړۍ په هر مکان کې پښتانه
هم د نورو هم خپل ځان ته پښتانه
په اسانه د جنګ نه دي طرفداره
زه دې پېژنم ای توره استعماره
صدقه به له وطنه مال او سر کړم
استعماره تا به ژر ورنه بهر کړم
کاني بوټي د وطن به مې سره زر کړم
په سرو وینو به دې سور تا ستمګر کړم
قرباني دې زه (پردېس) شمه زر واره
زه دې پېژنم ای توره استعماره
د پښتون له سیمې ځه په خپله لاره

۱۳۵۳/۶/۹ - سمنګان

# باڼده چي استاذ

يوه باڼده دلته ولاړه ورکۍ ده
خړه پړه محقره تيته کۍ ده

نه شمال پري حصاريږي نه باران
نه کوټه ده نه کپه ده نه دالان

له دې ورانې کنډوالې راځي آواز
دا مکتب دی دهاتي پوه شه په راز

يو ملا عاجز ددې مکتب معلم دی
خوافسوس چې مواجب دغريب کم دی

دوړو په منځ کې ناست دی لکه شمعه
ناقراره دی هميش د دوی له غمه

شيرين عمريې تېر کړی په دې شان
عيش د نوروغم دده غريب په ځان

له هرشي نه ورته گرانه وظيفه ده
معلمي سره دده ښه علاقه ده

نه پيسه لري نه پوست اونه چپنه
د معارف له خوايې نه کيږي پوښتنه

مفتش ورسره نه دی معرفي
دا تش لاسی ملا گوتی اطرافي

بس دی نوريې چيرته نه کوم بيان
هسې نه چې ورته پيښ نه شي تاوان

دولس پرده په ده باندې خوندي ده
چاره جوړه پرې دمړي اوژوندي ده

د معلم (پرديسه) ډير عالي همت وي
چې منظور يې هميشه قومې خدمت وي
۱۳۴۵/۱/۱۲ - بغلان

# وزیر محمد گل خان (مهمند) ته د عقیدت گلونه

ای دلوی فکرخاوند لویه انسانه
ستا په مړینه مې د زړه دنیا شوه ورانه
ای (وزیره) له دنیا لاړې ضایعه شوې
د وحدت روښانه ځلی وې چپه شوې
ستا شانداره کارنامې نه ځي له یاده
ای د سترې پښتونخوا اصیل زوزاده
پښتانه دربانديې وياړي تل مدام
درود ونه په تا وايي خاص و عام
لوی امام د پښتنو د پرگنو وې
ستر هادي د وروسته پاتې قافلو وې
په وطن کې دې قابو ښه امنيت کړ
ټول افغان دې بيا له خاورې نه اوچت کړ
څو چې تا غوندې انسان راځي دنيا ته
پښتانه خواران به تللي وي بل خواته
څو چې بل ځوی پيدا کيږي ستا په شان
وي په قبر به زما راشنه زوزان

په پښتو ژبه دې وکښل اخبارونه
کړل پوره دې دا ملي ستر ارمانونه
د خوشحال روح درنه قبرکې خوشحال شو
چې دفتر دې په پښتو ژبه سنبال شو
د پښتو ژبه دې بوتله تر آسمانه
ای د لوی فکر خاونده لويه انسانه
لکه شمعه د وطن عشق کې لمبه شوې
ای وزيره له دنيا لاړې ضايعه شوې
حرام کړي دې په ځان وه راحتونه
د وطن دې همېشه خوړل غمونه
وزارت دې د چرچو لپاره نه وو
لکه چا غوندې پيسو لپاره نه وو
کرايې کور نه دې پورته جنازه شوه
پس له مرگ نه دې پرې لاجيگه شمله شوه
دا چې تاپسې مړ نه يمه لا پايم
باور وکړه چې بې شانه بې وفا يم
تا به ويل چې لروبر پښتنو يو شی
ای د سمې او د غر پښتنو يو شی
د خمتار خرې کپرې نه دې ځادرو
اقتصاد ته دوطن دې تل نظرو
راشه موږ ته اوس وگوره څومره سپک شو

په لمنو کې دنورو خلکو ورک شو
زه هغه اوهغه ماته باسي کنده
مزه تللې ده بابا زموږ له ژونده
دقیصو په ځای پیسې گتولگیا یو
د راتلونکي قضاوت نه بې پروا یو
د نفاق توره بلاه راکې دیره ده
آخر ټول به کړي تباه سړي خوره ده
طالع نه لرو بد مرغه پښتانه یو
ستا د لارې سالکان نه یو راندہ یو
دا چې پاتې په هر ځای یو له کاروانه
ای د لوی فکر خاوند لویه انسانه
ټولې غوښې مې له درده لولپه شوې
ای وزیره له د نیا لاړې ضایعه شوې
کله زه چې را تبدیل شوم سمنگان ته
ډیر خوشحاله ومه نېږ هیدم ځان ته
هغه دا چې سمنگان کې ستا مقر و
ځکه دلته په راتلو مې خوښ خاطر و
ماښام تور په سمنگان کې شومه ښکته
چې سبا شو راته ولگیده پته
د وا ورینو غرو په منځ کې سمنگان
چې بنیاد یې ایښی تا هغه زمان

خو ترننه پکې نه دی شوی کار
سمنګان دی دجمله ښارونوخوار
دخوښۍ حس مې بدل په اضطراب شو
په ليدود سمنګان مې زړه کباب شو
سمنګان له خدايه غوارمه ودان
ترقي د سمنګان مې ده ارمان
سمنګان کې چې تاکړې ګذاره ده
ځکه ماته يې خوږه هره دره ده
کله راشمه جومات ته د بازار
پکې وينم ستا د فکر ابتکار
تا راياد کړم په ژړا شم بې اختياره
خدای دې اوبښه زما پښتونه پلاره
جنتونه دې نصيب شه اته واړه
دا دعا درته کوم په هسکه غاړه
زه (پردېس) يم څه مې نه راځي له توانه
ای د لوی فکر خاوند لويه انسانه
دميرويس واحمدشاه ترڅنګ ويده شوې
ای وزيره له دنيا لاړې ضايعه شوې

۱۳۵۴/۹/۳۰ _ ايبک سمنګان

# استقلال

سږني جشن کې بل راز خوشحالي ده
چې دوره پکې راغلې جمهوري ده

ټول افغان ولس کوي پرې افتخارونه
چې ورکړې چا دې لار کې قرباني ده

استقلاله خدای دې ساته له زواله
دا دعا مې همیشه په خوله جاري ده

(پردېس) وایي نن هغه مردان یادېږي
چې ګټلې یې په توره آزادي ده

۱۳۵۴/۵/۲۷ - کندز

# تحفه

د سپوږمۍ نه تحفه راغله د ډبرو
په بدل کې د ميليارد ميليارد ډالرو

آفرين دې شه په فکر ای انسانه
ای د عقل او منطق ستره سلطانه
د خپل هاند په اثر وختې قمرته
افتخار دې ډير عظيم پرېبنود بشرته

خارجي فضاء نه کله څوک خبر و
سپوږمۍ نه تحفه راغله د ډبرو

دا د علم برکت نه دی نوښه دی
ګاګارين چې په دنياکې نن ښايسته دی
رائحی ورونو چې د علم پلويان شو
پس له مرګه به ژوندي په دې جهان شو

بې علمۍ کې ډير مشکل دغه سفرو
د سپوږمۍ نه تحفه راغله د ډبرو

خلکو کړله د سپوږمۍ کره تسخير
دا ظفر يې په تاريخ کې شو تحرير
تنها ته (پردېسه) پاتې له کاروان يې
محسورشوی کړليچو کې د زمان يې

شيرين عمر درنه تېر شو په ډغرو
سپوږمۍ نه تحفه راغله د ډبرو
۱۳۴۸/۵/۱۱

## راشه راشه

د وطن ښکلي بهاره راشه راشه
يوځل نه په زر،زرواره راشه راشه
نوی روح په وچوډکوکې ورپوکړه
ای ددرې فصلونوپلاره راشه راشه
کوي بيا مشاعره اديبان ټول دي
بينوا،خادم، جراره، راشه راشه
د ملي ادب خوږې مشاعرې ته
د ملي ادب دوستداره راشه راشه
سليمي،ريښتين،يې کړی اهتمام دی
محفل جوړدی ښه شانداره راشه راشه

د ملي ګټو ملي رشد و بقاته
حبيبي، له کندهاره راشه راشه
اتحاد او اتفاق راوړه ولس ته
د وطن اوقوم غمخواره راشه راشه
د ملي ژبې پښتو نوبت راغلی
انديښنو ځپلی یاره راشه راشه
له دورې د انحطاطه راوتلی
اوس وهې د عروج لاره راشه راشه
په شمله کې دې تازه ګلونه کیږده
ای د ښکلي بڼ ماليار ه راشه راشه
دغوايي په ځای ماشين پټي ته بوزه
کړه دا شاړه پرې هواره راشه راشه
خلک د علم په زور لاړه تر آسمانه
ته هم ځان کړه لږ بيداره راشه راشه
تخم وکره چې ګيډه دې مړه شي
په نفلو ولاړ وزګاره راشه راشه
په همت او په زحمت روزي جوړيږي
د ودې نشته په تياره راشه راشه
نن دې وار دی د ګلشن ننداره وکړه
سبا ځې به له دې ښاره راشه راشه
د نارنج غوندې دې نه غواړمه ځيږه

امـــان غــــواړه لــه ادبــاره راشــه راشــه
لکــه ځــان هـسې پــه نــورو هــم زهیرشــه
دنیــا نـــه ده وفـــاداره راشـــه،راشــه
د شخصي گټو نه تېرشه (پردېس) وایي
د قــومــي تــعمیر معماره راشه راشه
۱۳۴۹/۱۱/۱۲ - کندز

# ځــویه

فکـــر احـــتمام کـــوه
گرانــه ځویــه پــام کــوه
مــه گــرځه کوڅــو کې تــه    زیـــار باســه درســـوکې تــه
گـــوره کایـــناتـــو تــه    سیـــر د مـــوجــوداتو تــه
پاخېـــږه بېـدار کـړه ځان
ښه دقیق هوښیارکـړه ځان
زده هـــر یــو لــسان کـړه تــه    ژبــه زر افشـــان کــړه تــه
پاس د خـــاص وعـــام کــوه    گـرانــه ځـــویـه پام کـوه
ستر ملي انــسان شه تـه
ښــه مرد د میـدان شه تــه

رنګ بد د خپل قام نه کړي — ځان چتې سرسام نه کړي
مه څه هر يو چا پسې — څه خپلې حيا پسې
جوړ ملي وقار کړه ته
دا وطن سينګار کړه ته

جاريږه له کشرانو نه — تولو ماشومانو نه
د مشر احترم کوه — ګرانه ځويه پام کوه
زده ساينس اوتخنيک کړه ته
جوړ ملي تحريک کړه ته

مه اوسه خمود جمود — ځان کړه حقيقي موجود
کلک لکه سندان اوسه — فخر د افغان اوسه
لوړه کړه شمله د پلار
روح نه کړې خفه د پلار

ښه فعال صادق شه ته — پوه په دې سبق شه ته
غور تل مدام کوه — ګرانه ځويه پام کوه
دا وطن حاجت لري
کار ته ضرورت لري

پريږده غټ يادګار پکښې — مه ګرځه وزګار پکښې
دشتې يې ګلونه کړه — جوړ شينکي باغونه کړه
ځان کړه ترې قربان ګرانه
واوره دا بيان ګرانه
قدر د ايام کوه
ګرانه ځويه پام کوه
۱۳۵۰/۱۲/۳
کندز چهاردره

# خوږو بچیانو

وړو ،وړو بچیانو
خوږو خوږو بچیانو
یو څو خبرې درته کړمه وکړئ پام تاسو
و اورئ کلام تاسو
و اورئ کلام تاسو
نوي د رسونه یاد کړئ
علمي بحثونه یاد کړئ
هلې مکتب ته لاړ شئ
ځای دادب ته لاړ شئ
ځانونه وژغورئ دجهل له تیارو بچیانو
وړو ،وړو بچیانو
خوږو خوږو بچیانو
بیځایه کار، ونه کړئ
عبث رفتار، ونه کړئ
دپلار نیکه زامن شئ
ښه ننګیالي تورزن شئ
دوطن خاورې نه ځارېږی تل مدام تاسو

واورئ کــلام تــاســو
واورئ کلام تـا ســو
تـاسـو گـلان د وطـن
نـو نـهـالان د وطـن
سبا زلمیـان بـه شـی
ډیر ستر کسان به شی
خوبیاتیرنه وځئ د دنیا په څوپیسوبچیانو
وړو ،وړو بچـیا نــو
خوړ‌و ،خوړ‌و بچیا نو
زه دلوی نام خاوندیم
دستر مقام خاوند یم
غیرت میړانه لــر م
مـاضي روښانـه لـرم
قومي تاریخ کې به مې وگورئ انجام تاسو
و اورئ کلام تا سـو
و اورئ کلام تا سـو
راشئ رالنډشی راتـه
شاو خوا پنډشی راتـه
رانه خبرې زده کــړئ
دمردی غورې زده کړئ
یمه (پرډیس) درته غړیږم په پښتوبچیانو
وړو، وړو بــچیــا نــو
خـوړو خـوړو بـچیا نو
۹/ ۷/ ۱۳۴۰ - بـغلان

# افغاني چاپ اندازا نوته سلام

بزکشان چې پرې اسونه ورقوره کړي
غليمان به د وطن پاره ، پاره کړي

د بزکش په قوي زړه دې آفرين شي
آفرين دې په دې عزم آهنين شي
فولادي نوکان لري تول بزکشان
د بزکش منگول نه ځان ساتي ليوان
په ښايسته آسوسپاره چې بزکشان شي
لاندې ځمکه پاس آسمان ورته حيران شي
ورنه ماته چې خوړلې سکندر
افغاني سپرونه ځار مې مال او سر
ته (پرديس) پرې ارقام يوخوږداستان کړه
بزکشانو ته اهدا د شعر ديوان کړه

ثاني يې نشته په نړۍ کې دی کلام
افغاني چاپ اندازانو ته سلام
۱۳۵۰/۸/۱۵ ـ کندزچهاردره

## دغه وینادرته صفاکوُم

چې یم مفلس شوق د حلوا کوُم
ضرور به ځم چېرته به غلا کوُم
وچه چوکۍ ده په کې ورک شومه
خو زه ترې کله استعفاء کوُم
ډېرې پیسې به مې لاسو ته راشي
پوښتنه نشته نور قضاء کوُم
آخر به مخ په گورستان ورځم
دا زه چې تل حقه وینا کوُم
په طوفاني بیړۍ کې سپوریمه زه
د اندیښنو سیندکې شنا کوُم
په پاکو هیلو د ځوانۍ مې قسم
مرگي ته هر وخت مرحبا کوُم
چا ویرلی چا وهلې یم زه
اوس په هر شي خیال د بلاکوُم
والي، وزیر، ورته غاښونه چیچي
د غریب قوم عرض به په چاکوُم
که توپ اوټانگ وي اعتلادژوند
تاسف په داسې اعتلا کوُم
(پردیسه) رسم د عالم خراب شو
دغه وینا درته صفا کوُم

۱۳۴۹/۲/۱

د کندز د سپين زر شرکت
د جريدې دتاسيس په مناسبت

# مناسبت

د ملي ودې امکان چې ميسر شي
جريدې او اخبارونه منتشر شي
د قومي نهضت د ستر ترون لپاره
د شاعر او د ليکوال نظر تيزتر شي
طباعت ستر تحول راوړي نړۍ ته
انساني بيړۍ ورکوزه په قمر شي
سل دې ومره يو دې ممره دامتل دی
هغه يو چې د ملي چارو مظهرشي
دي پرتې په کې قيصې اوداستانونه
په کيفيت که ددې خاورې ثوک خبرشي
ترقي او اعتلا غواړي دا خلک
يو دې راوړي ماسترې بل دې ډاکترشي
توجه دې زراعت ته وشي ډيره
د ملي توليد پلان دې وسيعتر شي
د پطرول د اساسي لټون لپاره
په جدي توگه برمه دې سمه اوغرشي
که پښتون دی که تاجک او که ازبک
مسما دې د افغان په لوی ټبر شي
استعمار بيل نومونه په هغو ږدي
چې غلط ورنه دژوند، درو، گودرشي

تفوق تبعیض دې لرې وي له ملکه
عدالت او مساوات دې مستقرشي
که غلې غوارې پريمانه وي وطن کې
تقويه دې په هيواد کې هربذگر شي
چا ويل چې گوهر نشته په درياب کې
که غوټې پسې وهې په لاس به درشي
ځمکه شته قلبه موجوده اوبه دي ډيرې
ډير افسوس دی چې د کار موقع هدرشي
د ولس د خيال شمله به شي پرې لوړه
چې ځوانان يې د ملي چارو مصدر شي
ټول ديو بابا بچيان د يو وطن يو
ولې هېر رانه خپل دود ملي کلچر شي
ډير د علم په وزرو لاړه اسمان ته
کاشکې موږ ته هم نصيب دا بال اوپرشي
ځان چې نوروسره واچوم پله کې
له غيرته مې په اوښکو گريوان ترشي
د ايثار اوکار جذبه چې راکې نشته
ده بهتره چې مې ټول د ژوند تغرشي
جامعه به د هغه په نامه وياړي
په ميدان کې چې د کار اول لمبر شي
دا بيان (پرديسه) ليکم په دې قصدزه
چې رنگين پرې ټول زما دشعر د فترشي

۱۳۵۱/۹/۱۲

# پاخېږه ای لته ته

گته کوه گته ته
پاخېږه ای لته ته

وخت دکشت اوکرراغی ښه ښکلی منظر راغی
ځان فني دهقان کړه ته گران وطن ودان کړه ته
وکره هر څه پکې ای بزگره ته پکې
ساه لرې صورت لرې ليچو کې قوت لرې
مه گوره حيران ځانته جوړ کړه سم پلان ځانته

کار واخله له متې ته
پاخېږه ای لته ته

وباسه زحمت ياره مکوه غفلت ياره
د هر مرض دواشه ته بوټی د کيمياشه ته
جوړ شينکي باغونه کړه ماړه وږي نسونه کړه
سم کاږه کارونه کړه بس درانه خوبونه کړه
لوړ خپل توليدات کړه ته ژوند عيد او برات کړه ته

ډکه کړه داخته ته
پاخیږه ای لته ته

پام هره لحظه کوه ژوند په دنیا ښه کوه
تیر یې بې معنا نه کړې ځان ور د خندا نه کړې
یاد نوي علمونه کړه ترک عبث فکرونه کړه
مور ورته حاجت لرو کار ته ضرورت لرو
گفتار غواړي کردار درنه ستر ملي ایثار درنه
عبث مه شینده خته ته
پاخیږه ای لته ته

غور، جستجو کوه شوق همیش د ښو کوه
بدونه کنار گرځه تل ورنه بیزار گرځه
څرخ ته د زمان گوره لر او بر جهان گوره
ته (پردېس) آگاه اوسه تل مدام بینا اوسه
پوه شه په دې وته ته گټه کوه گټه ته
پاخیږه ای لته ته

۱۳٤۷/٦/۱۱

# قلعه زال

چې کندز ته راروان شې ګرانه
حد، ته داخل د عسقلان شې ګرانه
چپ لاس راتاوشه قلعه زال ښکاري
ګردو کې پټ لکه هلال ښکاري
څو کاله کیږي کوم کار پکې
یوه ګړۍ نه یم وزګار پکې
په هر مجلس کې دا غوغا کوم
د قلعه زال په حال ژړا کوم
که ګوتې پورې شي په ښار ددې ځای
جوړشي عصري غوندې بازاردې ځای
ارمان د زړه به مې بهر شي پکې
چې هر دیوال سنګ مرمر شي پکې
د زال په وخت کې آبادي وه دلته
جوړه له هرې خوا ښادي وه دلته
تر اوسه پاتې دي د زال نښې
د کور او کلي د دیوال نښې
وایي (پردېس) کاشکې اعمارشي بیرته
جوړ د پخوا غوندې دا ښار شي بیرته

۱۳٤۷/٦/۸

# زه کندز یم

زه کندز یم ما حتمي وپیژنۍ
زما غیرت کې زنده ګي وپیژنۍ
تاریخي شان اوشوکت نه برخورداریم
د ویاړنې ستر حالت نه برخوردار یم
قهرمان باتور ملت نه برخورداریم
هم مې حال هم مې ماضي وپیژنۍ
زه کندز یم ما حتمي وپیژنۍ
د میوو ثاني مې نشته په دنیاکې
تک تنهایم براعظم دآسیا کې
طبیعت ډیر استعداد خلق کړی ماکې
پیداوار مې ختکي وپیژنۍ
زه کندز یم ما حتمي وپیژنۍ
په غالیو مې ښایسته دي بازارونه

هر وطن کې مې کوي خلک صفتونه
د اوبو راکې جاري دي تل سیندونه
په آموکې مې غمي وپیژنی
زه کندز یم ما حتمي وپیژنی
یو لر مه عجیبه نادر فارمونه
په کې ځري ښایسته ښکلي آسونه
نور مې وګورئ رمې رمې پسونه
بل مې پوست قره قلي وپیژنی
زه کندز یم ما حتمي وپیژنی
له ورې نه مې باریږي کاروانونه
له غنمو نه مې ډک دي ګودامونه
په پمبه باندې مې ځرخي ماشینونه
هر قلم مې تولیدي وپیژنی
زه کندز یم ما حتمي وپیژنی
د (پردیس) په قلم لیکمه اشعار
په معنا کې دي خواږه لکه انار
وطنوالو په غورږو اورۍ داګفتار
زما غیږ کې زنده ګي وپیژنی
زه کندز یم ما حتمي وپیژنی

۱۳۴۷/۸/۱۷ - کندزچهاردره

## ( د کندز سینده )

په کندز باندې که نه وای ستا گذر
چاردره به خالي ډاگ وای بې شجر

دا فارمونه کروندې به هرگز نه وای
که ته نه وی زیږولای ستر شیبر

په سیندونو کې دې نه وینم ثاني زه
ستاله فیضه ترقي کړې سپین زر

دا چې وړې زموږ پټې او جوماتونه
وایه چادې زورولی دی خاطر

ته پوهیږې چې موږ نه لرو کمال
چې په سمه لاردې بوځو برابر

ټولې ځمکې دې خرابه کړې ناځوانه
دښنامارغوندې روان یې په خپل سر

دغه حال ته زه (پردېس) کتلی نه شم
چې سیندونه د وطن لاړشي هدر

۱۳٤۹/٤/۱۱

# سینده

ثاني دې نشته په جهان سینده
ای د کندز و د بغلان سینده
غلی مه رائحه په شور رائحه
سپیره ډاګونه کړه سمسور رائحه
پوره مې کړه ملي ارمان سینده
ای د کندز او د بغلان سینده
د ظلم آباد وچه ویاله ژاړي
په چیغو چیغو همېشه ژاړي
وچو ویالو کې شه روان سینده
ای د کندز و د بغلان سینده
مه وړه زموږ نه جوماتونه په ځور
پولې پټې کلي کورونه په ځور
زغملی نه شم دا نقصان سینده
ای د کندز او د بغلان سینده

ته یې خبر چې لاس خالي دی زموږ
پلان ورک شوی نن کاري دی زموږ
چې ځواب در کړو په میدان سینده
ای د کندز ود بغلان سینده

ته چې له موږ نه مرور روان یې
پر دي وطن ته برابر روان یې
تأسف په موږ ارمان ارمان سینده
ای د کندز و د بغلان سینده

ځوی مې لیږلی ماستري به راوړي
خاص د اوبو اینجنري به راوړي
بیا به دې ونیسم گریوان سینده
ای د کندز و د بغلان سینده

وایي (پردېس) چې په دې حال به نه یم
تل د ښو لاندې پایمال به نه یم
خدای به مې راولي دوران سینده
ای د کندز او د بغلان سینده

۱۳۴۹/۳/۱۱ چهاردره

# سمنګانه

دی قسم په زړه ستوما ن یم سمنګانه
ستاله غمه ډیر پریشان یم سمنګانه
ظلم تعدی درکې لیدلی نه شم
لرم احساس ځان غولولی نه شم
له دنګو غرو دې لوړ خیالات زده کوُم
ملي شعار ترې د ثبات زده کوُم
که دې ارچه که دې پیسته ګورم زه
لویه هستي درکې پرته ګورم زه
خو، هو د چا چې درته پام نشته
زما له دې غمه ارام نشته
وکړه باور پاتې حیران یم سمنګانه
ستاله غمه ډیر پریشان یم سمنګانه
ډیر درکې وینم چې ببر ناست دي
څه دې بیا چورته منتظر ناست دي
څوک دې له ویشې په تالا خوښ دي
څه دې په ضد د ارتقا خوښ دي
بانه رپیږي سترګې څار کوي
میرزا عمود، دغه ګفتار کوي
لوبیا لوبیا مُلی ، مُلی پسې ځي
صادق مدام خپلې خولی پسې ځي
زه هم د دوی پسې روان یم سمنګانه
ستاله غمه ډیر پریشان یم سمنګانه

ډیر تاریخي درانه نومونه لري
تخت د رستم غونډۍ ځایونه لري
پروت بایزید غونډۍ سلطان درکې
مزار د دغه لوی انسان درکې
طبعي ښکلا ته دې څوک پام نه کوي
شان او شوکت ته دې سلام نه کوي
نه فابریکه نه سړکونه لري
نه د پخوا په شان قصرونه لري
د پرمختګ دې په ارمان یم سمنګانه
ستا له غمه ډیر پریشان یم سمنګانه
هره لحظه دربانډې ویاړم زه
ستا آبادي له خدایه غواړم زه
تاکې مې ډېر پرستر امیدونه ښخ دي
تاکې زمادپلار هډونه ښخ دي
په روح د هغه ډیر سلام وایمه
پس له سلامه دا کلام وایمه
ملي حیثیت به دې اوچت ساتم
خاوره د تا به په همت ساتم
زه (پردیس) درنه قربان یم سمنګانه
ستا له غمه ډیر پریشان یم سمنګانه
۲۹-۸-۱۳۵۱ - ایبک سمنګان

# ښارواله

ارمان ارمان ښارواله
د سمنګان ښارواله

خلک خبازانو چور کړه هم قصابانو چور کړه
بزاز د ګز غل دی په رڼا ورځ غل دی
د نرخ کنترول نشته ریښتیني تول نشته
پارک چټلۍ نه ډک دی د ناپاکۍ نه ډک دی
ښار کې ویالې کثیفې ټولې کوڅې کثیفې
ته بې پرو اګرځې پاس په هوا ګرځې
دکار سودا نه لرې فکر رسانه لرې
لکه ملا کوې شپې په هرچا کوې
نن په هغه میلمه یې سبا په ده میلمه یې
چا نه حلوا وهې چا نه ښوروا وهې
چا نه چرګان ښارواله
د سمنګان ښارواله

ښار د ایبک ژاړي　　ستا په گشتک ژاړي
دي ډیر آزار درنه　　خلک د ښار درنه
خو ته آزار څه کړې　　انکار اقرار څه کړې
گرځه په ښپو کې گرځه　　جنده خانو کې گرځه
که ولایت خبر شي　　ستا په خیانت خبر شي
په کوم تفصیل به خلاص شې　　په کوم دلیل به خلاص شې
بیانو هه هه صاحبه　　پوه نه شوم زه صاحبه
شې خجالت به پاتې　　په ندامت به پاتې
غاړه کړه به کړې　　تنه وړه به کړې
خورې به قرآن ښاروالہ　　د سمنگان ښاروالہ

سهار ماښام گرځه
ښار کې مدام گرځه

ټار مسگر څاره　　هر کسب گر څاره
قنات خیاط گوره　　هر کم وزیات گوره
پوښتنه ښار کې نشته　　په مال بازار کې نشته
میوه فروشي وگوره　　ټول خټکي وگوره
زده زخمي خر څیږي　　غیر صحي خر څیږي
غله بازار خفه دی　　په احتکار خفه دی
وزن دی پورته روان　　وهي چنې علافان

ډول د قحطي ډزوي غنم په قصد پټوي
غواړي ملت پريشان کړي ټول مملکت پريشان کړي
وايي (پرديس) دا بيان شه د اوضاع نګران
په ټينګ ايمان ښاروال
د سمنګان ښاروال

۱۳۵٤/٥/٧ - سمنګان

# دتاجبرو مرثيه

ترمې ترمې لکه ګل لاړه خزان شوه
په ناوړه رواجونو کې قربان شوه
پيغلې هيلې ورسره خاورې ايرې شوې
نيمګله د تاجبرو خيالي اسرې شوې
لکه پاڼه د خزان ورپيده
په ځاره زهير بوډا چې خرڅيده
چې داخله د ځاره بوډا په کور شوه
نازولې تاجبرو مړې د ګور شوه
بهيدلې يې په مخ اوښکې رودونه
ورنه هير شو د ځوانۍ ټول هوسونه
تور اوربل يې په تندي پريوتو وران
تاجبرو بيا غم ونه خوړ و دځان
شيرين عمرېې په غم کې تيريده
پښتنه وه څه يې نه ويل په خوله
اخر لاړه تاجبرو زيره منه شوه

دانبارانبارغمونو منځ کې مړه شوه
مروره له دنیا لاړه غمجنه
په عمري خوب شوه ویده دا ګلبدنه
تاجبرو له قبره تاو کړئ دیوالونه
ځوانیمرګه شوه قبلیږي پري سوالونه
د شهیدې تاجبرو په مرګ زهیره
ستا وینا (پردېسه) نه ده بې تاثیره[1]

۱۳٤۳/۷/۱۷ کندزچهاردره

[1] یادونه: دشهیدې تاجبرو کورنۍ د کندز ولایت د چهار درې د ولسوالۍ په یوه کلي کې اوسیده چې خپله (۱۴) کلنه لور، تاجبرو یې د ډېرو پیسوپه بدل کې په یوه ځاړه بوډا خرڅه کړه چې نتیجه یې ما په پورتنۍ مرثیه کې روښانه کړې ده.

# عسکره

ایبک ته راغلي نه شوې تم عسکره
بیرته بغلان ته لاړې سم عسکره
نه دي (خرُم) نه دې (سارباغ) ولیده
نه دي (زندان) نه دې (رستم) عسکره
ماکښېنولې د (شرقي) سره ته
د شاعرۍ په ستر ګلم عسکره
هم جمیلي اوهم (محسن) خفه شو
اوهم (حضرت) صیب دخرُم عسکره
که غواړې موږتول دل آسا غوندې کړې
هغه حکمت درته لیکم عسکره
دغه حکمت بیرته راتګ د تا دی
چې تاو، راتاودرځنې شم عسکره
(مراد) له ځان سره جوړه راوله
(طلامحمد) ورسره هم عسکره
په (پسرلي) باندې دوکان وتړه
په سود اوزیان کې نه شي ګم عسکره
وخت دراتلوکې چې (کشمیر)هیرنه کړې
(زمري) ته ست وکړه محکم عسکره
خواب یې ایبک آب یې ایبک ووهی
چې بیا ونه کړې چیرته غم عسکره

دنیــــا د ډیـــرو اندیــښنو ځـــای دی
پــه کـښې محــسور بنــي آدم عــسکره
څـوک باسـي هانـدقومي جهــان جـوړوي
څـوک لټـوي سـود او سلــم عــسکره
چــا ســره غــم د یــو ملــي تــړون دی
چـا ســره غـم د خپـل شکــم عــسکره
چــا ســره لاس کــې دُر، مرجــان وینم
چــا ســره نــشــته یــو درهــم عــسکره
چــا د ځــان غوښــې پــه حــسرت وخوړې
چــا د بــل غوښــې پــه ستــم عــسکره
وایــي (پــردېس) خبــرې ډیــرې لــرم
راشــه زمــا د زړه ملـــهم عــسکره

۱۳۴۳/۲/۱۰ سمنگان

**یادونــه** : سید عبد القیوم عــسکر د کندز ولایت د پــښتو ژبې یو پیژنــدل شــوی شــاعر وو چــې پــردېس صـیب لــه نومــوړي شاعر ســره ډیـره مینــه درلــوده او څــوځلي یــې خپلو اشعــارو کې ستایلی ، ښاغلی مراد ، د سپین زرچریــدې مــسوول مدیر ښــاغلی طلا محمد ، ښــاغلی محمد صدیق پــسرلی ، ښاغلی کــشمیر خروټ او ښــاغلی زمــری ، د پــردېس صــیب د ادبــي بانډ ارانډ یو الان وو ، شــرقي صیب ، اسد الله جمیلي ، محــسن صیب او حـضرت صیب د خُرم د ســمنگان ولایــت او سیــد ونکې او د دري ژبــې ښــه تکــړه شــاعران او ادب دوسته خلک وو.

**یادونــه**: پــه پــورتني شعــر کې د زنــدان او رستم کلیمې تــه اشاره شــوې شــاعــر دابــو مــسلم زنــدان او د رستم تخت یــادوي، چــې سمنگان کــې واقع دي.

عرفات (پردېس)

# سلام

اول مراد بیا په عسکر سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
چې تاسیس یې جریده کړه د سپین زر
د کندز نوم یې تشهیر کړ لر او بر
په جامع فکر د (ناشر) سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
یو په (وداع) بل (انوري) باندې
بل مولوی صاحب (صدري) باندې
بل په عصري (پښتون) شاعر سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
(اسود) (ملزم) او (فضیلت) باندې
(شمس الاسلام) او (ملامت) باندې
په (عالمیار) غوندې ډاکتر سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
د ګران (کاکړ) په علاقه باندې تل
د (محسني) صیب (شفیقه) باندې تل

په (ترکي) او (سیدنادر) سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
چې در کوي سپینه پنبه تاسو ته
په ډېر اخلاص او سلیقه تاسو ته
د قطغن په هر بذگر سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
زړه ته مې هر یو لری لار تاسو
په وظیفو کې باسئ زیار تاسو
په ټولو وایم خوندور سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
وایي (پردېس) که مې هېر شوي وي څوک
لیک او کاغذ نه پاتې شوي وي څوک
په هغو ډېر مکرر سلام
په کارکونکو د سپین زر سلام
۱۱/۱۰/۱۳٤۷- سمنگان

# منظوم ليک

ای پردېسه محترمه
په امان اوسې له غمه

د ادب د بڼ بلبل يې
ته زينت د هر محفل يې

تاکې شته ډېر استعداد
تل دې اوسې ښاد آباد

نمونه د محبت يې
سزاوار د شفقت يې

ستا دي بکر ټول اشعار
ملغلرې شه ترې ځار

ته چې وايې حقيقت
دي شلاقې د عبرت

نثر هم دي ډېر اوچت
په کې ښکاري ستر قوت

هر اخبار کې ستا اشعار
تل خپرېږي وار په وار

په ملګرويې ډېر ګران
په رښتيايې قدردان

بې ريا دې رفاقت دی
خوندوره دې صحبت دی

زه (عسکر) يم ستا دوستدار
لورېږي غواړم اقتدار

سيدعبدالقيوم (عسکر)
۱۳۵۲/۱/۲۰

**يادونه**: داپورتنی شعر ارواح ښاد سيدعبدالقيوم عسکر، پردېس صيب ته ليکلی اومادسپين زر دجريدې له مخ نه دلته نقل کړی دی.

عرفات (پردېس)

# خپلې میرمنې ته پیغام

در لیږمـــه یـــو پیغـــام
خپـــل د میـنـــې تودکـــلام
خفـــه نـــه شـــې پـرې دلـــبرې
ای زمـــا ګرانـــې ملـګـــرې

لاس مـــې نـه رسي درتلـوته وزګارنـه یـم ستـا لـــیدوته
غـرو رغـوکـې مـې دیـره ده خـــواره زاره مـــې بشره ده
پاړو نشته چې مـې دم کړي دا دردونـه رانـه کـم کړي
ســـوزم زه پـــه اور د سرې ای زمـــا ګرانې ملـــګرې

زه بـــاور لـــرم پـــه تـــا
چـــې ملالـــه یـــې پـــه مـــا

خـدای دې مل اوسه مـــدام پـه اولاد دې کـــوه پـــام
ستـا بچي مې نـه هیـریږي تـل مې زړه بانـدې وریـږي
چې رایاده شـــي (چناره) پـه سیندګه شم بـــې اختیاره
رانـه هېرې شـــې ګـودرې ای زمـــا ګرانـــې ملګرې
صـداقـــت د (صـادق جان) چې مـا وتـاتـه دی عـیـــان
کـه شـو پاتـې پـه دنـیا بـیابه غـم نـه وي دتـــا
د (ایمـل) عـالي هـــمت دی مرهون ستا د خدمـــت
ستا زحمت نـه ځـي هـدر دا نیـالګي نیسـي ثمـــر

پوهه علم ور ایزده کړه
ټول بچي خپل دانسته کړه

بې علمۍ نه ګرځه لرې ای زما ګرانې ملګرې
متې بد وهه قوي شه پښتنه اوسه بې بې شه
لکه نر اوځه میدان ته ځان دې وسپاره سبحان ته
زما مه کوه غمونه په ما تېر دي اوس وختونه
یا به نن وي یا سبا غږ به ژر در شي زما
چې لیکم رښتیا خبرې ای زما ګرانې ملګرې
دا د خدای په ما احسان دی
چې مې تا سره ګذران دی

ته که ورېې که مړه یې په کاله کې خپل پرته یې
نه ګرځېږې لر او بر ته بهر نه ځې په چکرته
زه (پردېس) درته دعا کړم ډېر تحسین فخر په تا کړم
لوځه نه شې تر قیامته مدام اوسې با عصمته
درنه ځار خورېې ګوجرې
ای زما ګرانې ملګرې

۱۳۶۴/۸/۱ - نوې بغلان

# زه دا نه وایم

زه دا نه وایم تازه نه کړي شین خال
خال تازه کړه خو ما نه کړي پرې حلال

زه دا نه وایم چې مه کوه سینګار
سینګار وکړه مګر ما نه کړي قرضدار
زه دا نه وایم چې ماچوه لونګ
لونګ واچوه خو ما نه کړي ملنګ
زه دا نه وایم چې مه کوه فیشن
فیشن وکړه خو هېر نه کړې خپل وطن
په وطن کې نن غله نشته قحطي ده
د خوارانو غوښه بې اوره ستي ده
غلې ډېرې کړه وطن کې را پاڅېږه
د آیینې مخ ته تر څاښته مه درېږه
ټول سامان د آرایش واچوه اور ته
لکه نر مېړه راوځه کلي او کور ته

د وطن د خیر په چار ولاس په کار شه
(پردېس) وایي پس له مرګه ښه یادګار شه

۱۳۴۱/۹/۷

# د کلي حال

په دې کلي دي تول سرونه من
تنها زه په کې چارک وختم نن

په صحرا کې د ګیدړ د ځواب نه دي
په کورو کې هر یو ځان ګني تورزن

پخواني په کې لویدلي دي له واکه
اوس واکمن دي ،د دې کلي شوخیرن

نه د ځان او نه د بل په قدر پوه دي
اول نور او بیا زما د پلار زامن

(پردیس) وایي ګورمې جوړ ورنه جلا کړه
په دې خلکو باندې مانه کړې دفن
۱۳۵۱/۷/۱۳ـ کندز

# زماورونه

پېنځه ورونه لرم خواکې اوس يې اخلمه نومونه
تول زما ځني کشران دي راته ونيسئ غوږونه
يو مې ځوی د خپلې مور دی نوم يې دی زړورخان
غُصه ناک او تند سړی دی چاته نه پرېږدي ميدان
د لالا په نوم مې بولي نور مې نه رائحي په لار
دا د بيل فکر تابع دی زه د بيلو چارو يار
بل مې ورور غلام سخي دی مور يې ده مانه جدا
دا هم ما غوندې نوکر دی لري ښه خط و املا
رفيقان يې دي پرېمانه ما پرې کړی امتحان
خرڅ يې ډير آمديې لږ دی ورته پاتې يم حيران
بل مې ورور سميع الله خان دی پرې دي وي آفرينونه
کور په ده باندې ودان دی باسي ډير مُشقتونه
بل مې ورور عبدالغيور دی چې هرڅوک ترې کوي شور
مستانه مکتب نه خلاص شو ياديې نه دي سپين وتور
ورستی ورور زموږ آصف دی چې د عقل نه پياده دی
ښه اوبد ورته تول يو دي بيچاره بيخي ساده دی
که هر څومره سخت خفه وي په غيران دل آسان کيږي
ليوني، دی سديې نشته تل له ځان سره غږيږي
نور مې خپل واړه بچي دي چې په څه لا نه پو هيږي
که يو يې راته خاندي نور په سرو سترگو ژړيږي
اوسيږم چارده کې کور مې دی سرک نه بر
د درياب غاړه کې پروت يم د دنگ کمر په سر

۱۳۴۷/۲/۱

# دغاټول گل

د غاټول گله بيديا کې دې مکان دی
د قدرت لاس دې روزنه کې باغوان دی

غر دې نه خيژي په پټه خوله گويا يې
در سره دآرزوگانو ستر جهان دی

په څيره کې دې د حُسن دنيا ډوبه
سور ټټر دې دسرو وينو ترجمان دی

د دشتونو هر طوفان دې دی منلی
چې ليدلی دې ښارونو کې زندان دی

يو ساعته آزادي دې پاچاهي ده
که هزار ځله دې ژوند په بيابان دی

پس له مرگه که مې قبرباندې شين شې
دغاټول گله په مادې ډېر احسان دی

(پردېس)
۱۳۳۶/۹/۷ - کندز

# پخوانبه سره یاران وو

پخوانبه سره یـــاران وو
په یارۍ کې صادقان وو
خاطر جمعه له هر څه نه
دوه رښتیني مـینـان وو
دسپېڅلي عشق له مخې
معلوم داره په جهان وو
پتنگان دبلې شمعــې
دیـوه بــوټــې گــلان وو
ددنیاچړچې زموږ وې گرځید وېه خوا په خوا
اوسني غمونه نه وو څومره ښه وخت وپخوا
اوس که هرڅه داروگان خورم
لا زیـاتـیـږي رنـځ زمـا
بیر تـه نـه راځـي پـه لاس
هـغه تیـر وختـونـه بیـا
د برېښنا غوندې شـوه تیره
د بیغــــمه زړه خـــــندا

هوښيارانو دي ويلي
شته خندا پسې ژړا
ليوني غمونه راغله
ورته پاتې شوم تنها
دوه ګلونه دوه ملګري سره لاړو بيګانه شوو
چا افسون راپسې وکړ خيله خندپه زمانه شوو
زه نادار دی دنيادار شو
اوس يې لار خپل ونيوله
په احوال پورې مې خاندي
اخر دا ترې وختله
چې نادار يې ولیدمه
رابطه يې وشکوله
اوس دغور لستوني يار دی
زه (پردېس) وم له اوله
زر پرسته دا ياران شوه نور به زه پرې نه غولېږم
ياراني له منځه لاړې هرڅوک سود غواړي پوهېږم
۱۳۳۵/۱۲/۱۱ - کندز چاردره

# دپلاراختیار

چې د پلارلاس کې اختیاروزموږ
د دیرې تغر هواروزموږ
د هر سړي به احترام کیدهٔ
له هرې خوانه به پرې پام کیدهٔ
لس اوشل تل به میلمانه په موږوه
په میاشتومیاشتوبه پراته په موږوه
په کال کې څوځله ډمان راتلل
په ډلوډلوبه هندوان راتلل
د ملایانوخو دیره په موږوه
راټوله، ټوله چاردره په موږوه
تریو د دادا چاته تندي نه وو
بې مسافرو د ده ځای نه وو
له درمندو یې حق الله ویستله
دعشر برخه یې خامخا ویستله
تل د پیسو په ځای قیصې د ده وې
ستر مجلسونه مرکې د ده وې

اوس چې دادا غریب بوډا شو زموږ
هغه حیثیت لاړو تباه شو زموږ
خپلې غلې کورته په غلا راوړو
په تورو شپو کې یې تنها راوړو
دیرې نه لاړ تیر برکت زموږ
پخوانی نوم شان اوشوکت زموږ
په لویو ږیرو له میلمه پټیږو
د ښځو څنګ کې لکه غله پټیږو
دیره سپیره ده پلار حیران دی زموږ
وهي فکرونه پلار پریشان دی زموږ
شپږ په حساب باندې پوره زامن یو
و کړی باور ډیربیکاره زامن یو
د مشر کشر احترام نه ساتو
ژوندی د پلار ګټلی نام نه ساتو
که دغه حال وي ګور سو خته به شو
د خدای په لوی قهر اخته به شو

۱۳۴٦/٦/۱ ـ چاردره کندز

# په چا وتړم زړه

نه پوهېږم چې په چا وتړم زړه
په نادار که په دارا وتړم زړه

مخ بېدیاته کړمه لرې شم له خلکو
که په خلکو باندې بیا وتړم زړه

یویې ګوره مرور اوبل پخلا دی
مرور که په پخلا وتړم زړه

عامي یو څه ملا بل څه راته وایي
په عامي که په ملا وتړم زړه

دښمني له آشنایې نه پیدا کیږي
په دښمن که په آشنا وتړم زړه

ځان تسلیم کړمه دصبر زولنوته
که د مستې په خندا وتړم زړه

د هغه جهان اسره وکړم (پردېسه)
که په دې فاني دنیاوتړم زړه

کندز چاردره - ۱۳۵۱/۱۰/۲۹

# نشته

ښکته روان یم ترقي نشته
بخت مې کوڼه دی خُرمي نشته
منډې وهم ورسیدلی نه شم
په خالي لاس هدف ویشتلی نه شم
ځوی د غریب یم مربي نشته
ښکته روان یم ترقي نشته
څوک په تحفه څوک په دعوت پورته شو
څوک بیا له ما نه په رشوت پورته شو
چې وي دا حال دیموکراسي نشته
ښکته روان یم ترقي نشته
کار او خدمت مې ټول عبث وګڼه
که زه لایق یم هم ما خس وګڼه
چې راسره دیپلوم لفظي نشته
ښکته روان یم ترقي نشته
(پردیسه) ګوره جوړ مضمون نه کړې
د صداقت متاع بیرون نه کړې
په دې بازارکې مشتري نشته
ښکته روان یم ترقي نشته

۱۳۴۷/۲/۱۰ - کندزچاردره

# اموخته نه یم

په تحفه اوپه رشوت اموخته نه یم
په دوستی کې په خیانت اموخته نه یم

په ساده ملي لباس کې یم خوشحاله
په کمیس لکه جاکټ اموخته نه یم

آشنایي مې دهرچا سره ربښتیا ده
په دروغجنه رفاقت اموخته نه یم

دخپل کاردبنه انجام نه اخلم خوند
وظیفه کې په غفلت اموخته نه یم

تنهایي دجمیعت نه گنم غوره
په فساد دجمیعت اموخته نه یم

اصلاحي انتقادي شعرونه لیکم
داشخاصو په صفت اموخته نه یم

لکه باز په لوړ و غروکې یم لوی شوی
پنجره کې په ذلت اموخته نه یم

چوکۍ نه ساتمه کارکوُم مدام زه
په چړ چو دما موریت اموخته نه یم

سپین ته توراوتور ته سپین ویلی نه شم
په تلبیس دحقیقت اموخته نه یم

بوټ پاکي اوچاپلوسي مې یاده نه ده
دی قسم په دې خصلت اموخته نه یم

په خدمت دخلکو ویا ړمه (پردېسه)
د مخلوق په اذیت اموخته نه یم
سارباغ خرُم سمنگان - ۱۳۵۱/۱۲/۱۸

# دماحول وضعيت بدل شو

ورک په منډه لکه غل شو
نور دبرق لاړو ذايل شو

وارخطا شومه زه ډېر روژه ماتی مې شو هير
نه چراغ و اونه شمع ومه زه د برق په طمعه
تياره راغله سم دستي په کې گيرشوم ناڅاپي
را نه هير دتيبنتي چل شو
دماحول وضعيت بدل شو

دا مې بخت دامي تقدير دی جوړ په ما باندې سخت وير دی
آرام نه شو مه هيڅکله شوم لمبه لکه خزله
تل غمونه دي کړيږم له دردونونه خلاصيږم
راته پيښ عجيب مشکل شو
نور د برق لاړو ذايل شو

خاينانو غدارانو ظالمانو سود خورانو
ای د قوم وطن بد خواوو کړم زهير ستا سو ښيراوو
بس دی عفوه درنه غواړم نور له تاسو مټې نغاړم
راستي لاړه حق باطل شو
د ماحول وضعيت بدل شو

د روژې او ويـښـتـم پـاردی جـوړ پـه مـا دغـم نـا تـاردی
په تنهـا مـحل کـې نـاسـت يـم ربـه تـاتـه پـه درخـواسـت يـم
يامـې سـم ويـجـاړ دفـتـر کـړه يامې تـول د ژونـد تـغـر کـړه
د چـا ازار راسـره مـل شـو
نـور د بـرق لاړو ذايـل شـو

خدای دې نه کړي ستا په شان څوک ای (پردیسه) پـریشان څوک
عـزيـزان دې لـيـوني دي دښمـنـان دې ډيـر قـوي دي
خو بيـا هـم درتـه تحسين دی داسـتاعزم آهنـيـن دی
لـوی يـاد گـار دې داغـزل شـو
د ماحـول وضعـيت بـدل شـو
۱۳٦٤/۱۰/۵

# زه هم مدیر یم

زه هم مدیریم مګر خوښ مې مدیران نه دي
دا مدیران تول قصابان دي طبیبان نه دي

پاک الله دي ورته کار مه بندوه
څو دي توان وي ورنه لاره چپه وه
بې د بلې صیب قربان چې ما لیدلي
نور په هر انساني کار کې خدای وهلي
د مدیر معنا دا نه ده چې یابو وي
د چوکۍ له پاسه ناست خوشي کدو وي
د مدیر معنا قاموس کې هوښیاري ده
له قضیې څخه پوره باخبري ده
حواله مدیریتونه په سند دي
څوک یې نه پوښتي چې ښه دي او که بد دي
دیپلوم راوړه په سینه یې اویزان کړه
بیا مدیر یې ځه تمام کارونه وران کړه

وایي (پردېس) چې داسې څوک درنځ درمان نه دي
زه هم مدیریم مګر خوښ مې مدیران نه دي
۱۳۵۴/۱۰/۱ - سمنګان

# دخزان سیلۍ

دخزان سیلۍ په تاخت راغلـه چمن تـه
زه په منـډه شـوم روان دګل دیدن تـه

خوافسوس چې ګړنـدی بـاد دخـزان وو
څـوچې زه ورسـیدمه ګلـشن وران وو

پـه چمن کـې نـه ګـلان وو نـه سنبل
بلبـلان یـې پـه فـراق کـې ژړیـدل

مـا ویـل خدایـه د ګلبڼ وه څـه ګنـاه
چـې پـه لاس شـو د ظـالم خـزان تبـاه

پـه ګـلانو خـو دا بـاغ ټـول معـطر و
دا خـو سـتا د معرفـت عـظیم دفتـر و

دا مـې ویلـې زه ولاړ هـلته حیـران وم
په راتـلو خپل دغـه باغ تـه پښیمان وم

په ګلپـانو کـې نـه تـاب ونـه تـوان
ریـژیـدلـې پـه نـري بـاد دخـزان

چې ورپيښ په دا تالا والا بازار شوم
د پتنګ غونډې ستي په سره انګار شوم

چې ښکلا مې باغ نه تللې وليدله
دا خبره مې له خولې نه ووتله

ما ويل شته دی اخر هر څه ته زوال
بې له خدايه چې مدام دی په يو حال

مخلوقات له دنيا درومي پناه کيږي
بې له ښه نومه چې بيرته پاتې کيږي

که څوک ځير شي دا جهان ستر پوهنتون دی
يکې هر فصل جلا درس او مضمون دی

هغه څوک چې تيز نظر لري مدام
د موسم تغير نه ژر اخلي الهام

سخ زما په حال چې پاتې يم اوتر
د کال تول فصلونه ځي رانه هدر

اوس احتياج (پرديسه) زه سبا بيګايم
دا چې وروسته پاتې شوی له هرچايم

بغلان - ۱۳۴۶/۸/۴

# نه خوښېږي

دناصـیح څېـره مـې زشـته نـه خوښـېږي
د خـسیس سـرې مـې مرسـته نـه خوښـېږي

کـه د ننګ پـه تیغ حـلال شم خفـه نـه یم
دی قـسم وضـعه مـې پـسته نـه خوښـېږي
پیغلـې انجـونې د ځوانـانو سـره ښـایې
مېـره ځـوړ ښـځه مـې مـسته نـه خوښـېږي
بــې تنظیمـــه ادارو یــم زهیر کــړی
دوسیــه مــې بـې فهرسـته نـه خوښـېږي
د چــوکۍ لپاســه مــه کــښینه ببــر
سیاســت مــې نادرســته نــه خوښـېږي
غــوړه مــالي مــې یــاده نــه ده نپــوهېږم
صــفتونه مــې پیوســته نــه خوښـېږي
د غـدار او د خـاین نـه لـرې ګـر ځـم
صــورتونه مــې فاشیـسته نــه خوښـېږي

چــې دنورو خلکو حــال ګــورم (پرد یــسه)
افغانــان مــې پــاتې ورسـته نـه خوښـېږي
۱۳۵۱/٦/۱٤ -ایبک سمنګان

# ورنه تښته

بدبختي چې یوه قطره شي ورنه تښته
ځوان سړی چې لټیره شي ورنه تښته
چې دې خیر غواړي هغه دې ورور عزیزدی
جاهلان چې ورور او تره شي ورنه تښته
په مجلس د عالمانو کوه فخر
چې صحبت ارزه برزه شي ورنه تښته
شخصیت ملي لباس ته لري اړه
چې نیکر د چا جامه شي ورنه تښته
چې عمل یې مساوي د ګفتار نه وي
که اوچت په شان د غره شي ورنه تښته
حیاه داره ښځه وړ د احترام ده
کومه ښځه چې تېره شي ورنه تښته
د غرض یاري انجام مونډلی نه شي
چې یاري په سپین اوسره شي ورنه تښته
ښه الفاظ او ښه مطلب د شعر فراز دی
که اشعار ارزه برزه شي ورنه تښته
(پردیس) وایي په هغوی دی صدشاباس
چې شعرونو کې یې نه وي کم و کاس

ایبک سمنګان - ۱۳۵۱/۱۵/۶

# ښه نه کا

وظیفه کې چې سستي کوي ښه نه کا
چې خاین سره دوستي کوي ښه نه کا

بې تعلیمه لور او ځوی پلارته پیغور دی
چې د درس بې حرمتي کوي ښه نه کا

وکیلان چې نیول کیږي له دې قامه
د نا اهله چې پُشتي کوي ښه نه کا

خلک یو بل نه ځاریږي لکه ورونه
پښتانه چې تربګني کوي ښه نه کا

د یوې غوړې مړۍ لپاره ربه
ب خلک چې پستي کوي ښه نه کا

کوږ وری منزل ته نه رسي (پردېسه)
هر سړی چې غلطي کوي ښه نه کا

۱۳۴۴/۱/۱۵ - کندزچاردره

# ګمراه شوي سوداګر

که کیدلای په شپو او په کالر
کهکشان کې به اوس ما واهه چکر
په خبرو او وینا که وړاندې تللی
زه به اومه نن د ډیرو خلکو سر
د رادیو نه ګټه اخلمه مدام
مګر ساینس باندې بیا نه لرم باور
د ماشوم غوندې غلط نه شي په توتو
ای زړګیه فکر نیسه لراوبر
څو به ته په مخ څپیړې خورې دنورو
مساوات او عدالت نه شه خبر
دا وطن کار وخدمت غواړي له تا نه
د چوکۍ لپاسه مه کښینه ببر
په هیواد زموږکې ښخ دي دیرکانونه
نشته څوک چې داله خاوروکړي بهر
ډیر بې رحمه افتونه دي راغلي
توغکي مرض پرېښبود بال او پر
عزیزان د وطن واړه دي پریشانه
بې علمي د لاسه دي په زړه پرهر
لیلامي لباس که را نه شي دې خواته
نر او ښځې به شي پاتې لندغر
پښتانه مجنون راوړې دکتوراده

د لیلا په مخ یې نښته اوس نظر
په څمانو کې د نور وخلکو رنګ شو
رانه هیر شو دا خپل دود ملي کلچر
وارداتو د وطن ته فکر نښته
ګمراه شوي دي اکثره سوداګر
په سګرټو رانه ځي ښکلې قالینې
په پیسته باندې راوړو د مخ پوډر
موږ د ډېرې غیرتي خاورې ولس یو
دی ضرور چې شو د ښه عمل مصدر
د دنیا جاه او جلال دې غلط نه کړي
چې ژوندون د دې جهان دی زود ګذر
چې مخلص د ټول عالم یې ای (پردېسه)
ستا تاریخ به نوشته شي په سره زر
۱۳۴۸/۱۰/۸ - کندزچاردره

**يادونه:**

شجاعت د خوشحال خان رانه زړه وړی
شهامت د ایمل خان رانه زړه وړی
لکه شمعه اور يې اخلم د هر بيته
د رحمان بابا دېوان رانه زړه وړی
دی قسم په سپينه ږيره يې عاشق يم
کارنامو د صمد خان رانه زړه وړی
که جهان کرم پسې چاڼ پيدا به نشي
گران وزير محمد گل خان رانه زړه وړی
چې قانع يې په ميړانه پښتانه دي
ستر احمد او ميرويس خان رانه زړه وړی
د سيد جمال الدين ځای دي جنت وي
په ايمان دغه افغان رانه زړه وړی
کاشکې هره پېغله ځان په هغه شان کړي
ملالی په ډېر ارمان رانه زړه وړی
د وطن تاريخ به وياړي پرې (پردېسه)
د داود غونډې انسان رانه زړه وړی

۱۳۵۳/۱۰/۲۹-کندز چار دره

# وګورئ

حال د دوا او د ډاکتر وګورئ
د مریضانو جوړ لښکر وګورئ

وجود مې کوم طبیب ته وښایمه
ما به آخر خاورې په سر وګورئ
له ناچارۍ نه سپیلني دود وم
داغ مې له پاسه په ځیګر وګورئ
خلک علاج په فني شکل کوئ
مالاعلاج پروت په بستر وګورئ
ډاکتر د قوم په مخکې ځان وژني
په ما تندک د کمپوډر وګورئ
تورو تیارو د جهالت کې پروت یم
د خروج لاره راته ژر وګورئ

وايي (پرډېس) طبي پيشرفت که دا وي
له دې پيشرفته ما منکر وګورئ
۱۳٤۹/۱۱/۱۲ - چاردره دسیند غاړه

## ښه دی

د بل موټر نه خپل یابو ښه دی
پردي پلو نه خپل کړو ښه دی
چې ځان هوښیار گڼي او دروغ وایي
داسې هوښیار نه بیا گلو ښه دی
قام او وطن ته چې پکار نه شي
هغې ککرې نه کدو ښه دی
د لیلامي ښکلي پتلون څخه
خپلې خمتا نه جوړ برزو ښه دی
(پردیسه) خیر د هر یو دوست غواړه
دښمن په سیندباندې لاهو ښه دی
۱۳٤۹/۱۱/٦-کندز

## فکرکې نه یم

د پیسو د ډیرو دو فکر کې نه یم
د خپل ځان د جگیدو فکرکې نه یم
عدالت او مساوات غواړم نړۍ کې
د تربور د ورکیدو فکر کې نه یم
په راستي او صداقت باندې چلیږم
د هیچا د غولیدو فکر کې نه یم
د قومي چوپړ لپاره ډیر څه لیکم
د شهرت د خپریدو فکر کې نه یم
د قلم په شرافت خورمه قسم زه
د خپل څټ د غتیدو فکر کې نه یم
پخپل شکل ښرگند یږمه (پردیسه)
د څیرې د بدلیدو فکر کې نه یم
۱۳٤٦/۲/۸ -کندز چاردره

# څه کووم

د حق تبلیغ چې نه کوي هغه ملا څه کووم
ملي صفت چې نه لري هغه آشنا څه کووم
د خمنځکي غوندې پنډ مظلوم ازار انسان
توبه توبه له دې بلاه دغه بلا څه کووم
ایشان تمامه چاردره په دروغو درب وخوري
زه دې زړه وینې په کې خورم دا بزرگتیا څه کووم
باران وهلي شرمخان مخ په شورا روان دي
چې له لیوانو شي راجوړه دا شورا څه کووم
گرانه وطنه د اولس مگر اولاد نه دی ستا
عجیبه چارې درکې کړي ورته ښیرا څه کووم
اروپایې نوي نهضت ترې پرتوگونه ویستل
که اعتلا د ژوند وي دا، دا اعتلا څه کووم

(پردېسه) خپل ملي دستور ته په درنه گوره تل
چې قومي مینه په کې نه وي ستاوینا څه کووم
۱۳۴۴/۵/۵ -کندز

# ناكراريم زه

آرام مې نشته ناكراريم زه
په تن زهير په زړه بيماريم زه
زر، به خالص په كې پيدا نه كړې
څو چې زرگر د دغه ښاريم زه
ځار د ولور ډېرو پيسونه شم
لونې مې خرڅې كړې تجاريم زه
دوه ښځې كوركې راته ناستې دي
اوس د دريمې طلبگاريم زه
لس منه تول كې من ضرور وهم
د منډه يې ترازو داريم زه
پلار مې په گوډيابوسپورشوی نه وو
نن گرندي موټر كې سواريم زه

(پردېسه) دا رښتيا وينا چې كووم
لكه منصور آخر په داريم زه
۱۳۵۱/۱۰/۵ - سمنگان

# نه غواړم

بقا د قام غواړمه زر نه غواړم
په اخلاص وياړمه غدر نه غواړم
د غله په شان د خلکو جيب نه وهم
يم مسلمان د چا ضرر نه غواړم
د خرونو شا ته به هرګز نه ورځم
هم مخکې تګ د ستمګر نه غواړم
دتر انسپورت چارې چې سمې نه شي
پياده به ګرځمه موټر نه غواړم
پيسې په ډاګه ولې ورکړمه زه
د ترافيک منت په سر نه غواړم
په لوی ښبښتن به مې خپل ځان وسپارم
ګوهر د اوښکو مې هدر نه غواړم
په تش تپاک چې ساده ګان غولوي
له خدايه زه داسې هنر نه غواړم

(بردبسه)خپل داځور بوريا مې ښه دی
ناسته د ظلم په تغر نه غواړم
۱۳۴۴/۸/۷ ـ کندز

# ښه وي

د چار درې علاقه داره ښه وي
قسم دی ته ورنه زرواره ښه وي
تا په بوۀ شلگون گذران کولو
دا په زرهاو رشوتونه غواړې
د تا په دورکې قانون نه وو
ده دقانون سیوري کې خلک چورکړه
تا خود هر چا احترام کولو
د ابې غیرانه د چا مخ نه گوري
ته څوکرت له دې ښاماره ښه وي
د چاردرې علاقه داره ښه وي
د ده په عصرکې قتلونه کیږي
د تا په وخت کې کراري وه دلته
د ده قاضي وږی لیوه دی گوره
د تا کاتب په یولسگون خوښ وو
دادي خدای واخلي دې اولس نه بیرته
یادونه ستا دې تل په خیر وي گرانه
ته کوتک مار له دې غداره ښه وي
دچاردرې علاقه داره ښه وي

۱۳٤٤/۲/۱۲ - کندز چاردره

**یادونه**: داشعرهغه وخت لیکل شوی چې چهاردرې له علاقه دارۍ نه ولسوالۍ ته ارتقا کړې وه اونوي ولسوال ډیرخلک له ځانه خفه کړي وه.

# په ما ګرانې چاردرې

په ما ګرانې چاردرې واوره قیصه
پس له دې نه له چا مه کوه ګیله

سرکونه به دې جوړ شي فرعي
همېشه به درکې نه وې تاریکي

عاقبت به دې سبا شي توره شپه
په ما ګرانې چاردرې واوره قیصه

ظالمانو ځنې مه کوه نور ډار
لرې ما غوندې شاعر مخکې بیدار

یاداشتونه به دې ټول کړم نوشته
په ما ګرانې چاردرې واوره قیصه

وایي سیند له پاسه پُل درته جوړېږي
کاریې هم په نږدې وخت کې شروع کیږي

جوړه شوې لا پخوا، د پُل نقشه
په ما ګرانې چاردرې واوره قیصه

مشعلونه د معارف د رکې ډیر بل دي
خلک واړه اوس د علم په تکل دي

ستا مکتب به ژر بدل شي په لیسه
په ما گراني چاردرې واوره قیصه

څو ودانه وي دنیا اوسي ودانه
د معارف بڼ دې خدای ساته له خزانه

د (پردېس) دغه دعا ده همېشه
په ما گراني چاردرې واوره قیصه

۱۳٤٤/۱۰/۱۱ - کندزچاردر

# سودخور کاکا

ستـرګې راواړوه ســود خــور کاکــا
ورځ مـې ترخــه ده غــواړم پورکاکـا

بچـي مـې وږي دي مـړې غــواړي
انســاني ژونـد پـه دې نـړۍ غـواړي
طـالع دي سستې حـال اوتـر دی زمـا
نغـری ســوړ مـاښام سحــر دی زمـا
اوښـکې مې څاڅي د باران غـوندې
هیڅـوک مې نه ګڼي انسان غونـدې
هـر چیرتــه ځمــه وهــل کـیـږمــه زه
پـردي خیـرات نـه شـړل کیـږمــه زه
څـوک مـې پـه سرباندې وارونـه کـوي
څـوک راتـه ورک شـه خطابونـه کـوي

څوک مې شړي، سوزي په اورکاکا
سترګې زاواړوه سود خور کاکا

کال ته روپۍ دې يو په دوه واخله
ګټه دې ما نه بنه پوره واخله
يمه مجبور د لاس خواري نشته
واورې پرتې دي غريبي نشته
که پور رانه کړې تباه کيږمه زه
د اهل بيت سره غرقيږمه زه
د کور په څنګ مې بدايان پراته دي
څومره بې رحمه انسانان پراته دي
بې له پيسونه بل بازار نه لري
ځای د پيسو کې مور اوپلار نه لري

افسوس په داسې کلي کور کاکا
سترګې راواړوه سود خور کاکا

دوه زره راکړه درې سند واخله
که شوم انکار بيا رانه بد واخله
سند (پرديس) باندې ليکلی دی ما
دا دی له ځان سره راوړی دی ما
نه پکې عذر او حيله کومه

په صـــداقـت دا اقـــــراره کومـه
لاندې ځمکه پاس آسمان ګواه دی
په دې بيان مې ځوړ او ځوان ګواه دی
نــوم مــې تــوره ځوی د جوره يمه زه
مــعــلوم پــه تـولـه چاردره يمه زه

ولــړه مــې وژنـي پلار او مــور کاکا
سترګې راواړوه ســـود خـــور کاکا
۱۳۵۱/۱۰/۲۲ - کندز چاردره

# ګډه اعلامیه

یوه ورځې را روان ومه په لاره
را وتلی لږ ناوخته وم له ښاره
چاردرې خواته راتلمه په تلوار
له دوستانو سره نه شومه حصار
چاردره د سیندپه غاړه کې پرته ده
د کندز د سیمې ښکلې منطقه ده
ولې نه ده د کندز غونډې ودانه
چاردره غریبه پاتې ده پسمانه
هروخت زه چې ورته ګورمه ځوریږم
دی قسم د چاردرې په حال ژړیږم
په دې فکر کې راتلم نه وم خبر
چې لیوه را باندې پیښ شو داړور
ژر ترې زه شومه د لوخو منځ کې پټ
چې له ویرې نه مې نه ګراوه ځټ
تقدیر ګوره څو چې ما پورې راتللو
یو ګیدړ یې د پُل خواکې ولیدلو
غږ یې وکړو پرې ګیدړه ودریږه
څو پوښتنې درنه کړمه مه ډاریږه
ګیدړ ودرید له ویرې ځوړند سر
د لیوه پښو ته پریوتو ډیر ژر

په مرو سترگویې ویلې څه خدمت دی
دا بنده کمربسته په هر ساعت دی
لیوه ویلې تشکر گیدړه وایه
په دې تور ماښام کې راغلې له کوم ځایه
گیدړ وویل چاردره کې اوسیدمه
وږی تږی په کې زه تل گرځیدمه
نن خبر شوم چې په سیند یې ایښی پُل دی
ځم د پله نه آخوا گورمه څه چل دی
پله نه آخوا (خاکنی) ته یم روان
پس له دې نه هلته نیسمه مکان
خاکنی سره دی لند د کندز ښار
هره شپه به په کندز کې کووم ښکار
په بېغمه زړه به هلته کړم وهنه
وایي نشته په کندز کې هیڅ پوښتنه
هوټلیان یې تول له څیرمې ظالمان دي
څوک یې لاس نیولی نه شي بلاگان دي
بې کنترولہ دي.روان په کې نرخونه
ځمه هلته څو موده کووم عیشونه
لکه زما په شان پرېمانه گیدړان
اورم زه چې هلته دي کلانتران
څه چې غواړمه هغه په کښې کوای شم
په دې ښار کې ښه بیغمه اوسیدای شم

لیوه وویل ای ګیدړه ته دانایې
رښتیاوایه چې تیرایستی دلته چایې
هغه ښارکې چې ګیدړوي کلانتر
عاقبت هلته پیښږي به خطر
هغه ښارکې چې د نرخ نه وي پوښته
هلته کله مناسب ده اوسېدنه
راشه ماسره جوړه ګرځه مدام
چاردرې نه بهر وانخلې یوګام
دې ولس کې پاتې نه دی تاب اوتوان
زه به یې میږې ما تومه ته چرګان
کلیوال دي نه دیوال لري نه ور
هرې سیمې ته ورتلای شو زړور
که هر څومره څه ترې وخورو پیدا کیږي
د دې خلکو په فریاد څوک نه رسیږي
ګیدړ ویلې زه دې ځار شم قهرمانه
که دا حال وي چاردرې نه نه ځم ګرانه
لیوه وویل په خندا مه کړه غمونه
د رمو به درته وباسم بېخونه
ګیدړ وویل ته په ځای کوې ګفتار
څه چې وایې شې کولی هغه کار
شوه خوشحاله دواړه لاړه چاردرې ته
په شریکه باندې ګډ شوه یوې رمې ته

ډيرې ميرېې يې تباه کړې توره شپه کې
هم يې شپون غريب کړوځيرې يوه شيبه کې
په سبا يې بيا خبر شوم هسې شان
هغه کلي ته راغلي پوليسان
قاتل غواړي د شپانه خلک پرېشان دي
کوروکلي باندې ناست سخت محصلان دي
په آخر کې هغه لاړه تر زندانه
ځوک چې وه په دې ولس کې بې غيرانه
نه والي نه څارنوال وکړه پوښتنه
نه قاضي اونه اعضا شوه پرې غمجنه
بې گناه خلکو ته ولويدې کړېه
چې به چالېدلي نه وي په نړېه
دا دولت او دايي لويه غور رسي ده
تش په نوم دلته پرته ديموکراسي ده
که تباه شي تبول ملت نشته پرسان
خوشې شوي په رموکې دي ليوان
ته (پردېسه) ورته مه کوه غمونه
دا مخلوق دايې دنيا دايي کارونه

۱۳۴۷/۱۰/۱۹ - چاردره کندز

داشعردچهاردرې دسيند دپله دافتتاح په مناسبت ليکل شوی چې دهغه وخت حاکمانو کله دا شعر واريد پردېس صيب يې يوځوساعته زنداني کړ.

## گرانه (پردېسه)!

سږکال زماسره سفر او ستړیا ملګري شوې ،پوره دوه میاشتې مې دبدخشان په کشم کې تیرې کړې کله چې چارډري ته راغلم دلته خبرشوم چې دپُل دافتتاح په محفل کې ستا زړه جوړونکې وینا اواشعارو دمرتجعیونو اوچاپلوسانوزړونه مات کړي اوډیره بده اغیزه یې پرې کړې وه اویوڅوساعته موتکلیف تیرکړی دی، ګرانه قام روزل وطن پالل خوداسې چارې هرومرو منځ ته راوړي، مخالفین کوشش کوي چې داجتماعي نهضتونو مخه ونیسي خوهیڅ نه شي کولای یوائې خپل ځانونه شرموي اوبس. خدای(ج) دې تل موفق اوسرفرازه لره څوک، چې خبرشوي دتاسوڅخه ډیره خوشحالي کوي ، نیک نامه اوسې.

په درناوي

ستاورور محمدخان (سایل) خوګیانی

## پردېسه

پردېسه ستا په لوړ وهیلو لوړ همت آفرین
د قام سره په پاکه مینه محبت آفرین
مرتجیعین رشوت خواره درته غابنونه چیچي
چې ورنه ویره نه لرې ستا په طاقت آفرین
دې زمانې ستاپه اوضاعوکې بدلون را نه اوست

ډير خاينان دي کړه رسوا ستا په هويت آفرين
د قام په مخکې ولړې تندې اوجېلونه شته دي
چې قبول دي کړه دا ټول ستا په غيرت آفرين
نه د (پرگل) نه شوه پوره نه د (محمود) دلاسه
چې آخر دوی شوه درته خپله ملامت آفرين
ستا په وجدان پوره اخلاص د قام خدمت سره
د خاينانو په پستی اولجاجت آفرين
خدای به دې ساتي يارودوست درته دعا کوي تل
ستا د قلم د نظم او نثر په قوت آفرين
چې ويده قام بيدار وې ښه مستقبل لپاره
وايي (سايل) چې ستا په هاند اوصداقت آفرين

**يادونه**: پرگل دکندزدژاندارم قوماندان اومحمودحبيبي دکندزوالي و.

# ځوانان تللي

ځوانان تللي بوډا ګان پاتې دي
د دهقانی کارونه وران پاتې دي
په سپینه ګیره (ملیح خان) ګرځي
بیل په اوږه غریب حیران ګرځي
یو خوا پخته دده غویان خوري
بل خوا د شولو ډیرارمان خوري
سږ کال باران دی دهقانان اوتر دي
له خیر مې تول شالي کاران اوتر دي
دجر له پاسه ډیر ځوانان پاتې دي
د دهقانی کارونه وران پاتې دي
سږکال خارج ته ډیر سړي لاړه
له عیسی خېلونه ډلګي لاړه
غرمه تېپې نه لرخابي ووتل
ډیر ازبکان تجارتي ووتل
په خروټیانوکې (سورګل) پرېښود
غریب ناچارشوکوریې خپل پرېښود
(حاجي حضرت) او (عیسی خان) پاتې دي
ناست په ډینګک لکه کارغان پاتې دي
وايي چې هلته کاراوبارښه دی
دافغاني ځلمو روزګارښه دی
چې په وطن زموږ کې کار نشته
وخوره اوممره بل روزګار نشته

خلک ناچاره دي مرې غواړي
انساني ژوند په دې نرې غواړي
ځینو پاسپورت کړی قطرته وځي
له مجبورتیا نه لوی سفرته وځي
ځینې په ډله ځي ایران ته درومي
کویټ ،بحرین،عربستان، ته درومي
زما هم زړه دی نن سبا به اوځم
دګران وطن نه خامخا به اوځم
بچي مې اوس لانګران پاتې دي
د دهقاني کباړونه وران پاتې دي
وطنه تابه سود خوروته پرېږدم
بس تا په زه قرآن خوروته پرېږدم
ستاپه دفترو کې رشوت چې وینم
ډیر یم خفه دغه حالت چې وینم
وطنه واوره داخبرې ځم
داستا له غیږنه چیرته لرې ځم
دادی روان یم خدای په امان وطنه
دخدای په امان ځار او قربان وطنه
هلته به راشم چې قوت پیداکړم
په خپلو متوکې طاقت پیداکړم
چې تاکړم خلاص دظالمانو څخه
انسان وژونکو قصابانو څخه

رومــوکـــې ستـــا رانـــه لیـــوان پـــاتې دي
ددهــقانـــــی کـــارونـــــه وران پـــاتـــې دي
دخـــدای پـــه امـــان وطـنـــه ځـــم درنـــه
څـــوورځـــې ځـــان پـنـــاه کـــووم درنـــه
ستـــرې بـــکـــواه تـــه دي سـلام کـــووم ځـــم
پـــامـــیـــره تـــاتـــه احـتـــرام کـــُوم ځـــم
دهـــریـــرود لـــــه غـــور ځنـــگونه دې ځـــار
وچـــو دشتـــو مـــستـــو سیندونه دې ځـــار
شینـــــکي بـــاغـــونه دي خـــزان پـــاتې دي
ددهقـــانــــی کـــارونـــــه وران پـــاتـــې دي
وطـنـــــه زه درنـــه کـــوم خـــواتـــه ځـــم
کـــه لار پـیـــد اکـــړم اروپـــاتـــــه ځـــم
خـیـــردی کـــه تـــیر هـــلتـــه وختونـــه کـړم
پـــاک دپـــردو خـلـــکـــو قـابـونـــه کـــړم
دومـــره بـــه نـــه یـــم خـــوار اوزار هــلتـــه
قـــدر عـــزت شتـــه دی دکـــار هـــلتـــه
داســـره لـــیوان بـــه هـــلتـــه زه نـــه وینم
پـــه ادارو کـــې بـــه نـــاســت غلـه نـــه وینم
نـــه بـــه تـــرویـــج نـــه بـــه کنتـرول داســې وي
نـــه خـــایـنـــان بـــه ناســت پـــه تـــول داســې وي
وایـــي (پـردیـس) چـې خاینـــان پـــاتې دي
ددهـــقـــانـــــی کـــارونـــــه وران پـــاتې دي
۱۳۵۶/۸/۸ - چاردره کندز

# پیسې نشته

د پیسو په طمه، طمه پیسې نشته
ورځ کې څوځله ورځمه پیسې نشته
سږ کال ما غریب کرلې وه پومبه
نه سنار وربانديې جوړ شونه حبه
په سپین زر کې رانه لاړله نسیا
د یو کال خواري عبثه شوه زما
قرضداران راپسې ګرځي ډلې ډلې
د پختې پیسې مې نه راخیژي ولې
د پښو نه ولویدمه پیسې نشته
ورځ کې څوله ورځمه پیسې نشته
څوک مشران نه پیژنمه خوار دهقان یم
بې موجبه بې سببه سر ګردان یم
چاته ورشم چاته تیر کړم دا بیان
سږ کال ما غریب و نه لیدیو غیران
نن ورځه سبا ته راشه غولوي ما
د قوچان پانه په لاس کې ځغلوی ما

خپل گریوان زیاتي شکومه پیسې نشته
ورځ کې څو ځلې ورځمه پیسې نشته
که دا حال وي کال ته نه کرم پخته
ما په شوق قبوله کړې جریمه
د پختې کر به ونکړم په قسم زه
د پختې په ځای به وکرم شلغم زه
سړی پخته زما، نه شوه پخته
ډیر و مندو نه یې زه کړمه خسته
سر تندی پسې وهمه پیسې نشته
ورځ کې څو ځلې ورځمه پیسې نشته
بستره کې چې آرام شمه دشپې
راته ودریږي عجیبه اندیښنې
نه غوړي په کورکې وینم نه غنم
ماله خوبه کړي راجیګ د لوږې غم
بیا له ځایه را ولاړ شم هغه آن
ژر له جیبه را بهر کړم خپل قوچان
خوشې ځان پرې غولومه پیسې نشته
ورځ کې څو ځلې ورځمه پیسې نشته
تنها زه بد مرغه نه یم چې کړیږم
په سونو دهقانان وینم ځوریږم

قوچانونه یې شړیدلي په لاسو کې
پیسې نشته یو غیران په خزانو کې
نپوهیږم چې دا ولې داسې کار شو
دسپین زرشرکت دکوم درک نه خوار شو
دا علت معلوم مه پیسې نشته
ورځ کې څو ځلې ورځمه پیسې نشته
په کاله کې مې نه جنس اونه نغده وه
لویه هیله مې همدا سپینه پخته وه
هغه هم هوا ته وخته عنقا شوه
په نسیایي رانه یوړه د بل چا شوه
نور له دې سیمې نه ځمه تباه کیږم
د حکومت مشر ته ځمه وړاندې کیږم
عرض (پردېس) باندې لیکمه پیسې نشته
ورځ کې څو ځلې ورځمه پیسې نشته

۱۳۴۳/۲/۲۸-کندز چهاردره

# د پختې ګله

چې سبب د ګران وطن د ارتقايي
د پختې ګله رښتيا سپينه طلايي
که دي مري که ژوندي په تا پتيږي
ستا په سر پرده د هرچا ساتل کيږي
د وطن ډيرو، دردونو ته دوايي
د پختې ګله رښتيا سپينه طلايي
جمبيلي خاش خاش رامبيل دې نوکران دي
څورند سر درته باغونو کې ګلان دي
مستقبل ته د خوارانو په خندايي
د پختې ګله رښتيا سپينه طلايي
چې له خاورې سر را وباسې راشين شې
د دهقان غمګين زړګي لره تسکين شې
قدرمنه لکه بوټی د کيميا يې
د پختې ګله رښتيا سپينه طلايي
(پرديس) وايي ستا په مينه کې أشعار
ستا په سپين مخ دا غريب دی ګرفتار
له احواله د ده ولې بې پروايي
د پختې ګله رښتيا سپينه طلايي

۱۳۴۳\۲\۲۸- کندز چهاردره

# پښتې

ورک کـــړه ادبـــار پښتـــې
لـــه دې دیـــا ر پښتـــې
د ګلـــو لـــښته آزرده نـــه کـــړې
ماشـومه خـور یـې هـم خفـه نـه کـړې
پـه تـرازوکـې ښـه درنـه خیـږه
ویـره ونـه کـړې پـښتنه خیـږه
د کنجـاړې بـازار دې ګـرم سـاته
غـوړي همـیش خلکـو تـه نـرم سـاته
پـه دې خبـرو ګیلـه منـه نـه شـې
نـوره د هـر خـائین چینـه نـه شـې
خـائین تـه پـړی شـه د دار پښتـې
لاسـونه نیـسه د نـادار پښتـې
اوچـت ګامونـه پـه مـزه واخلـه
د خـدمت سـتره جـایزه واخلـه
پـه یـاد خـواري د بـذګرانو لـره
فکـر همـیش پـه دې خوارانـو لـره
د چـا تـنه او د چـا مـټ قـوي کـړه
خپـل اقتـصاد ملـي بنسټ قـوي کـړه
بقـا د قـوم تـه یـو څـه پـام وکـړه
د خـوار غـریـبو احـترام وکـړه
وایـې (پـردېس) دغـه ګفتـار پښتـې
خـائین تـه پـړی شـه د دار پښتـې

کندز چهاردره - ۱۳۵۰\۹\۲۲

# منی راغی

منی راغی پانې توی شوې د پختې حاصل ټولیږي
داحاصل به ټول جلاب وړي بذګر تش لاس پاتې کیږي

د بذګرطالع ویدې دي پخته ځي ورنه سلم کې
داخوار هیڅ خوشحاله نه شوتل یې ډوب وینم په غم کې

که احوال یې ټول بیان کړم څه کسان پرې خفه کیږي
منی راغی پانې توی شوې د پختې حاصل ټولیږي

که پخته نه وای دنیا کې مړ و نه موندو کفن
د پختې له برکته ژوندي اغوندي چپن

پخته سپینه طلا ده قوم پرې خاورو نه پاڅیږي
منی راغی پانې توی شوې د پختې حاصل ټولیږي

زه (پردیس) ډیر اندیښمن یم چې پخته را نه خفه ده
نـنواتي مې پختې تـه نن لیکلې داپارچه ده

پخته ما سره پخلا کړه ای ملګروخت تیر یږي
منی راغی پانې توی شوې دپختې حاصل ټولیږي
۱۳۴۷\۹\۲۲چهاردره -کندز

# دغه پخته ده

چې لري ډېر اعتبار دغه پخته ده
چې ساتي ملي وقار دغه پخته ده

صفتونه دي پراته په کښې بې حده
چې جوړېږي ترې اسعار دغه پخته ده

د وطن دخير لپاره په کار يږي
چې لري اوچت بازار دغه پخته ده

کنجاره يې ښه غذا ده هر څاروي ته
چې ډاډه دي پرې مالدار دغه پخته ده

ډېرې خيټې يې دي غوړې په غوړيو
چې خواران يې کړه تيار دغه پخته ده

دبذګر دمتو زورنه دی نو څه دی
چې وهي دعروج لار دغه پخته ده

د (پردېس) دشاعرۍ په خوږ دفتر کې
چې ياد شوې په باربار دغه پخته ده

۱۳۵۶\۱۰\۲۸ کندز ـ چهاردره

# د پښتې سره خواله

له تانه ځار له تا قربان پښتې
چې وي خائين نه دی افغان پښتې
ملي وقار ته پاملرنه وکړه
د خپل مشروع حقوق غوښتنه وکړه

د تقلب تله کې مه تله خپل ځان پښتې
چې وي خائين هغه ته مه وایه افغان پښتې

نماینده هیئت سورچې خواره کړې
د سپین میدان منځ کې جوالي خواره کړې

ژبه مې سوزي ویلی نه شم ټول بیان پښتې
چې وي خائين هغه ته مه وایه افغان پښتې

نه دې فني مشاورت صادق دی
نه دې کاتب نه دې هئیت صادق دی

تحویلداران دربان‌دې لاړه ترآسمان پښتې
چې وې خاین هغه ته مه وایه افغان پښتې

غــــوړي دې تـــــل زوروران وهـــــې
صـــابون دې تـــول قـاچاقبران وهـــې

پـه کنجاره دې لـوبې کانـدي جلابـان پـختـې
چې وي خـائين هغـه تـه مـه وايـه افغـان پـختـې

وايي (پـرديس) چې گرځندی غــوندې شـه
د غلـيم غـاړې تـه زنـدی غــوندې شـه

کـه داسې وکړې داوطـن بـه شي ودان پـختـې
چې وي خـائين هغـه تـه مـه وايـه افغـان پـختـې

۱۳۵۶\۱۰\۲۸-کندز چهاردره

# د پختې د چینک ننداره

پــه پخــته بانــدې اشــر دی
تــه بــه وایــې چــې اخــتر دی

تــورې ســترګې دنګــې غــاړې
د چــینک پــه لــوري لاړې

غــوځ زمــا پــسې ځیګــر دی
پــه پخــته بانــدې اشــر دی

د ملــي تولــید صحــنه ده
ډیــره ګــرمــه هنګامــه ده

لــوی کیفــت پــه کــې مــضمر دی
پــه پخــته بانــدې اشــر دی

د چــاردرې پیغلــې دې ښــکلې
د پخــتې شــول تــه راغــلې

تــول محــیط پــرې مــنور دی
پــه پخــته بانــدې اشــر دی

څـــوک ورېږ څـــوک بـــوڅکۍ دی
څـــوک (پردېـــسه) نـــاوکۍ دی

ورنـــه ځـــار مـــې مـــال اوســـر دی
پـــه پخـــته بانـــدې اشـــر دی
۱۳۴۸\۸\۹ - کندز - چهاردره

# پخته

پـالـنه د پخـتې مـې افـتـخار غـونـدې ده
ټولـه چـاردره ګـل و ګلـزار غـونـدې ده
پخته چې کله بار کړم سپین زر ته شم روان
لــه وېـرې نــه رپـېږم لکـه پاڼــه د خــزان
قوماندان نه یم بذګر یم د چا ونیسم ګـریوان
زنده ګي خو په دې بنه ما ته عار غـونـدې ده
ټــوله چـاردره ګــل و ګلــزار غـونــدې ده
پیسو ته د پختې مې قرضداران ناست دي په طمعه
بیرته مې په کورکې ماشومان ناست دي په طمعه
ماشومانو سره جوخت بوډاګان ناست دي په طمعه
وضـعه د پختـې خـو رقـت بـار غـونـدې ده
ټوله چـاردره ګـل و ګلــــزار غـونـدې ده
پخته کې مې په دغه شان تاخیر لیدلی مه وای
بذګر مې د پختې په سر زهـیر لیدلی مه وای
د پختې په معامله کې مې توپیر لیدلی مه وای
چې دهقان یمه پخته مې سرُت چار غوندې ده
ټولــه چــاردره ګــل و ګلزارغونــدې ده
پختـه خو تـل مرهـونـه ده د نیکې معاملې نـه
پختـه د هر خائین په خوله وه نه باسې سبتې نـه

پخته په امن ساته د جلاب د هاضمې نه
پخته په رسمي تله کې په ډار غونډې ده
ټوله چارده گل و گلزار غونډې ده
پخته چې څنگه سپینه ده سیاهي نه خوښوي
پخته د چا په مخکې ځان داغي نه خوښوي
چې سمه وچه نه شي حلاجي نه خوښوي
پخته ده چې مدام ضد، یې اد بارغونډې ده
ټوله چارده گل او گلزار غونډې ده
په نرمه گرمه وضعه د پختې خورمه قسم
که ما ته نوبت راغی ژر به وخورم ددې غم
پخته مې نوره نه پریږدم چې شي درهم برهم
د دې وخت حاکمانونه آزارغونډې ده
ټوله چارده گل و گلزار غونډې ده
ترڅو به دا پخته غریبه وي په کشت اومات کې
جفا ده چې پرته وي په میدان د برد و باخت کې
پخته څنگه راغلې زموږ نه انحطاط کې
پخته قومې تعمیر ته د معمارغونډې ده
ټوله چارده گل و گلزار غونډې ده
په نورو ملتوکې دپختې کوي ډیر قدر
په مینه ددې سترې سرمایې کوي ډیر قدر
بشر د دغې سپینې پا غونډې کوي ډیر قدر

ملت ته لا زموږ د سترګو خار غونډې ده
ټوله چاردره ګل و ګلزار غونډې ده
پخته اوله دلته لندني راغله میدان ته
د (شیر خان) په حاکمیت کې ناڅاپي راغله میدان ته
د دغه ستر انسان په مساعي راغله میدان ته
که وشي تري تپوس پخته اقرار غونډې ده
ټوله چاردره ګل و ګلزار غونډې ده
پخته د کیمیاوي سرې په زورلاړه آسمان ته
پختې د دې نړۍ خلک حیران کښینول ځان ته
پختې یو ستر بدلون و انقلاب راوړ وجهان ته
(پردیسه) د پختې بنه دیارغونډې ده
ټوله چاردره ګل و ګلزار غونډې ده
کندز چاردره - ۱۳۴۸\۹\۱۷

# چاردره کې

نــه وکیــل اونــه ولــسوال ووچــاردره کــې
بې حسابه ډیر بــه حـــا ل و و چـــاردره کې

چاردره چې په تشکیل کـې و لسـوالي شـــوه
ورنـه هیره د پخوا وخـت خـو شحـالـي شـوه

چې ترې ورک هغه غـریـب عـلا قه د ا رشــو
د چاردرې ولـس هغه گړی کـې خـوار شــو

چـــې قاضــي راغـــی پیـــدا شـــو څـــارنوال
چاردره کې قـو م بـې تـیغـه شـو حـــلا ل

پخوا ناست بـــه دلـــتـــه یـوکـاتــب دچارو
قناعـــت ددې کاتـــب ډیـــرساده کـــارو

نـن مالیـه ده تحـصیلي ده قـومـانـدان شتـــه
واخلــه ورکــړه اخ وډب بــگیر نمــان شتـــه

پخوا کله دا جنجال وچاردره کې
بې حسابه ډېر بنه حال و چاردره کې

چاردره به اخر ورانه شي پوهېږم
زه عبث په دغه سيمه کې اوسېږم

ملکان يې دي اکثره شنه ليوان
دملت په غوښودی دد وی گذران

بدايان يې سود خواره اوجاهلان دي
دپيسوپه نشه مست تيرله ايمان دي

چې دا کاروي خلک کله پاتې کيږي
عاقبت دتباهی کندې ته لويږي

هيرمې نه دي هغه خلک هغه زمان
چا دچا مخې ته نه ويستل کويان

تياره نه وه بل مشال و چاردره کې
بې حسابه ډېر بنه حال و چاردره کې
۱۳\۱۰\۱۳۴۷\ کندز -چاردره

# نه راځي

له چاردرۍ که کړه واخلمه ارمان نه راځي
واړه مې ښري کې خوټېږي ډاکتران نه راځي

ټول چرګان مې ټوغکي مرض نيولي
کولنګيان يې لا پخوا راته وژلي

د بام له سره د اصيل بانګي آذان نه راځي
له چاردرۍ که کړه واخلمه ارمان نه راځي

چارده کې سرکونه دي ټول خام
تګ راتګ وربانډې نه کېږي مدام

چې اسمان کې راشي وريځې پايکشان نه راځي
له چاردرې که کډه واخلمه ارمان نه راځي

په کوم ځای کې چې اعمار دی زما کور
هلته نشته پر سري د قوم غمخور

اوس هم ما ته لکه دوی غوندې مهمان نه راځي
له چاردرې که کډه واخلمه ارمان نه راځي

چاره نشته په کښې پروت يمه ناچار زه
دي لاسونه مې خالي نه گورم لار زه

غم مې ورځ په ورځ ډيرېږی اطمينان نه راځي
له چاردرې که کډه واخلمه ارمان نه راځي

خلک وايي ژربه جوړه چارده شي
په گلشن به يې بدله دا مېره شي

(پردېس) وايي که دا حال وي زماگمان نه راځي
له چاردرې که کډه واخلمه ارمان نه راځي
۱۳۴۷\۱۰\۲۰-کندزچاردره

# د اوبو قلت

د اوبو سړ کال قلت دی چـــاردره کې
خلک تړي دي قيامت دی چـــار دره کې
نه ميراب او نـه ريس د رنـځ دوا شـــو
زراعـــت د لاســه وزتـــو تـــبا شـو
د افسوس اوښکې مې ځي په مخ باران
دهقانـانو تـه پـېښ شوی سخت تـاوان
نـه يې شولې دي اخيستي نـه يې جوار
بذگـران مــې د وطـــن دي خوار اوزار
سود خوران وربـسې گرځـي وږي تږي
د حـسرت پـه لمـبو سـوزي زمـا سږي
خـــساره ده پـــېښه شـــوې بـې حـسابه
عين الـدين ولسوال دې نه ځي بې ځوابه
ده خوړلی ډير رشـوت دی چاردره کې
خلـک تږي دي قيامـت دی چاردره کې

څوک له ډاره شکایت کولی نه شي
خپل مشروع حقوق له چاغوښتلی نه شي
مسلطه په دې قام ده خفسکه
که هر څو وهي پښې حرکت نه کا
دی جوړ شوی دلته کلی د ډارنو
چور چپاو پرې بناء کړی ساتنمنو
په دې ځمکه کې عبث یمه دیره زه
کړمه څوړ د خلکو غم په چاردره زه
رنګ مې ځیړ بڼه الوتې عملیات شوم
ثاني مرګ نه دوباره دادی حیات شوم
لاباقي مې ساه صورت دی چاردره کې
خلک تږي دي قیامت دی چاردره کې
نه له څوړه مې زړه ښه دی نه له ځوانه
دې خمود جمود محیط کې یم پرېشانه
نه پوهیږم چې غوره څه چاره کړم
په کې پاتې شم که ترکه چاردره کړم
د چاردرې هره دره سر کال سپېره ده
خوار وځاره په کې هره یوه څیره ده
که بدادی که ګدادی کړي فریاد
شو تلف د چاردرې ټول استعداد

ورشم چا ته دغه حال کړمه بیان
بې رشوته هیڅوک نه کوي پرسان
ډیر بېشانه بدساعت دی چاردره کې
خلک تربې دي قیامت دی چاردره کې
ته (پردېسه) ورته مه وهه فکرونه
په چا لولې دغه سترې مضمونونه
دې نظام کې به ته څه مومې قرار
دا اشعار د نشر نه کړې په اخبار
دې وطن کې دخدمت چاره ده سخته
څه ترې تښته ای زما وروره بدبخته
خدمت ګار باندي وهی خلک ملنډې
ګټه نه لري د چا په مخکې منډې
څو د وس رسیږي اخله ورکوه
په فریاد د خلکو ځان خپل کنهوه
نور بیان ته څه حاجت دی چار دره کې
خلک تربې دي قیامت دی چاردره کې
د اوبو سر کال قلت دی چاردره کې
۱۳۵۰\۱۱\۱۷

# دچاردرې غمونه

ستا له غمه دړپه دریم چاردرې
خوار وزار خون یې ځیګر یم چاردرې

خوراولور درکې خرڅېږي لکه خرې
دي کیسې یې هره خوا خورې ورې

په دې چارو متاثر یم چاردرې
خوار وزار خون یې ځیګر یم چاردرې

قومندان دي رانه غواړي تل جرمونه
میرابان دي چاغوي په ما اسونه

زه بدبخت درکې بذګر یم چاردرې
خوار وزار خون یې ځیګر یم چاردرې

خلکو کړله دسپوږمۍ کره تسخیر
خارجي فضا ته لاړه په تدبیر

زه تـر اوسـه تـرې مـنکر یم چار درې
خـوار وزار خـون یـې ځیګـر یـم چـاردرې

پیسې نـشته چې پرې واخلم وکالت ستا
بیا کړم خرڅ په کنجاره فقیر ملت ستا

وکـیل نـه یـم قـاچـاقبریم چـاردرې
خـوار وزار خـون یې ځیګـر یم چـار درې

اوسني ځوانـان دي نـه سـاتـي پـروا
مـوږ پرسـتو نـه ګیلـه راځـي زمـا

لـه ځـړوهـم مـرور یـم چـاردرې
خـوار وزار خـون یـې ځیګـریم چـاردرې

ستا دردونو ته چې زه نـه شـوم دوا
په دنیا کې شو م د خـلکو د خـندا

پاتـې ځـو مـره عقبتـر یـم چـا ر درې
خواروزارخـون یـې ځـیګر یـم چـا ر در ې

زه به زړه دلته په چاباندې تړم
قومي کور به دې په چاراجوړوم

ډوب دیاس په سمندر یم چار درې
خواروزار خون يې ځيګر یم چار درې

در نه لرې به شي هلته ټول رنځونه
چې معارف درکې اوچت واخلي ګامونه

دمعارف په زور خبر یم چار درې
خواروزار خون يې ځيګر یم چار درې

زه (پردېس) به در نه ځار کړم خپل شعرونه
صدقه به دې له کاڼو کړم لعلونه

آزمویني ته حاضر یم چاردرې
خواروزار خون يې ځيګر یم چاردرې
۱۳۴۸\۷\۱۹-کندزچاردره

# دمدد خان موټر کې

راغلمه کیناستم حیران موټر کې
دمدد خان موټر کې

زه کلینر کړمه باډۍ ته پورته
په ناڅاپي ډول ونډۍ ته پورته

د سر لپاسه مې سرې کیناسته
په زنګونو مې وزګورې کیناسته

په شا مې باردقنارو پریوتو
غبار دغم مې په لېمو پریوتو

دتېښتې لار شوه رانه ورکه هغه آن موټرکې
د مددخان موټرکې

موټر قصاب ته په تیزۍ روان شو
په وران سرک لکه ښُښتۍ روان شو

خلک یې په شا لکه مچۍ نښتي
له ناچارۍ نه په باډۍ نښتي

نه وو خاطر د مدني حقوقو
نه احترام د انساني حقوقو

زه هم يو ګوټ کې د ده غلی ومه
عجب موټر ته ورختلی ومه

په دغه ورځ شومه بې حده پرېشان موټر کې
د مدد خان موټر کې

لار کې درې کسه پوليسان ولاړ وه
په لوی سرک لکه لیوان ولاړ وه

کله چې راغی دا موټر په دوی
زما له ورایه شو نظر په دوی

يو يې لوحه کړه پورته بل يې چورک وواهه
بل ډريور خواته يو نغوتک وواهه

اخر خبره په شلګون خلاصه شوه
تبصره ټوله د قانون خلاصه شوه

(پردېسه) ناست وه ډېر ناچاره انسانان موټر کې
د مدد خان موټر کې

۱۳۵۳\۱۹\۱۴-کندزچاردره

# د چهاردرې ولسوالۍ د قریه قصاب په لین کې موټر سواري

خدایه نه کړې د قصاب لین کې رنځور شوک
د طبیب اود ډاکتر تګ ته مجبور شوک
په موټرکې په یرغل خلک سپریږي
په یوه چوکۍ ډبل خلک سپریږي
یو اوبل ته کړي کنځل خلک سپریږي
نه ناچار ګوري نه چاراو نه ضرور شوک
خدایه نه کړې دقصاب لین کې رنځور شوک
که بیا هم پکې سپریږي نو سندان شه
چوکۍ مه غواړه ولاړ په پایه دان شه
نیم بهر اونیم دننه اویزان شه
مګر پام کوه چې جیب دې نه کړي چور شوک
خدایه نه کړې د قصاب لین کې رنځور شوک

په دې لین کې چې اوسېږم بې طالو یم
لاهو شوی د غمونو په څپو یم
زهیر کړی د ولس ډیرو غمو یم
ډیر به لړوي دلته ما غوندې مهجور څوک
خدایه نه کړې د قصاب لین کې رنځور څوک
په دې لین کې چې پراته دې بذګران دي
خوار وزار دي عاجزان و مظلومان دي
که یو پکې لږ ښه وي نور پرېشان دي
نا ممکنه ده چې اوګورې مسرور څوک
خدایه نه کړې د قصاب لین کې رنځور څوک
څو چې دا پرېشانه خلک آبادیږي
له درنو درنو پورونو نه خلاصیږي
ښو، اوبدو، د دنیا باندې پوهیږي
(پردېس) وایي بیا به ماکړي تري ترور څوک
خدایه نه کړې دقصاب لین کې رنځور څوک
۱۳۵۶\۹\۳۰ کندز ـ چاردره

# بهار

دبهار خو ښي به څه کړم له نقصانه سره
اوري باران بام مې څڅیږي له د لانه سره
نغری وران اوره لامده تنور اوبونه ډنډ دی
په خپل کاله کې مخامخ یم سخت طوفانه سره
خلک خوندونه د بهار ښو منظرونه اخلي
زه له خفگانه ډک زړه ناست یم له ارمانه سره
لاس مې خالي دی د هیڅ قدر کولی نه شم
د خرڅ او دخل کتاب نه لرم له ځانه سره
عمر مې ټول په تربگنۍ خواره خوارۍ کې تیر شو
په جهالت ډغرې زه وهم آسمانه سره
هڅه مې داده چې یورپ او امریکا وو ینم
چې بېرته راشم د تازه مود ارمغانه سره
کار او خدمت ته د وطن خو حوصله نه لرم
د غره په سر کیږدی وهمه له جانانه سره
خوار او غریب سره به څنگه علاقه پیدا کړم
چې سر او کار می دی مدام له اجنبیانو سره
تحفې رشوت له چانه مه غواړه (پردیسه) پوه شه
مینه سا ته د خپل وطن له ځوړ و ځوانه سره

۱۳۴۵\۱\۲۵ - بغلان

# دلته خټکی نوم خربوزه لري

هر چا چې لیدلې شیریني دده
غوارې په هیواد کې ترقي دده
تول ورسره مینه علاقه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري

راغلې له جنته دا میوه ډیره لذیزه ده
چې یوځلې پخه شي بیا بهتره له هر څیزه ده
خوراک یې د پلو خواکې مزه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري

یو قسم ته وایي مجری چې دکتو ور دی
بل بوري کله چې په هر وخت کې دخوړو وړدی
بل یې امیري دی چې شراب غوندې نشه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري

یوغازي خانی چې هر سړی یې مدحه خوان دی
بل اله پوچاق چې افتخار د عسقلان دی

بل يې زرمتين دی چې ريښه له سره نه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري

يو ته ارکانی وايې چې ډير وخت ساتل کيږي
د ژمي په شپېلو کې ميلمانه پرې ښه عذريږي
بل يې بيا قندق دی چې خورا ښه ذايقه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري

(پردېسه) دا کندز دی چې پکښې ډير خټکي کيږي
پرده په دې محيط کې په ښه شان دهر سړي کيږي
خاوره د غيرت ده هر نبات يې نتيجه لري
دلته خټکی نوم خربوزه لري
۱۳۴۹\۴\۳-کندز چهاردره

# دهقان کاره ده

سهار وخته راویښیږي دهقان کاره ده
زخمي زړونه رغوي ښه پرستاره ده

له آسمانه پرې وریږي رحمتونه
سموې چې د خپل کور ویجاړ کارونه
په رموز باندې پوهیږي ښه هوښیاره ده
سهار وخته را ویښیږي دهقان کاره ده

کله د گل مخې ته کښیني خپل رازونه وایي
کله دشنه فصل په عشق کې خپل شعرونه وایي
د بلبل غوندې غږیږي خوش گفتاره ده
سهار وخته را ویښیږي دهقان کاره ده

مخ یې لوخ دی خو پلو یې دی نیولی
خپل شرف دی په ښه توگه ساتلی
د پتنگ غوندې قربان له خپله یاره ده
سهار وخته را ویښیږي دهقان کاره ده

د اروپا ښکلې به تولې ترې قربان کړم
صدقه به ورنه واړه ماه رویان کړم
د ملي غرور گانه باندې سینگاره ده
سهار وخته را ویښیږي دهقان کاره ده

بخملي گوتې يې سورې په اغزو دي
(پردېس) وايي دا مې کله پرې پېرزو دي
ولې څه وکړم چې خپله برخه يې خواره ده
سهار وخته راوېښيږي دهقان کاره ده

۱۳۴۱\۵\۱۴-نوی بغلان

# په رباتک کې د پیستې د نیالگیو کښېنولو د ورځې خاطره

د پیستې نوي نهاله ژر ژر ونیسه پیسته
اقتصاد دگران وطن کړه په ښه توگه تقویه

ستا سریع رشد ته محسوس ډیر ضرورت دی
ځان ثمر ته رسوه وخت د خدمت دی
د وطن ملي دردونو ته درمان شه
په ښه وضعه افتخار د سمنگان شه
خلاصه غیږه د اخلاص لره هر چا ته
د ملي غرور نشه دې سرکې سا ته
که دې لښته په شخصي غرض کړه شي
باور وکړه چې ډیر ژر به جبیره شي

نور دې نه پریږدو چې خرڅ شې په پیسه
د پیستې نوي نهاله ژر ژر ونیسه پیسته
د وطن ښکلي بچي په خاصه مینه
په دې وچه لویه تره کې تا ږدینه

چې وطــن دربانــدې واړه شـــي ودان
بیـا پـه تـــبـره مسکینـان د سمــنگان
ځکـه تـاکـــې ده پـرتـه ســتـره مــانا
پانــې پـوسـت لـرگـی مـــیوه دې ده دوا

ژربه ورکړو ستا ځنگلوته په ښه توگه توسعه
د پـیستې نوې نـهالــه ژر ژر ونـیسه پیسته

که نن ته کوچنی نهال پـه بـنه خـوار یې
سبا تـه بـیا افـــتخار ددې کـوهســار یې
لاندې خلک پاس مرغان به درنـه فـیض وړي
مـسافـر د بـــیابـان بـه درنـه فیض وړي
د (پردېس) غـوندې شاعـر بـه را پـیداشي
ستا د یخ سیـوري د لانـدې بـه هـوساشي
په صفت کې بـه دې جـړیـوخوږغزل کړي
په کې لیک به خـاطـرې سـتا د عمل کړي

چې شي پاتې زمــوږ بچوتـه ډیره ستره نشانه
د پیستې نوي نـهـالـه ژر ژر ونــیسه پیسته

۱۳۵۳\۱۱\۲۸ـ سمنگان رباتک

# بذګـره

بې لـه سرې غـنـم مـه کـره بـذګره
سره ورکړه چې ریـــشه واخلـي ببره

چې شیندلي دې پټـــي کې سره نـه وي
اضـافـه حاصـل تـه نـــه شي منتـظره
که دې لر او بر پـــتي ته یې پـه طـمه
دی قسم که واخلــي خورد لـه دې کمره
څو دا ځمکه پـه مـــاشین اواره نـه کړې
نه ملی بـه پکـــې شنه شي نـه ګـازره
کـه د زړه وي غلـه واخلي ترینـه ډیره
کـړه مـــیده د دې پـــتي هـره ډبـره
اصـلاحي اعـلـی تخـمونه کـړه رواج
محلي تخمـــونه دي تـول بـــې اثـره
بذګري د هـرچا کـارنـه دی خبـرشه
بذګـري غـواړي د غـــره سـره ډغـره

(پردیس) وایي کـه د کـاروکړو دهقانـه
ستا پـه نـوم بـه ولیکم خـوږه سندره
۱۳۴۹\۱۲\۲ -کندزچهاردره

# ولې نه راځې دوباره

واورې څه شوې ولې نه راځې دوباره
سستي مه کوه راځه د خدای لپاره
سمه اوغر د وطن مه سوزه په اور ته
مخ ښکاره کړه خلک مه کړوه نور ته
ډير سيندونه خالي شوي له اوبو نه
کله تا چې لاس اخيستی وريدونه
بس دی بس دی مکوه نور امتحان
کله مونږ لرو طاقت ستا د هجران
بې له تانه ده بقا د قوم دشواره
واورې څه شوې ولې نه راځې دوباره
ستا قدم زما ليمه کوه بنا
سرله اوسه ګډه وډه کړه هوا
کروندې د وطن واړه کړه سيرابه
دي وګړي ټول له تندې نه بېتابه
له آسمانه په مزه مزه را ولېږه
لوړو غروکې د وطن ذخيره کېږه
په شدت او په قوت راوره پېره ته
دفعه کړه دوچ کالی دا خطره ته
د حناط او محتکر مينه کړه خوار
واورې څه شوې ولې نه راځې دوباره

د هر کال نه سږ کال و وریږه ډېره
دعمرو خواري چې کړې له خلکو هېره
پلو مه نیسه را درومه په نڅا ته
شه سبب د ګران وطن د اعتلا ته
ښکته پورته وګرځه وکړه پوښتنه
چاردرې نه ښه کره وکړه کتنه
وطنوالو سره ځان کړه هم نواته
زه دې ځار شم مروره نه شې بیا ته
لاړه نه شې له دې ځایه تر بهاره
واورې څه شوې ولې نه راځې دوباره
زه (پردېس) درته ولاړ لاس په نامه یم
ستا دخاص کیف نه خوشحاله همېشه یم
د وطن په غرو وریږه ډېره ډېره
مګر دا خبره نه کړې ګوره هېره
په راتلو باندې خپل نه کړې څوک آزار
غرو رغونو کې اوسېږي ډېر ناچار
دغه خاوره کې پراته ډېر غریبان دي
په څپرو کې اوسېږي مسکینان دي
له دې خلکو سره ساته خپله لاره
واورې څه شوې ولې نه راځې دوباره
۱۳۵۰\۹\۹ کندز

# واورې وريږه

واورې وريږه په مزه وريږه
هر کال زموږ په وطن ته وريږه

په تا کې ډير برکتونه وينم
تاته احتياج ټول ملتونه وينم
راغلې په خير راځه مدام ته
خولږ د نيسه گوره پام ته
چې غريبان څوک نيمه خواه نه کړې
شپانه رمو سره تباه نه کړې
د ضرورت په اندازه وريږه
واورې وريږه په مزه وريږه
اول کندز او بيا بغلان ته راشه
فارياب مزار او تالقان ته راشه
په بدخشان باندې مېله جوړه کړه
په سمنگان کې دمه ښه جوړه کړه
جوزجان دهيرنه شي چې تږی دی ډير

واورې داستا ديدن ته ورې دې ډير

د بلخ په دشتو هميشه وريږه
واورې وريږه په مزه وريږه

لکه پنډوسکه له هوا راوليږه
د ځمکې سرته په نخا راوليږه
ملا د حناط او محتکر ماتې کړه
د سود خورانو پښې ژرماتې کړه
امبار امبار هره دره کې پريوزه
هر ځای نه ډيره چاردره کې پريوزه

د قوم په خير هره لحظه وريږه
واورې وريږه په مزه وريږه

د ګران وطن ځمکو ته سره يې ته
وايي (پرديس) ښه له سره زره يې ته
چې ته شې ډيره کال ودان راځي
در سره سم لطف و احسان راځي
خلک په مينه نظاره کوي ستا
غټ و واړه ټول ننداره کوي ستا

قدم زما په لېمونږده وريږه
واورې وريږه په مزه وريږه
۱۳۴۷\۹\۱۱-کندز

# بذگر

يمه بذگر ښه زندگي لرم
په باغ کې ځوږ وله نيالګي لرم

خواږه انار د سرو منو سره
اينځر توتان د زردلو سره

انگور گيلاس او شفتالو لرم
بادام غوزان آلوبالو لرم

وچې مېوې تر پسرلي لرم
يمه بذگر ښه زندگي لرم

هم قلبه يان هم خوسکي ساتم
هم سنډاگان مېښې کټې ساتم

بل د چرگانو مفرزه لرم
غوښې مدام تر او تازه لرم

پنير قيماق چکه مستې لرمه
سحر شودې غرمه شرومبې لرمه

کله قروتي کله شکنه خورمه
خوراک مدام هوسانه خورمه

د زیړو غوړو ډک منګي لرم
یمه بذګر ښه زندګي لرم

هر کال پخته ډیره اعلی کرم
په تورو خاورو کې طلا کرم

دغه پخته راته کیمیاغوندې ده
ډیرو درد و ته مې دوا غوندې ده

که نن چپن سبا کفن ده زما
غټه ابرو د ګران وطن ده زما

د پختې ځنګ کې ختکي لرم
یمه بذګر ښه زندګي لرم

که په صحرایم که په کورزه
خپل ځان ته نه پریږدم پیغورزه

د لور او بیل سره ګذران دی زما
هریو مشکل مخکې آسان دی زما

نه په ګلـــی نـــه پـــه باران بندیم
نـــه پـــه سیـــلی نه پـه طوفان بندیم

لـکه دغـــرایستـــاده ګـــــي لرم
یـمـــه بذګـــر ښـــه زنـــدګـــي لـرم

ځـــانـتـــه کـلـچـر ځانته دستور لرم
مـــلي احـساس مـــلـــي غـــرورلرم

نـــه بـــه دبـــل پـه خُم کې رنګ شمه زه
نـــه بـــه دورورســـره په جنګ شمه زه

یـــمه بذګـــر دغـــه پـښنه ده زمـــا
مـــینه دخدای زړه کـــې پرتـه ده زمـا

دپـــښتنـــې شـــودې رودلـي دي مـا
ډیـر ظـا لمـا ن را پرزولـي د ي مـــا

لا س کـې وسـله د تبـر ګـــي لـــرم
یمـه بزګر ښـه ز نــدګي لـــرم

۱۳۵۱\۱\۱۱ - کندز چا ردره

# دهقاني

د هیواد مهمه چاره دهقاني ده
ګټوره زموږ لپاره دهقاني ده

په جهان کې یې پیشرفت کړی بې حده
په وطن زموږ کې خواره دهقاني ده

په لفظي ډیپلوم له خاورو پورته نه شوه
بې درمانه او بیماره دهقاني ده

تنبلان ترې ګټه نه شي اخیستلای
د زیار کښو منت باره دهقاني ده

چې ډوډۍ په کې حلاله راځي لاس ته
د چوکۍ نه ښه زر واره دهقاني ده

د وطن اوقام پرده پرې ساتل کیږي
د ملي نهضت هینداره دهقاني ده

زه (پردېس) چې نورکارونه کړم ښه نه کړم
غوره ماته له هر کاره دهقاني ده
۱۳۴۷\۱۰\۱۰-کندز چهاردره

# نیسم مزدور

یمه دهقان نیسم مزدور زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
کلي کې یو (ملا حضور) وو
په لسو شلو به مزدور وو
نن په سل روپو یوګام ناخلي
(ملا حضور) د چا سلام ناخلي
د (ولي) مه پوښته حال رانه
(مبارک شاه) غواړي د سمال رانه
صفر تغه په خواره بنه ویوره
غنم یې ماځني سل منه ویوره
یم د غُصې نه شین او سور زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
سږ کال زما (فقیر محمد) دهقان شو
نه وم خبر سړی مې بد دهقان شو
دبیل په ضرب یې زما غوایي ووهل
هم یې غوایي هم یې خوسي ووهل

اخر مې وشاره ناچار شومه زه
(فقيرى) ځني بيزار شومه زه
نوي قُلبه شوه په ميدان پاتې
د رب اسرې ته (صادق) جان پاتې
چا سره وکړم دا مذکور زه
نيسم مزدور يمه مجبور زه
ويل (صادق جان) غويي مې ګډ پروت دى
د قُلبې کار مې تول ګډوډ پروت دى
زيړ قُلبه يي خوله دنيا تللى
د (فقيرى) د لاسه دا تللى
اوس يم الګاوله (اول ګل) سره
ډغرې خورمه قسمت خپل سره
ماويل برى اخر د تادى ځويه
خالق تعالى مشکل ګشادى ځويه
د تاسو غم کړم چکو چورزه
نيسم مزدور يمه مجبورز ه
مياشت دجوزاکې به زه هم درشم
ستاسو کمک ته به يودم درشم
که څه هم پوه يم چې دانه ډيره د ه
دهر سړي کره غله ډ

خوځو داخلک چې ماره شي کله
ولږې نیستی نه راستانه شي کله
بیانو تمام پسکی دپزې ولي
څوک یې دشپې څوک یې د ورځې ولي
څوک په قمار څوک په نیشه اخته شي
خپلو منځوکې په دعوه اخته شي
بیاقوماندان اوڅارنوال جوړې کړي
چړچې ددوی په مال ولسوال جوړې کړي
دغه پښتون دغه ازبک چې وینم
داهزاره اوداتاجک چې وینم
لوټه اوبوکې کیښوده غواړي
خپله شي تیر دبل لویده غواړي
بیا وایي ډیر یمه باتور زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
یوکال مې ځمکه (مومین خان)ته ورکړه
په څو شرطو مې دې ناځوان ته ورکړه
چې وخت دکارا ودزحمت ووتو
زما (مومین) په تجارت ووتو
شولې مرغی غنم غویانو خلاص کړه
پخته پیچک جوار ډانګیانو خلاص کړه

دخدای احسان شو ترینه ښه کې خلاص شوم
د (مومین خان) نه په پرده کې خلاص شوم
کال ته دهقان مې (سید رحمان) و نیوه
پیر مې په لاس ځان ته گور وان ونیوه
ورته مې وویل کښت به ښه کړې
بې کیمیاوي سرې به یې نه کړې
ده ویل گنم خو دا ضرور زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
خبرې ښې په تول پوره وې د ده
تولې سره د یرې کره وې د ده
خو په عمل کې کراو کور و دا
د اس له پاسه به نیغ سور و دا
چې کال شو تېر دواړه قرضدار پاتې شو
لکه ایرې له سره انگار پاتې شو
د چاردرې له دهقانۍ نه توبه
له دې اوږدې سرگردانۍ نه توبه
جوړه زما خو په کښې دمه نه شوه
د کال خواري مې سر نه کمه نه شوه
په چینکچو پسې سرتور گرځم
کلي په کلي کور په کور گرځم

بیا قنارونه په خواروپیدا کړم
څه په خرید څه په زاروپیدا کړم
ژر کړم پخته پکې داخله زه
سپین زر ته یې یوسم بې معطله زه
هلته سورچې سره په غم وا وړم
په کاتبانو کج قلم واوړم
نیمه لمده او نیمه کمه شي
زما د کال خواري برهمه شي
بیانو بې شانه شم ترور زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
یو خوا گریوان مې کوکباشي کشوي
نهرو سربند ته مې حتمي کشوي
بل خوا بیا زه د درکوان بنده شم
په زور او ظلم د انسان بنده شم
کړی طاعت رانه برباد لاړشي
تر اوم آسمانه مې فریاد لاړشي
که لاس کړم جیگ جریمه کیږمه زه
جریمه خیر لا بندي کیږمه زه
هغه مې پلار وچې وهل یې کول
د شاخ له سره ځغلول یې کول
د خپل حقوق یې حمایه کوله
هر ستمگر سره یې جگړه کوله

(شیخ سر انداز وردگ) همکار ود ده
په سخته ورځ کې به پکار رود ده
نن که تازه کړم زه د پلار قیصې
(امیر محمد) ناځوان مې نیسي پښې
په نوروهم نه یم دلپُر زه
نیسم مزدور یمه مجبور زه
خواکې مې خلک باوري نه لرم
جیب کې لوټونه هزاري نه لرم
ځي حاصلات هر کال هدر رانه
غنم پټي کې خوري جودري رانه
زړه راته وایي د هقانی بس کړه
داسې کرنې نه جدي بس کړه
دا ناځواني ده چې او به پټې کړې
د ګاونډي نه یې په شپه پټې کړې
نه د جګړې لرې بېرعت (پردپسه)
او نه لرې داسې عادت (پردپسه)
اوښکې دي ځي په مخ باران غوندې
چې دهقانان ګورې پسمان غوندې
په کوم یوخیال به شم مسرور زه
نیسم مزدور یمه مجبورزه
۱۳۵۴\۳\۲۱-کندز چهاردره

# چهار دره

راشه گوره لر او بر د چار دري
خلک تول دي درپه در، دچاردري

نه پایناب دی په آرام اونه سرآب
داوبو له هجره دي خلک کباب

شنه فصلونه تباه کیږي او به نشته
خوار بدا ورته ژړیږي او به نشته

د شا خونو په سر جوړ دي مجلسونه
خلکو واخیسته له کاره خپل لاسونه

اخ اوډب بګیر نمان ثاني قیامت دی
د هقاني نه ده بلاده مشقت دی

دی ملت په چیغوسر دچاردرې
راشه گوره لراوبر دچاردرې

دولسوال دقوماندان سره صحبت دی
دمالیې مامور خارج له مصلحت دی

دقاضي او څارنوال گوره کارونه
دتحصیل ضابط اخیستي کوتکونه

دتحریر کاتب چورلی وهي غریب دی
یو یې نه گوري چې قوم مرگ ته قریب دی

ته(پردېسه) ژاړه خپل پروردگار ته
ژردې دامنظومه وسپاره اخبارته

دی خرابه پس منظر دچاردرې
راشه گوره لر اوبر دچاردرې

۱۳۵۰\۶\۱۲ -کندز چاردره

# د کوچیانو سره ستړي مه شئ

له ایلبندنه په خیر راغلی مالدارانو ستړي مه شئ
په خیر راغلی په خیر راغلی عزیزانو ستړي مه شئ
تاسو تللي وئ د جیګو غرو لمن ته
د ښېوې آزاده سیمې شین چمن ته
مېږې څنګه دي څه حال لري اوښان
خرونه ښه دي په څه دم کې دي آسان
آشنایي او ملګرتیا د تاسو نه لري وفا
چې د دښتو لمن شنه شي یاران خوشې کړئ تنها
په اوښانو کډې بار کړی پرېږدی کلي او ښارونه
په دښتونو باندې ګرځی سیاحانو کړئ سیلونه
چې هر چیرته ښه چینه او شین چمن وي
هغه ځای کې بیا د تاسو جوړ مسکن وي
کاشکې ما ځان سره شپون کړی چې ساتم درته اوښان
غره په غره به سره ګرځو خوار وزار و سرګردان
کاشکې ما ځان سره بوځئ چې مو پیایمه رمې
خپل قلم په جیب کې ږدمه نورې نه لیکم قیصې
قلم مې راته وایي تل مدام دغه ګفتار
بې کیفه بې تاثیره پرمامه لیکه اشعار
دخوسي او خره له غمه لیونیانو ستړي مه شئ
په خیر راغلی، په خیر راغلی مالدارانو ستړي مه شئ

۱۳۵۰\۱۱\۱۷ - کندز

# دآبدان وينا

توري کيږدۍ کتار کتار راکې
کوچيان پراته هزارهزار راکې
ستر بيابان لويه صحرايمه زه
په شته سيند ونو کې بيد يايمه زه
هر کال تو کيږي ډير گلان راکې
اکثر په رنگ دارغوان راکې
خو ډير افسوس چې په تاثر ځي
دا سره گلان رانه ډير ژر ځي
چې دا محيط وچ بيابان دی زما
نوم شير ماهي لقب آبدان دی زما
پخوا رمه رمه غرځه وه راکې
ښه خاطر جمع به پراته وه راکې
اوس غرځه يو نشته په نوم راکې
دزماني سير کړه معدوم راکې

داسي خبر يږم چې فرمان راغلی
زماعمران ته ستر پلان راغلی
په دې فرمان زړګی شادان دی زما
نوم شير ماهي لقب آبدان دی زما
له کندزه تر امام صاحب خاره يم
په دې عصر کې دکار پاتې ميره يم
دآمودرياب بهيږي راته خواکې
کوم نبات دی چې به شين نه شي په ماکې
دی قسم که چيرې زه شومه ودانه
دملي توليد اقلام به کړم پريمانه
سره غنم سپينه پنبه به کړمه ډيره
دعمروخواري به کړم له خلکو هيره
شاهد (پرديس) په بيابان دی زما
نوم شير ماهي لقب آبدان [1]دی زما
پرديس ۱۳۵۱/۵/۱۲

---

[1] دآبدان دښته دکندز ولايت په مربوطاتو کې شمال لورته پرته ده چې له يوې خوا دکوکچې سيند ورته نغوتې کوي اودبل اړخ نه يې دآمو درياب په خواکې بهيږي خوله بده مرغه دانومونږي دښته تراوسه للمه پاتې شوې.

# یادیږي مې

زه چې تل کړیږم اوکومه فریاد ونه
یادیږي مې په غروکې د زرکانو آوازونه
د بخت سره په جنګ یم
ښارونوکې په تنګ یم
بیدیا ته مې زړه کیږي
خولاس مې نه رسیږي
پراته راته په مخکې دي ځولې ځولې غمونه
زه چې تل کړیږم اوکومه فریادونه
ځنګل وای بیابان وای
زما پکې ګذران وای
لرې له دې قامه وای
زه مدام بې نامه وای
جونګړه کې دلوخو زه دیره وای ښوعمرونه
یادیږي مې په غروکې دزرکانو آوازونه

موږ کې عاطفه نشته
ژوند کې مومزه نشته
غټ واړه پیسه غواړو
ټول دغه قیصه غواړو
په غم د نورو نه ژاړو د ځان وهو فکرونه
زه چې تل کړیږم او کومه فریادونه
دپلار نیکه جایداد
زمانه شو برباد
پاتې اوس حیران یم
زه (پردیس) پریشان یم
مابې لارې ځوی به ترغرمې کول خوبونه
یادیږي مې په غروکې دزرکانو آوازونه
۱۳۴۶\۸\۱۶-بغلان

# چرسي

که مې زور شي په چرسيانو باندې بر
چلمونه به يې مات کړمه په سر

چې وهي دچرسوڅوتلي په ورځ کې
د داهسي سړي بيخ وځي ډير ژر

ربه وساتې هر څوک له دې عمله
افتونه دي په چرسو کې مضمر

د چرسي سړي مدام وي سترګې پټې
په لښتي کوي ګمان د سمندر

که چرسي سړی زمری دزمانې شي
چې چرس ووهي ګيدړ نه شي بد تر

زه (پردېس) چې دچرسيانو مذمت کړم
غوارم ټول شي د دې بد عمل تغر

۱۳۴۸\۲\۴

# څنګه یم

ټوټـه ټوټـه زخمـي ځګيـر څنګـه یـم
لکـه یتیـم پـه ژړا سـر څنګـه یم

دې سرمـستـه طوفـاني سـیند تـه
زه ګـډ شـوی بـې ګـودر څنـګه یـم

خـولې تـه مـې نـه راځـي خنـدا ولـې
ډوب دیـاس پـه سـمندر څنګـه یـم

تربګنـي چـې نـه پريږدمـه زه
خوشحـالی تـه منـتظر څنګـه یـم

چـې یابـو مـوندلـی نـه شـم
پـه هـواکـې د موټـر څنګـه یـم

چې مرض نه پېژنمه
تش په نوم ډاکتر ځنګه يم

چې تبليغ مې اثر نه کړي
زه ولاړ په دا منبر ځنګه يم

لياقت چې راکې نشته
په نامه باندې ماستر ځنګه يم

چې لوی کړی پښتني يم
په سختيو کې اوتر ځنګه يم

چې خالق لرم په سر زه
د بنده خوش آمدګر ځنګه يم

چې د حق په ځای کې چپ شم
بيانو زه (پرديس) شاعر ځنګه يم
۱۳۴۳\۷\۷-کندز چاردره

# رانه خر جوړکړه

په مرگ راضي یم غلامي نه غواړم
د خروحکومت دی زنده گي نه غواړم

یوځلي نه په هزار بار زه
له سړیتوب نه یم بیزار زه

له دې عطا یمه در تیر خدایه
دا سړیتوب کړه رانه هیر خدایه

هرې بلا ته رانه سپر جوړ کړه
د خرو دوران دی رانه خر جوړ کړه

دا یوځو خره چې وزیران دي دلته
یا وکیلان اویاوالیان دي دلته

دا درنــه نــه غــوارم پــیسـه نــه لــرم
بــل گــوره زه څــه واسطــه نــه لــرم

وســه مــې نــشته خــوار اوزار ناسـت یـم
قـسم پـه خـدای پـه سره انـگار ناسـت یـم

لاس کــې قلـم نـه زمـا خنـجر جـوړ کـړه
د خــرو دوران دی رانــه خــر جــوړ کــړه

عقــل مــې واخلـه چـې پـه کـار نــه دی
راکـــړه وابنـــه دا دومـــره کـــار نــه دی

دلـتـــه مــتاع د عقـــل نـــه خـرڅـیږي
پـه دې بـازار کـې مـدام خـره خــرڅیږي

دغـه رژیـم چـې پـرې سقــوط کــړم زه
ډوب پکــې دا نظــام فرتــوت کــړم زه

زمـــا لـــه اوبنـکـــو ســمندر جــوړ کــړه
د خـــرو دوران دی رانــه خــر جــوړ کــړه
۱۳۴۷\۱\۱۵-کندز چاردره

# موري

موري حضورته ستا عرضونه لرم
یو څو ضرور پیشنهادونه لرم
خفه پرې نه شې لږ ترخه دي یاداشتونه زما
دزړه په وینو باندې لیک دي کاغذونه زما
ملي لباس دې خپل تغیر کړو ولې
د پلار نیکه روح دې زهیر کړو ولې
اوږده نوکان ځنې لندې ګوره
کمیس جاکټ لوڅې پوندې ګوره
د افغانانو دا جامه نه وه
دلته رواج دا وړ قاعده نه وه
له دې جامې څخه خوفونه لرم
موري حضورته ستا عرضونه لرم

په غورو لوله تمام شکایتونه زما
دزړه په وینو باندې لیک دي کاغذونه زما
راشه اولاد ته دې خدمت وکړه
خپلو بچو ته نصیحت وکړه
نور دي بیدار او دو خوبونه کوي
په ځان پخپله فسادونه کوي
ځنګه ادې ځنګه بچیان دي ستا
ډیر سر سبیله فرزندان دي ستا
له دوی نه ډیر په زړه داغونه لرم
موري حضورته ستا عرضونه لرم
له نژدې راشه خپله ګوره ټول حالونه زما
دزړه په وینو باندې لیک د ي کاغذونه زما
مور د اوبو بهاند سیندونه لرو
ورسره جوخت عظیم ډاګونه لرو
دغه ډاګونه آبیاري غواړي نن
نوي نهرونه تعمیري غواړي نن
دادا ته وایه نور سیلونه بس کړه
په وړې نس دا هوسونه بس کړه
زه د ډوډۍ ضرور تونه لرم
موري حضورته ستا عرضونه لرم

له متہ لري کړه دفقر تعویذونه زما
دزړه په وینو باندې لیک دي کاغذونه زما
لور دې سینګار ځوی دې رشوت غواړي
د تا بچي مراقبت غواړي
ورنه غافله یو ساعت نه شې
بل یې په طمه د خدمت نه شې
دیپلوم په لاس درنه غلاګانې کوي
د تا بچي خو بلاګانې کوي
قسم دی ډیر ورنه خفه یمه زه
له خویندو ورونو آزرده یمه زه
ته پرې خبره یې که نه مورې
درنه لرم دغه ګیله مورې
د ژوند دفتر به دې تک توړپاتې شي
دا به همیش تاته پېغور پاتې شي
وایي (پردېس) چې ډیر غمونه لرم
مورې حضورته ستا عرضونه لرم
په کوم حازق طبیب تشیخص کړه ټول رنځونه زما
د زړه په وینو باندې لیک دي کاغذونه زما

۱۳۴۷\۳\۲۳ بغلان

# موري

سلام سلام زما خوږې مورې
زما خوږې زما درنې مورې

لیدلي تا سخت کړاونه په ما
ویستلي تا ډیر زحمتونه په ما

دوکاله زه دې زنګولی یمه
پاس په سینه دې لوبولی یمه

قسم د تا سپینو شیدو باندې
وطن به خرڅ نه کړم پیسو باندې

مال او سر واړه تري قربان به کړم
پوره د قوم ملي ارمان به کړم

دغه وطن به جوړومه زه
ځان به کاروان ته رسومه زه

نور به خوب نه کړم تر غرمې مورې
سلام سلام زما خوږې مورې

پس له دې شرم دی چې خوار پاتې یم
خاورې ایرې له سره انګار پاتې یم

په دې عمل به مې مشران خفه شي
مانه به روح د میرویس خان خفه شي

شم خجالت به زرغونې انا ته
پښتنې مور د احمد شا بابا ته

که د غیرت په ځای کې ننګ پر یږدم
په چلمچي د توري شرنګ پر یږدم

تا به خجل ږیره به کله کړم زه
افغاني وضعه که بدله کړم زه

قسم دی زه به داپستې ونه کړم
په ژوند به ویره له مرګي ونه کړم

په غوږو واوره پښتنې موري
سلام سلام زما خوږې موري

زما خوږې زما درنې موري
موږ د اوبو بهاند سیند ونه لرو

ورسره جوخت عظیم دښتونه لرو
تر څو چې بند دغه سیندونه نه کړم

او پرې خړوب دا ټول دښتونه نه کړم
ساه به تر هغې په آرام وانه خلم

څو چې سرکښ فلک نه کام وانه خلم
له ځان ځانې نه توبه گار یمه زه

له دې بلا نه سخت بیزار یمه زه
د بشر فکر تر کیهانه لاړه

مریخ سپوږمۍ تر کهکشانه لاړه
زه له معارفه گریزان یم لا

بند د اوهامو په زندان یم لا
څیري گریوان چاودي پښې موري

سلام سلام زما خوږې موري
زما خوږې زما درنې موري

۱۳۴۷\۸\۱۷

اینجنر محمد اکبر رضاء د کرنې او اوبو لګولو وزیرته زما منظومه عریضه.

# زه بدبخت دلته مامور یم

که چابک دی اوکه سست دی  دلته بې شرابو مست دی
شور غوغا عبث خندا  ښه الفاظ دلته کنځا
د چو کیو ماتول دي  یو په بل تېل اچول دي
لکه زه په دې جریان  یو نیم نور دي پرېشان
مگر جز کُل ته تسلیم دی  رانه ورک عقل سلیم دی
تولو ورځ خیله خندي ده  زما دلته زنده گي ده
تښتېدای نه شم مجبور یم
زه بد بخت دلته مامور یم

آمران مې خائینان دي  ډیر بې رحمه انسانان دي
زه ساده صادق نوکر یم  ډوب د یاس په سمندر یم
راته بل دي سره اورونه  څوک مې ناوري فریادونه
دومره ټیټ نه یم رتبه کې  مگر کوز ناست یم شعبه کې
زه ړوند نه یم ښه پوهیږم  هر څه وینم پرې خبرېږم
نور چپ نشم کیناستلی  دا توهین نشم منلی
ظاهر روغ باطن رنځور یم
زه بد بخت دلته مامور یم

دغه تول دی افغانان　زه پري نه کړم بد گمان
مگر شته دي ډير ناولي　دلته ناست دي مالیدلي
ستا له څنگه اخلي گته　ولي ما په غته گته
په دې جرم چې پښتون يم　ډوب داوښکو په جيهون يم
دا به څنگه جبيره شي　چې ارمان زما پوره شي
دا مې عرض او عريضه ده　ستا حضور ته اوس پرته ده

ته وزير زه دې مامور يم
تښتيداى نه شم مجبور يم

۱۳۴۶\۸\۱۸-بغلان

دحمل په شلمه نیټه زه اوزموږ ټیم دخیرآباد په لویه دښته کې سرګردانه ګرځیدو په دغه دښته کې د (نورزیو) دقبیلې ډیرې کیږدۍ ولاړې وې خو چې موږ به کله مستې اوشړمبې ورڅخه وغوښتې ددوی غټ اوواړه به ټول په موټر راوختل او زموږ خسیس اوبخیل ډریوربه په بدو ردو له موټره شړل

نوبیابه نه دوی مستې راوړې اونه شرومبي اوهریو به یې داخبره کوله چې یه جانه میږې، وږي دي اوموږ په وچه کاسه ناست یو، هیڅ نشته، خوبیاهم په دغه دشته کې دملازرین په نوم یوکوچی پروت ووچې موږ یې ډېر ونازولو اوخپلو عزیزانو ته یې احتیاج نه کړو اوښه کبابونه یې راباندې وخوړل چې ماهم دغه ډوډۍ مار کوچی په لاندې ډول وستایلو.

۱۳۵۳\۱\۲۴ -خیرآباد

# ملازرینه

تـا تـه ډیـر ډیـر احتـرام مـلا زرینـه
ای پښتـون عـالیـمقـام مـلا زرینه

شه قـربـان درنـه بـایـان هـزار هـزار
له کیږدۍ څخه دې نه ځي څوک نهار
دی ګتلی دې په ژوندغټ افتخار
خدمت ګار یې دوطن لیل او نـهار

بریالی اوسې مدام ملا زرینه
ای پښتون عالیمقام ملا زرینه

هره یوه میره دې لنگه دوگانه شه
په نصیب دې دعثمان صاحب خزانه شه
نوم دې پاتې ابدي په زمانه شه
دښمنان دې همگي دانه وانه شه

شه پوره دې هر مرام ملا زرینه
ای پښتون عالیمقام ملا زرینه

د وطن په کانو بوټو کوه فکر
په او هاموکې هېرنه کړې دخدای ذکر
مه برگي کړه مه تگي کوه مه مکر
په داخپل آزاده ژوند اوباسه شکر

سوکالي غواړه د قام ملازرینه
ای پښتون عالیمقام ملا زرینه

خفه نه شې درته وایم څوخبرې
په پښتوژبه خوږې لکه شکرې

دښمنان دي شه کباب په اورد سرې
له آزاره په هر ځای کې ګرځه لرې

عمر نه لري دوام ملا زرينه
ای پښتون عاليمقام ملا زرينه

مه (کاکړ) مه (کشانۍ) مه (ملوکی) شه
مه (لودين) مه (فرجی) مه (برنګی) شه
لکه شمعه دوطن عشق کې لوګی شه
پس له مرګه ابدي پاتې ژوندی شه

په غوږ واوره دا کلام ملا زرينه
ای پښتون عاليمقام ملا زرينه

هم د نوم شته هم د رنګ اوهم دخوند
پاک الله نه دي تل غواړم سر بلند
اوزې مېړې خره اوښان دې شه دوچند
هر سړي ته په خپل شکل شه څرګند

پيسې مه غواړه مدام ملا زرينه
ای پښتون عاليمقام ملا زرينه

موده کیږي په (اجر یم) کې مې دیره ده
په تیمم او ترپ وتروپ مې گذاره ده
غسل نیسم په کندروڅه چاره ده
اوبه نشته خواره وزاره مې بشره ده

ژاړم زه سهار ماښام ملا زرینه
ای پښتون عالیمقام ملا زرینه

خلک کاندي په هواکې سیر سفر
موږ دځمکې په مخ گر ځو درپه در
په پیشرفت او اعتلا نه یو خبر
شیرین عمر رانه تول لاړه هدر

په ځای ناست یو له ناکام ملا زرینه
ای پښتون عالیمقام ملا زرینه

ډک سیندونه د اوبوراته بهیږي
خو ملت زموږ له تندې هلاکیږي
نوې نوې بلاگانې پیدا کیږي
یو په بل د اعتماد احساس کمیږي
شکیږي هر چانه لجام ملازرینه
ای پښتون عالیمقام ملازرینه

زه هغه ته هغه ماته دی خون پُره
هغه ما اوزه هغه وهم په توره
ده ليلى داتفاق راکې رنځوره
د نفاق توره بلا ګرځي مغروره

په مقصد دقتل عام ملا زرينه
ای پښتون عاليمقام ملا زرينه

د اخبرې مانه واوره په پښتوته
ښه په غُورېې داخل کړه په مغزوته
آفرين کړه د (پردېس) په دې شعروته
يوه مصره يې خرڅه نه کړې په پيسوته

ترينه واخله تل الهام ملا زرينه
ای پښتون عاليمقام ملا زرينه
۱۳۵۳\۳\۱۲-سمنګان

# دوانشته

په کندزکې د غويانو دوانشته
د غوايي صحت ته فکر د چا نشته

څوک په قی څوک په اسهال څوک په تبا کومري
څوک په نورو مرضو هرومرو مري
تش په نوم وترينران پرې نه خبريږي
دا ملي ثروت روان دی تباه کيږي

اصلاً دلته تول عاميان دي ملا نشته
د غوايي صحت ته فکر د چا نشته

مصنوعي القا ته شته سخت ضرورت
کاشکې دا دلته رواج شي په سرعت
په سونو وچې غوا قصابې کيږي
چې عمل پرې دالقاح نه اجرا کيږي

په تورتم کې زنده ګي ده رڼا نشته
د غوايي صحت ته فکر دچا نشته

مالچرونه دغرض په لاس ورانيږي
کال په کال د حیواناتو شمیر کمیږي
هيڅوک نه وايي چې ولې داپه څه
دارمه څنګه په زور وخوري ليوه

چې لیوه شي پکې بند هغه ځا نشته
د غوايي صحت ته فکر دچا نشته

هغه وخت چې نه ډاکتر نه وترینرو
داخوسی په دغه شان کله ډنګرو
هم وابنه پیدا کیدل او هم دانه
په خروار خروار پرته وه پندانه

هر څه لاړه برکت د پخوا نشته
د غوايي صحت ته فکر دچا نشته

ته (پردیسه) مه کوه دا شکایت
دلته خوار دی د غویانو طبابت

که سوونه که زرگونه شي هلاک
تش په نوم وترينران نه راوړي باک

له دي خلکو نه د کار التجا نشته
د غوايي صحت ته فکر د چا نشته
۱۳۵۰\۴\۶

# نسوار

د پاخه سرک لپاسه تف نسواروه
پرې بد رنګه د سرک ښکلی سینګار
وهشپه پرې وتې وه وهلي وه اياس
جګيده ورنه يو تور غونډې براس
تقدير ګوره چې ناڅاپه پيښ پرې زه شوم
چې دا حال مې وليدلو سخت خفه شوم
ما ويل ډير افسوس په هغوچې نسوار کړي
کلي کور بانډه ښارونه ټول مردار کړي
د ټولي لارې يې په ګيره رابهيږي
سپين غاښونه په نسوارو خرابيږي
زما ورونو لږ راويښ شي ځان بيدار کړئ
ښار نه لرې د نسوارو ټيکه دار کړئ
په نسوار کې نه مفاد شته نه خوندونه
خو ارمان چې ورنه ډک دي دوکانونه
ځوانو ښځونه که وپوښتې حالونه
درته وبه کړي ضرور شکايتونه
ښځه ځوانه که څره ده آزاريږي
په ليدو د زيږو داړو خفه کيږي
(پردېس) وايي د نسوارو ياري مه کړئ
زما ورونو دا مرداره نشه څه کړئ
۱۳۵۱\۹\۱۰

# ماموریت

هسې رنګه نن سپک شوی ماموریت
چې راځي اوس له دې نومه خجالت
په کلو به خپل حقوق نه کړې ترلاس
بې پیسو ما مور خراب دی عاقبت
په خالي لاس ماموریت لري جنجال
ماموریت غواړي باړه وریجې رشوت
چې پیدا دي واسطه او وسیله شي
ماموریت ته بیا هله کوه رغبت
د ترفیع اشکال چې څه وي آسانیږي
چې مرکز کې دي موجود وي معرفت
پیسې ورکړه چوکۍ نیسه دایې وخت دی
رایه ګان درنه تیر نه شي دا فرصت
واخله ورکړه پکې یاده په هنرکړه
ماموریت نه اوس جوړ شوی تجارت
پوه هغه چې پکې ځان خپل میلونر کړي
ځکه نشته نن د ښه بد قضاوت
لیاقت پکې (پردیسه) بې معنی دی
لجاجت پکې مقام لري اوچت
۱۳۵۱\۱۲\۱۳\

# ته چې موقوف شې

ته چې خواران اوغريبان ځوروې
زه به په تا باندې عالم خبر کړم
ته چې د بل په غوښو ځان چاغوې
زه به تمام اهل قلم خبر کړم
ته چې له کبره چا ته سم نه ګورې
زه به هر څوک ستا په رقم خبر کړم
ته چې د نورو په سرلوبې کوې
زه به ملګري په يو دم خبر کړم
که ته والي که ته وزير صاحب يې
تا نه آرزو د صداقت لرم زه

کاروته شاه مه ګرځوه هیڅکله
له بیکارۍ نه سخت نفرت لرم زه
درد د وطن د اعتلا پیدا کړه
وطن ته فکر د خدمت لرم زه
په خوله خندا په زړه حسد ښه نه دی
ملي وحدت ته ضرورت لرم زه
بیا به لاسونه ټکوې ځای به دعاروی ګوره
خپل بدعمل به دي په غاړه کې تورماروي ګوره

چې وي ظالم هغه مې بدې راځي
زه د مظلوم سرې پوښتنه کووم
لږ دې نظر په خپل حساب وکړي
له مستوفیانو دا غوښتنه کووم
نن دې خس بر سبا به بل ماتم وي
د کوم یو غم به یادونه کووم
مینه د قوم مې کله غلی پرېږدي
مجبور یم هر ځای کې کتنه کووم

عاقبت نوم به دې اخیستی ما په جار وي ګوره
خپل بدعمل به دې په غاړه کې تور مار وي ګوره

ډیر خوره ګیډه دې دا ستا مړه وي
بل که له ولږې نه کړیږي خیر دی

تــــه دې کبــــان نیـــــسه اوبـــــه خــــړه وه
کــه ملـــت واړه مــحـوه کـیـږي خیـر دی
تـه پـه خارج کـــې چــکـــرونـه وهــه
وطن دې سـور اورکــې سوزیـږي خیـر دی
چــې ځای یې راشي تـوره شــپه کې تښته
کــه څــوک سبا ته بیا خبریږي خیـــر دی

وایي (پردېس) دلسې څوک نه کړي چې هوښیاروي گوره
خپل بد عمل به دې په غاړه کې تور مار وي گوره
۱۳۴۵\۸\۱-کندز چهاردره

# د حالاتو عمومي مظاهره

چا ته تنه چا ته کله لوېږي
ملگرو سخته زنده گي ده دلته
پوښتنه نشته خلک ويره کې دي
په ژړا سر ديموکراسي ده دلته

ای د شلم قرن کمبخت اديبه
ادب اوس ځای د قهقرانيولی
چيرته عالم فاضل سړی چې وو
هغه اوس کونج د اتزوانيولی

حقيقت هرچيرته پښولاندې دی
ډيرو باطل خوا ته ميلان کړی
قتل غارت راکې جايز غوندې شو
ځينو نفسونو سخت طغيان کړی

ته ای خطيبه صاحبان يادوه
په دې دي گوندي مواجب پورته شي

له هغه ژوند نه خو مرگ ډير ښه دی
چې تياره راشي مواهب پورته شئ
ای د وطن درنو غمونو راشی
قلم مې مات ژبه مې بنده کړئ
چې د قومي خدمت مصدر نه شم
ډکه په ما د لحد کنده کړئ

يمه شاعر زړگی نازک لرم
د ظلم اور ته يې نيولی نه شم
چې ويني غوښې مې دقوم خوري
ته ورته گوره زه کتلی نه شم

لوړه کوومه اعتبار پرې وکړئ
په بې دردانو مې حسد راځي
چې تل دخيټې په سودا کې ډوب وي
داسې ميړونه مې ډير بد راځي

يوه کوڅه کې گاونډيان دي سره
يو کوتکمار او بل يو پوه د وطن
د پوه سړي هيڅوک سلام نه اخلي
د کوتکمار سلام ته خلک دي پلن

چاره مې کیږدی په مری باندې
سترګې مې پریږدی چې نګاه وکړي
په تورو خاورو یوځواوښکې توی کړي
د مملکت په حال ژړا وکړي

خلک د علم په وزرو لاړل
مریخ سپوږمۍ تر کهکشانه پورې
په سپینه ږیره زه غویان پیایم
خندا مې ډیره راځي ځان پورې

له موږ نه مزی د وحدت شکیدلی
هر یو د ځان په ګټه کار کوو
د ملي ګټو هیڅ پروانه ساتو
ټول شخصي ګټو پسې ځار کوو

بس کړه (پردیسه) زه دې سترې کړمه
دا حقایق زه نور لیکلی نه شم
زه خو قلم د تا د ګوتو یمه
ستا د زړګي وینې څښلی نه شم

۱۳۵۶\۱۰\۱۴-کندز چاردره

# د انتخاباتو په مناسبت

وکړئ دقت سړی ملي وکیل کړئ
سړی ملي او واقعي وکیل کړئ

چې تاسو خرخ په اجنبیانو نه کړي
ماتې رمې په شنو لېوانو نه کړي
ظاهر یو شان باطن بل شان چې نه وي
لکه ښار و په سیل روان چې نه وي
خداپرست حس د خدمت ولري
چې لږ زره خو لیاقت ولري
د خدای لپاره چې خطا نه شئ
خطا د هیچا په وینا نه شئ
کار د وجدان په اراده وکړئ
اول مجلس بیا فیصله وکړئ
وخت د عمل کې بې پروا نه شئ
په بد انجام یې روسیاه نه شئ
په کوم یو ښه سړي دعا وکړئ
ای عزیزانو لږ حیا وکړئ

ترخو به ځان لکه چرګان خرڅوئ
ترخو به تاسو خپل ایمان خرڅوئ
که دا موحال وي ګورسوخته به شئ
د خدای په لوی قهر اخته به شئ

چیرته که بیا هم موالي وکیل کړئ
وکړئ دقت سړی ملي وکیل کړئ

که پښتانه که ترکمن یاست
ښایسته ګلان د یو چمن یاست
بیګانه ګي او خصومت ونه کړئ
تبعیض د ژبې او قومیت ونه کړئ
لاړشئ جرګه شئ له تاجکو سره
په ګیلم کښینئ له ازبکو سره
ډیر به موټر موټر کمپلې درکړي
څه به اصلي څه به بدلې درکړي
په دې مادي ګټو غلط نه کړئ ځان
قام او ملت ته خجالت نه کړئ ځان
دا ګران وطن درنه ډیر خوار دی ګوره
کار او خدمت ته انتظار دی ګوره
دغه وطن د تاسو کور وینمه
په کښې تیاره لکه د ګور وینمه

تورو تیارو ته چې رښا جوړه کړي
زخمو د تاسو ته دوا جوړه کړي

له خپله منځه کوم زخمي وکیل کړئ
وکړئ دقت سړی ملي وکیل کړئ

وکیل مقام او منزلت لري ډیر
تاثیر په چارو د دولت لري ډیر
هر سړی وړ د دې چوکۍ نه دی
ځای د غوایي او د غواګۍ نه دی
هره صله هره کله هلته
خوځوي نه شي خپله خوله هلته
ای عزیزانو وکړئ پام تاسو
په دغه کار کې خاص او عام تاسو
د نورو ډول ته ګډیده تر کله
د بل په امر څرخیده تر کله
ای بنده ګانو د پیسو آګاه شئ
ای بې همته پښتنو آګاه شئ
وکړئ کوشش چې ښه سړی پیدا کړئ
هسې ونه شي چې کټې پیدا کړئ
لروسړي قحط يې رجال خونه دی
دا وکالت دی والیبال خونه دی

فرق د لایق او نالایق وکړئ
وایي (پردېس) چې ډیر تحقیق وکړئ

چې وي لایق هغه فوري وکیل کړئ
وکړئ دقت سړی ملي وکیل کړئ

۲۲\۱\۱۳۴۸\بغلان

# خوشحاليږي

ميرزايان رشوت خوري ته خوشحاليږي
موږكان وازدو غوري ته خوشحاليږي

ټپوسان چې د ډيران په سر الوځي
د چرگانو كركري ته خوشحاليږي
د زلميانو گانه توره او ټوپك دی
جينكۍ د لاس بنگړو ته خوشحاليږي
چې په غره كې درزهارشي نامرد تښتي
ننگيالي بيا سرو چړو ته خوشحاليږي
هوښياران د وطن خير غواړي هرڅه كې
جاهلان منځي جگړو ته خوشحاليږي
كار هغه دی چې په خپلو لاسو وشي
احمقان د نورو كړو ته خوشحاليږي
خېټور چې د خوراك بازار پيدا كړي
لكه طفل پيكوړو ته خوشحاليږي

ته (پردېس) كه آس هرڅومره ځغلوې خپل
تميز نشته خلك خرو ته خوشحاليږي

۲۹\۱۰\۱۳۵۳\ايبك

# خفه یــم

فیشني کاکه ځوانانو نه خفه یم
بهرني موډ پرستانو نه خفه یم

چې د نرخ په لوړید و باندې خوښیږي
منډیې کې حناطانو نه خفه یم
قاچاقي دوا له کاره یو ویستلي
د صحي مفتشانو نه خفه یم
چې خرید یې هر بذګر ته خساره ده
د پختې د جلا بانو نه خفه یم
چې په سمه لاره نه ځي په کږو ځي
دې بې رحمه سود خورانو نه خفه یم
چې اخلي رشتونه پرې نفرین دی
دې بدبخته انسانانو نه خفه یم
چې راپورته یې د ژبو مسله کړه
پارلمان کې وکیلانو نه خفه یم

(پردېس) وایي ترې به هیڅ خوشحاله نه شم
ظاهر دوست باطن ټګانو نه خفه یم
۱۳۵۱\۱۰\۱۸-کندز چاردره

# وگورئ

لوڅې پنډۍ اوړده نوکان وګورئ
کمیس جاکټ ویښته بوکان وګورئ

زموږ دخویندو دا جامه نه وه
دلته رواج دغه قاعده نه وه
خویندو وحجاب ورونو دستار لرلو
ملي لباس مو اعتبار لرلو

د لوڅو کونو نن دوران وګورئ
لوڅې پنډۍ اوړده نوکان وګورئ

هغه لمنې پاولۍ دارې نشته
په مخ روپۍ کلیمه دارې نشته
وايي (پردیس) بلا په کور وهي
میرمن مې لنډ کمیس ته زور وهي

زما په مخ اوښکې باران وګورئ
لوڅې پنډۍ اوړده نوکان وګورئ

۱۳۴۹\۱۱\۱۰-کندزچاردره

# څوک

په يوائحې معاش به جوړنه کړي تعمير څوک
څو چې نو ر ورباندې ځان نه کړي زهير څوک

د بلــډ نــګ خاوند ضرور کړی خيانت دی
مـعـلـو مـيـږي کـه يې وګوري په ځير څوک

لاش خـوران واړه واړه بـه تـول اصلاح شي
يو څوغټ غټ قصابان چې کړي ځنځير څوک

که هـر څومره ډيرصابون مبني په ځان خپل
سپين به نه شي چې په بدنوم شي تشهير څوک

نني ژوندون کې کـلـه خـوشـحـالـي شته
د خـا يـن ا و د صـادق نـه کـړي تـوپـير څـوک

تـه (پـرديس) دا انـديښنې مه کوه چـپ شـه
پـه تـدبير به بدل نه کړي خپل تقدير څـوک
۱۳۴۶\۸\۱۴

# زه پوهيږم

زه پوهيږم د يونيم به نه يم خوښ
د رقيب او د غليم به نه يم خوښ
زه پوهيږم ظالمان مې په کمين دي
قصابان خو راته ناست له درده شين دي
زه پوهيږم د سود خور که جوړشي وار
ما به پرينږدي په ځای کې خپل قرار
زه پوهيږم اربابان رانه خفه دي
چې مې گوته پرې ښندلې ده کاږه دي
زه پوهيږم خوجين دی مرور
چې پرون ورنه تير شو يمه بر
زه پوهيږم گيله مند دي ټول مشران
چې ويلی ورته نه شم صيب قربان
زه پوهيږم دوالي خاطر مغموم دی
چې بې صيبه مې اخستی دده نوم دی
زه پوهيږم چې لوی خدای يمه ساتلی
که نه اوم به دغه خلکوژر وژلی
زه پوهيږم دحساس زړگي ښښتن يم
چې له غمه دوطن تل انديښمن يم
زه پوهيږم چې ليکم رښتيا خبرې
راشه گوره که خاوند لرې د نظرې

۱۳۴۶\۸\۱۴ - بغلان

# وړ د لرګویم

وکړم څه چې پیسه دار شم
چې د خلکو منځ کې شمار شم

وکړم څه چې واخلم چانس
چې سیل وکړم د فرانس

وکړم څه چې بخت مې ښه شي
بدبختي زما لمبه شي
دا به څنګه کړم ترلاس
وکړم چاته التماس

تینګ کړم چاسره خپل مزي
څوک په لار راسره نه ځي

دی راپاتې یو قلم
هغه هم درهم برهم

چې شاعر د پښتنو یم
زه (پردیس) وړ د لرګویم
۱۳۴۶\۶\۲۰ - بغلان

# دغواګۍ ناجوړتیا

د غواګۍ وضیعت وخیم دی
سر یې ښکته په تعظیم دی
خوله یې یخه لکه واوره
د مرګي د راتلو بیم دی
که مې دا غواګۍ تلف شي
بیا مې تور خوسی یتیم دی
ربه ته شې مهربانه
د غواګۍ قیمت عظیم دی
تش په نوم شفاخانه ده
پکې هر شی بې تنظیم دی
په دی عصر درخشان کې
رانه ورک عقل سلیم دی
نه پوښتنه نه دواشته
عجیبه غوندې اقلیم دی
نور قومونه لاړه چیرته
قوم زما چیرته مقیم دی

ظاهر روغ خلکو ته ښکارم
پټ مې زړه له غمه نيم دی
چېرته لاړشم چېرته کښېنم
رانه خوار ملي تحکيم دی
تظاهر فيشن به څه کړم
ساده ګي بهتر تعليم دی
دا به نه وايم چې ولې
طب په حال کې د قديم دی
د لقمان نسل ويده دی
ياخو جهل ته تسليم دی
دی قصور په جامعه کې
قوم ته چا کړی تفهيم دی
ای (پرديسه) په ځای کښېنه
دا بيان اوس نا تقديم دی

۱۳۵۰\۴\۴-کندز چهاردره

د [ ۱۳۵۰ ] کال د سرطان په لمړۍ ورځ چې زما د شيد و غوا، ناجوړه شوه او د تداوی لپاره مې خپل نژدې د وترينرۍ مديريت ته مراجعه وکړه خو هلته د غيرمثبت فعاليت سره مخامخ شوم ، دا شعر وليکل شو.

(پرديس)

# د بزګر غمونه

چې غمونه کوم په مادي
د هغــو نومــونه دادي
اول معاش د قریه دار دی
چې ناحقه په ما بار دی
بیا غله د کوکباشي ده
چې مې خوا متلاشي ده
نور جرمونه د میراب دي
چې وتلي له حساب دي
بل د ډم غنم اوجوار دي
چې منلي مې ناچار دي
بل محصل ته محصلي ده
چې په ما باندې حتمي ده
که روا او ناروا دي
د هغــو نومــونه دادي
یو د پښ نه یم قرضدار زه
پوره درې منه پاک جوار زه
بل نداف رانه شاکي دی
د ډانډس حق یې باقي دی

بل سود خورکړم پور وړی
په رنګ ځیرېږم لکه مړی
ډیر بذري غنم دین دار یم
د ترویج معامله دار یم
بل مې وړي ده یوریا
هم فاسفیټ فعلاً نسیا
چې جرمونه یې تر شادي
د هغو نومونه دا دي
یومې خوار نصیب قسمت دی
بل مې برخه مصیبت دی
نور مې عزم مردانه دی
یګانه په زمانه دی
بل آزاده مې قلم دی
هرګذار یې لکه بم دی
رفاقت مې بې ریا دی
د هرچا سره رښتیا دی
بل اولاد، زه، د پښتون یم
ښه خبر په ټول مضمون یم
چې له چا، نه راځي ډار
تل لیکم داسې اشعار
اوریدلي چې هرچا دي
د هغو نومونه دا دي

۱۳۵۰\۹\۴ -کندز چهاردره

# د اوښ قيصه

اوښـه دنگـه اوښـه سـتړی مـه شې لـږ بيمار ښـکارې
تـه خـو پـه گرمـی کې دلتـه نـه وې ولـې خـوار ښـکارې

زه خو دلتـه نـه وم د بدخشان پـه لـوري تللـی وم
دنگـو هسکو غـرو د گـران هيـواد تـه ورختلـی وم

ښـه نـو گرانـه اوښـه اوس کيسـه د سياحـت وکـړه
بيـان د لارې حـال کـړه پـه مـا دغـه مرحمـت وکـړه

بيـان بـه درتـه وکـړم ټـول سفـر مـې درد سـر و
رهبر مې پـه دې لاره کې يـو شين بې عقلـه خـر و
بـل بـار چې زمـا پـه شـاوو، وزن يې ډيـر وو لـه مقدارنـه
کيسـه مې نـوره څـه پوښتې توبـه لـه دې روزگـار نـه
خـوراک څښـاک مې نـه وو کـه هـر څـو بـه مې ژړل
کـه لـږ بـه چېرتـه سـست شومـه وهل بـه مې خـوړل
قطـار قطـار مـوټروو سـره سـم پـه سـرک تللـم

خو ډیر به وخت ناوخت د دوی د لاسه ځوریدلم
سهار نه تر ماښامه به را باندې دا زحمت وو
مزل په دغه لاره هر ساعت په ما قیامت وو
که میږې وې که وري وه چې په لارکې کوډیدل به
هغه مې هم په شا باندې راتله او باریدل به
د بار د اړولو ځای مې نه وو حیرانې وه
مالچر هر چیرته وران وو د کښتو نګرانې وه
بغیر له وچه خوره چې پکښې به اړول موږ
بل ځای ددمې نه وو که هر څو پسې کتل موږ
ژوند په غم ککړ دی تول زموږ د بادارانو
اکثر یې سیلابونه وړي خوراک شي د ماهیانو
نور رانه څه مه پوښته مانه پریږدي کیسوته
دا زه لویه ارواح یمه چې تینګ یم دې غموته

ویره له چا مه کوه راغلې آسانې ده اوس
موجود ملي دولت دی دفکرونو آزادې ده اوس
پروا، د هیچا مه کوه بېغمه دا کیسه وایه
حال دخپلو ستونزو په هرځای کې همېشه وایه
راشه دلته چوشه یو ساعت استراحت وکړه
بیان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

ښه ده ډېره ښه ده نن به زه درته کیسه وکړم
چې ته راسره مل شې نوله چا به زه اسره وکړم
زه خو تل خفه یم له دې خپلو خاوندانونه
دا قام به تر څو پورې ډوډۍ غواړي اوښانونه
ښځې اونران یې ټول له علمه بېنوا گرځي
داکمبخته خلک همېشه کډې په شا گرځي
د مخ سري یې نشته مال یې خلک په هنرخوري
مدام پر دې وارونه داکوچي خلک په سرخوري
عیشونه راحتونه دي تمام ورځني هېر
بې رحمه ستمگر یې دي له غوښو نه چاپېر
څوک لیږي زندانوته په چاکړې شخصي کارونه
مدام یې عرضه کړي دي دې خلکوته غمونه
محصول د خپلو مېږو اچوي د دوی نسوکې
پوټکي کلاه باب ورنه اکثره ځي تحفوکې
ټول عمر خوار او زار دي کوي نورو ته خدمت
مشران ورته قابو دي ورته گوري مصیبت
حیران یمه بې شانه چې دا څرنگه قدرت دی
چې تر اوسه په هیواد کې لا په خلکو مسلط دی

ته عجب ساده یې دازموږ قومي تنظیم دی
ډېر یې لوچکان دي چې نظام ورته تسلیم دی

اوس نو گرانه اوښه لږ څه غور یو ساعت وکړه
بیان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

بیان به درته وکړم اوس نیولی مې تصمیم دی
لیدلی مې په سترګو د ثاني جنت اقلیم دی
چې تېر شو له (چناره) هوا بله وضعیت نور شو
نسیم د پسرلي د قافلې په سر راخپور شو
چې ورغلو (ښېوې) ته پیغلو جوړ کړه اتڼونه
آرام ستړي کوچیان شوه ورنه لاړ تکلیفونه
(ښېوه) د بدخشان په ولایت کې شنه ورشو ده
ګلان پکښې پریمانه دي معموره له غُنچو ده
لوی ډنډ د ښاپیرۍ بدرۍ ولاړه په دې مکان
ترې شاو خوا پریوځي دغه ستړي مالداران
دا هغه عظیم ډنډ دی چې بدرۍ پکښې غوپه شوه
ورپېښه شهزاده ملوک ته سخته اندیښنه شوه
وایي شهزاده ملوک ګویا شو په دې شان
ای خدایه په دا ډنډ کې راپیدا کړه ډیر کبان
چې تنګه کړي بدرۍ بې بې او راشي ترې بهر
دا سوال د ده قبول شو کبان راغله پسې ژر
چاپېر په اتفاق شوه د بدرۍ خیالي پښو نه
د حُسن ملغلرې مخ را وویست له اوبو نه

آواز يې په ملوک کړ چې ماهيانو کړم ناچاره
خپل لاس دې هله راکړه چې در وځم گرانه ياره
ملوک له خدايه وغوښتل چې ورک دغه کبان کا
په امان يې له ضرره دا زما د زړه درمان کا
کبان تر ننه نشته په دې ډنډ کې يو دانه
بيشکه عاشقان خو خدای ته ډير وي ناز دانه

په خوله دې برکت شه اوښه نورهم دا صحبت وکړه
بيان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه
ښه نو په دې سيمه کې نور څه شوه در عيان
ای اوښه بختوره کاشکې زه دې وای څاروان
قلم مې لاس کې نه وای ستا په څنگ کې وای روان
قلم نه دی خنجر دی اوس يې نه وينم دوران
عمل مې د قلم سره اوس نه لگوي ډډه
قلم مې روغ صفا دی خو زه پياز وهم په بډه
قلم مې په ژړا دی وايي دا منلی نه شم
نورې زه بيخونده قصيدې ليکلی نه شم
قلم زما له کاره اوس بيشانه گيله مند دی
باور را باندې نه کوي بيخي په ما شکمن دی
قلم مې وايي ځان کړه د خپل قام مخکې قربان
پريږده پس له مرگه تاريخي نوم په جهان

زه وایمه قلمه داسې مه وایه آګاه شه ته
یو څو ورځې دوران دی لړ زما د رنځ دواشه ته
موټر څلور پنځه راته پیدا په چل هنر کړه
خراب کړه ډیر کورونه خو دا ما ژر میلونر کړه

ته اوس ای ګرانه اوښه زموږ په منځ کې قضاوت وکړه
بیان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

پوښتنه له ما وکړې بیا شروع کړې خپل دفتر
بې سده راته ښکارې یا دې نشته سیم او زر
یا ډیر غټ کلان کار یې ښایي خلکو ته خپل ځان
یا لوی ساده انسان یې چې تیر وځې په هران
که اورې مې کیسه نو غوږ د کیږده چې روان یمه
نور مې حصار نه کړې دې مکان نه ګریزان یمه

ځار دې شمه اوښه غوږ دې نیسمه کیسې ته زه
په خوندیې راته وایه در ګرځمه ښېوې ته زه

ښه نو راته غوږ شه چې تعریف درته ښېوه کړم
چې ته پرې خوشحالیږې ضرور دا بیان به وکړم
ښېوه له هره خوا نه ده قابله د صفت

خوندي دی په ښېوه کې د هیواد ملي ثروت
که مېږې که اوزې دي که غوايي دي که آسان
دا ټول دي د ښېوې په میدانونو کښې روان
چې راغلو دغه ځای ته بیا بېغمه ټول اوښان شو
ماړه شو په وښو باندې آرام په دې مکان شو
خوراک دلته مزه کاندي چې ښې اوبه لرینه
که تیږې نس ته اچوې اوبه يې هضموينه
قربان شم له دې سیمې نه له ډیرو سیموښه ده
زموږ د ګران هیواد افغانستان يوه حصه ده

خیر یوسي ای اوښه په تفصیل داحکایت وکړه
بیان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

ښېوه د بدخشان ده ډېره ښکلې او زیبا
بیا هم غمونه ډیر دي په کښې واوره دا وینا
ډوډۍ په مړه ګېډه په کې چا ته نه رسیږي
جنت غوندې محیط کې خلک لوږې نه کړیږي
بې رحمه قاچاقبر ورته ترياک راوړي په پټه
اخر به دغه خلک ددې قوم اوباسي سته
چې کله به دا خلک له دې بد عمل خلاصیږي
د ګل غوندې اینجونې په اپین باندې خرڅیږي

اخته په مذلت د دغه ځای ښځې نران دي
ژړا فرياد يې خيژې بد قسمته انسانان دي
غټې توري سترګې جينکۍ د دې کوهسار
کوي د دوی په حُسن بدخشان تول افتخار
افسوس چې بې طالوع دي نه لري ښه لباسونه
پوټکي د څارويو دي د خوارو کميسونه
دا اينجونې خوارې زارې که په غاړه ښه کالي کړي
پيمخې د جهان به تول خپل ځان ته سلامي کړي
لعلونه دي بې قدره دايرو منځ کې ځليږي
ګلونه د بيديا دي بې ديدنه تباه کيږي
زه دې سترګې وخورم دا ويل که زياد اوکم کوم
ژاړمه په چيغو د دې خوارو خلکو غم کوم

پريږده دغه چيغې لاړشه غم وکړه د ځان ته
تول عمر چاپير يې خورې د غرو نېره ځوځان ته
دلته ځان ځاني ده اوس د چا په هيچا پام نشته
مخلوق په غم ککړدی قراري دخاص اوعام نشته
دا خبرې پريږده خوارشې غم دخپل صورت وکړه
بيان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

ډک به دفترونه شي که کړم تول بيان زه

په ډير زحمت يم تللی تر حد د بدخشان زه
يوه ورځ په لار شوم لوړې نه په تنګ
د سرک د غاړې ونې ته مې وکتل په ځنګ
کتل نه وو بلاه وه په جنجال يې واړ ولم
له ورايه چپرته زه خوار باغوانانو وليدلم
څو تنه را چاپير شوه ورک يې مانه لر او بر کړ
روان يې کړم حکومت ته رانه جوړ يې اخلال ګر کړ
دولسوال په لاس يې ورکړم رانه و نه شوه پوښتنه
بې جرمه بې تپوسه لوی زندان ته شوم دننه
ژړا به مې کوله چې راپيښه څه بلاه شوه
په تش کتو د ونې ملامت دا مې سزا شوه
پوره لس ورځې بندي ومه زندان کې
کړيدم به د وړې جونګې هجران کې
خاوندمې چې مجبور شو لاړ و ژر کوچي ارباب ته
ارباب يې ژر ژر را وست د ولسوال صاحب دربار ته
ارباب ژبه چالان کړه دولسوال صاحب په صفت
ويل يې ستا عالي مقام دې خدای کړي نور اوچت
ټول ته يې دا خو ستا د لوړې پوهې فضليت دی
قابو په دغه سيمه کې چې هر راز امنيت دی
دا تاسو بريتورو چې اشغال کړه ښه پُستونه
رڼا ده خپره شوې سر ته رسي ښه کارونه

ولسوال شو ډير خوشحاله ويل يې ښه اربابه وايه
چې کـډې د مـالـدارو رسيـدلـي تـر کـوم ځـايه
ارباب ويـل صـاحبـه سريې تېر شوله کوکچې نـه
خــو کـډه د (لنډوک) لا وتې نه ده دې حصيـې نـه
يـو اوښ يې تـش د ونـې پـه کـتلو گنـاه گـار دی
يـو څـو ورځې تېريږي چې د تا پـه بند حصار دی
د ده جـريمـه واخـلـه ای صـاحبـه قـــدر دانـه
زمـوږ اوښ کـړه راخـوشې چې را وځـي له زندانـه
ولـسوال تـاوکړه بريتونـه چې چـاره نـه گـورم بلـه
اخــر بيــه زمـا يــې جـريمـه تـرې واخــيستلـه
پـس له هغې خلاص شوم زه بدبخت بندي خانې نـه
خـالق دې هـر څـوک ساتـي لـه داهسـې زمـانـې نـه
خـالق دې هغـه څـوک کړي پـه خپـل قهـر مـبتـلا
چـې غــواړي د پـيـســو لـپـاره نــورو تـه بــلا

دا هم اوښه ووايه خـدايه دوی تـه هـدايـت وکـړه
بـيـان د لارې حال کـړه پـه مـا دغـه مرحمـت وکـړه

دولـس کـالـه کيــږي چـې راځـم دلتـه مــدام زه
وينمـه پـه سترگـو د دې سيمې خـاص اوعـام زه
دا خپل ښکلي محيط کې عاجزان ډير وارخطـا دي

له هر قسمه نعمته د دنيا ټول بېنوا دي
څوک لوڅ دي څوک يې وږي څوک ناجوړه بې دوا دي
ژړا فرياد يې خيژی خوار و زار په دې دنيا دي
وايي په دې ځای کې شته کانونه د سرو زرو
هم غرونه د دې سيمې ټول دي ډک له ملغلرو
خو نشته داسې څوک چې دا کانونه رابهرکړي
چې لرې خوددې خاورې له احواله ځان خبر کړي
ياقوت او زمرد دي بل دي پټ دلته لعلونه
دروغ په دې کې نشته پرې شاهد دي تاريخونه
کوکچه ده د دې سيمې ټوله ډکه له طلا
ودان به دا ملت کړي که تسخير شي دا دريا
د اوسپنې او مس نه دلته ډک دي ټول رغونه
خو نشته داسې خلک چې ترې واخلي مفادونه
هستي ده لويه دلته که څوک شي ورته دقيق
طلا (شهربزرگ) کې (بهارک) دی ټول عقيق
پوهان او عالمان که دلته کيږدي قدمونه
په غرو د بدخشان کې پيدا کيږي ډير کانونه
ګنجونه دولتونه دلته دفن دي پريمانه
مرقوم دي کتابو کې دا زه نه وايم له ځانه

قربان دې شمه اوښه ذا وينا په وضاحت وکړه

بیان د لارې حال کړه په ما دغه مرحمت وکړه

نور به درته څه ددې غمجن محیط بیان کووم
زه همیش فریاد په بده ورځ د بدخشان کوُم
د دې زهیرو خلکو خوله کې نه وینم خندا زه
قسم دی دا خبرې درته کړمه په رښتیا زه

دا خبرې مه کوه ای اوښه پریشان دې کړم
پای به د دې خلکو آخر څه شي هک حیران دې کړم
نورې کیسې وایه مختصر کړه دا بیان اوښه
خبرې د خپل ځان وکړه په څه دې دی گذران اوښه
خفه یې که خوشحاله راته تېر دې خپل حالونه کړه
اوسیږې په کوُم ځای کې راښکاره دې راتهٔ خونه کړه

زه او خوشحالي یو سره لرې فرسنگونه
چېرته لاتر اوسه ماکمبخت موندلې خونه
یوه توره کیږدۍ ده ترې پراته یو شاوخوا موږ
لرې له ښارونو اړولې په بېدیا موږ
بارونه د پنبې شرکت ته وړمه زه په شا باندې
رفع مشکلات د دې شرکت دي تول په ما باندې
زما متاک تندی اوسپیره بخت دې شي په گور

تنګ يــم پــه دنيــا کــې ژوند ون نــه غـــوارمــه نــور

**یادونـه** : درنـو لوستونکو دغـه پـورتنی داوبنن قیصه ترهمـدې ځایـه زمالاس ته راغلي اوپاتې برخه يې ورکه شوې.

**عرفات پردېس**

# تاشقرغان وژړیده

بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړیده
لوی ویر په خلکو ګډ شو سمنګان وژړیده

ماڼی جهان نما ډغره وخوړه محکمه
توبې باسی ای خلکو د فلک له دې ستمه
ماښام د ګل سرخ وچې نازله دا بلا شوه
جاري د هر چا خوله کې کلیمه د لاالله شوه
والي د سمنګان د پیښې ځای ته شو روان
د پاک خدای ابتلاه وه ورته پاتې شو حیران

د خلکو په احوال هغه زمان وژړیده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړیده

ځوانان لکه ګلان غتو ډبرو سره لاړه

اجل چې د دوی راغی له موټرو سره لاړه
تنګی په وینو سور شو د معصومو انسانانو
خالقه پرده وساتې د ټولو افغانانو
د خُلم د زیبا بازار نه جوړه کندوالـه شوه
پیدا سر ماښام کې چې شدیده زلزله شوه

تورسرې بې پردې شوې ماشومان وژړیده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړیده

ورانه د سخي شاه مردان مهمانخانه شوه
د خُلم ښکلې سیمه مبدل په ویرانه شوه
بازار د ماهرویانو نه ژر لاړه تازه ګي
زړګی د ځمکې وچاوده ترې پورته شوه لوګي
چپاو د زلزلې صیاد [۱]ته راغی ناګهانه
بیوزله انسانان پکې له څیرمې شوه پرېشانه

چې جوړ دا مصیبت شو ټول صیغان[۲] وژړیده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړیده

[۱] صیاد دخُلم په منطقه کې هغه کلي ته وایي چې تنګي کې واقع دی
[۲] صیغان قبیله چې دننه په تنګي کې سکونت لري او د دې زلزلې سره یې تقریباً ټوله اباديٍ له منځه تللې.

تياره د مصيبت په دغه ښار باندې خوره شوه
هر چا ويلې خيرکړې د قيامت غوندې شېبه شوه
د ژوند او مرګ په منځ کې پاتې لږه فاصله ده
ځمکه لا خوځيږي د پسرلي اوله شپه ده
د غره له سره پرخه راغله پرېوته په لار کې
زيارت ته روان خلک يې ټول و درول په ډار کې

د پېښې ځای کې ښکيل هر يو انسان وژړيده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړيده

ټکه الهي وه چا رانه وړ ورته تاب
پلونه کانکريټي يې کړه په يوه جټکه خراب
اغاز د پسرلي وهيچا نه کړودا ګمان
چې سير د زمانې سره به راشي سخت طوفان
هوارې به په ځمکه شي کوټې او کلاګانې
پګړې به شي د ډيرو سرکشانو پکې ورانې

زلزلې چې ټکان ورکړ سرکشان وژړيده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړيده

په شمار اته ويشت کسه کمبختان له منځه لاړه
له دې فاني دنيا نه په ارمان له منځه لاړه
پنځوس نفره نور پکې زخميان راووتل
وادي د هلاکت نه په نيم ځان راووتل
ډېرگونه پاتې خلک پکې نور بې خانمان شوه
خدای دغه ازمېښت ته ښځې نر پاتې حيران شوه

گډوډ د سيمې حال شو بيک اوخان وژړېده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړېده

د ملت عظيمه مشر ته چې عرض دغه خبر شو
د پېښې په وقوع باندې شديده متاثر شو
لار ښود د انقلاب چې ځوک پرېشان ليدلی نشي
اولاد د گران وطن ناست په خفگان ليدلی نشي
خېمې دارو درمل يې ډېر راولېږل حوزې ته
د سرې مياشتې په لاس راغله د ځُلم منطقې ته

که لروه اوکه بروه افغانان وژړېده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړېده

جبران د خسارې ته په ښه غور کيږي ځار
ډېر ژر به اعاده شي د دې سيمې تېر وقار

(پردېسه) چاچې کړې د دې خلکو سره مرسته
د هغوی ښکلي نومونه ونه باسې له لیسته
لومړی پکې شامله نوابي د بلخ والي کړه
بیان د شعر په ژبه ته د ده بشردوستي کړه
قلم مې په تحریر د دې داستان وژړیده
بلاه راغله ناڅاپه تاشقرغان وژړیده

۱۳۵۵\۱\۶ - مزارشریف

۱ او ۲ د صیغان قبیله چې دننه په تنگي کې سکونت لري او د دې زلزلې سره یې تقریباً ټوله آبادي له منځنه تللې.

# مروره میږه

د تاریخ په ښکلوپاڼو کښې تحریر دغه خبره وه
په میږو کې یوه میږه د موسی نه مروره وه

په لویو اندیښنو کې لاهو شوی پیغمبر و
چې میږه ولې نه شمه نیولی متاثر و
حیران و څنګه میږې پسې نشم رسیدلی
عجیبه غوندې موضوع ده په حال نشم پوهیدلی
په دې وخت کې ناڅاپه خواجه خضر راښکاره شو
له ورایه د موسی کلیم الله په ننداره شو
د غرو هغه سلطان میږه معطل په اشاره کړه
نښه د قدرت وه پاک الله ورته ښکاره کړه
موسی په ډیر ادب میږه په غیږ کې ونیوله
په سر او په صورت یې ډیر په مینه ښکلوله
ویل یې ګرانې میږې ته خفه له ما په څه یې
چې پریښې دې رمه ده او روانه مخ په غره یې
د ده په دې ویلو میږه لا بوکه ببره شوه
رمبار یې وهلې نوره هم متاثره شوه
موسی که هر څه عذر ورته وکړ دل آسا نه شوه
هماغسې نارامه وه دا میږه هیڅ هوسا نه شوه

موسی چې شو ناچار لکه باران وژړیده
له ویرې د خپل ځان هغه زمان وژړیده
موسی ویل ای خدایه زه چوپان د دې رمې یم
مسوول په خصمانه باندې هر آن د دې رمې یم
په دې کې که یوه رانه یا ګوډه یا زخمي شي
یا پاتې چېرته ورکه یا زما ځني شاکي شي
پوهیږم ای خالقه ته پرې حتماً خفه کیږې
په دې ډول عمل باندې ضرور نا رضا کیږې
وایي هغه میږه د الله په لوی قدرت باندې
د دوه پیغمبرانو د دعا په برکت باندې
په غره کې هلته لنګه شوه بچې یې راوړه دوه
یوه ښځه بل یې نر و شو جهان پرې ښایسته
تشکیل قره قلي ده د هماغې زمانې نه
راغلي دې جهان ته د خُلقت د کارخانې نه
(پردېسه) په موضوع باندې داخلک ټول خبر کړه
د میږو په ستاینه کې مدام عمیق نظر کړه
میږې وای اوزه وای او د غرولوړې ژورې وای
پاتې رانه تل دغه زما او ستا خبرې وای
۱۳۵۸\۶\۱۷

# زما دریشي

اول دبل وې اوس په خوند واغوستې مادریشي
معلومه نه ده پس له ما به شي د چا دریشي

په لیلامي کې مې تنها پیدا کړې
پس له چنو وهلو ما پیدا کړې
اشنا دوکان کې مې نسیا پیدا کړې
ته مې په بیه د خمتا پیدا کړې

پاک الله راکړې له غیبونه وړیا دریشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې مادریشي

مخکې له مانه ته کافر اغوستې
قوي بد خوا د پیغمبر اغوستې
په رقص او ډانس کې یې اکثر اغوښتې
د خدای دښمن د دین منکر اغوستې

اوس درکې زه کووم مونځونه واوره دا دریشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې مادریشي

تیره میاشت ګاټ کې دغه خوا راغلې
له براعظم د اروپا راغلې
ظاهر کېږه باطن بلاه راغلې
یوه ناڅرګنده معما راغلې

چې دلته راغلې مور ته سر شوې په ژړا درېشې
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما درېشې

مور دې غمونو کې غوټه ولیدو
په بلاګانو دې اخته ولیدو
په سرو لمبو دې لولپه ولیدو
ټول دې له یو بل نه خفه ولیدو

درته ښکاره شوې زموږ ټولې نیمګړتیا درېشې
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما درېشې

سره له دې نه مې مجبور واخیستې
ته مې له مخې د ضرور واخیستې
نام خدا ما غوندې مامور واخیستې
ظاهر صحت باطن رنځور واخیستې

اوس خوشحالي کوه هوس کوه خندا دريشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما دريشي

چې کرم ځره تا مکافات ورکووم
چا ته دی زه په ډير احتياط ورکووم
کوم يو غريب ته دې خيرات ورکووم
تا به ضرور دخدای په جات ورکووم

په دې عمل به زه جنت ګټم په تا دريشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما دريشي

کله غريب ته چې په غاړه شې ته
په يوه نري شمال به لاړه شې ته
تورو ګردوکې به لتاړه شې ته
اول اوربونه به رنجاړه شې ته

ورسته به دوارو ځنګونه شې جلا دريشي
اول دبل وې اوس په خوند واغوستې ما دريشي

ګورم په دې بڼه چې تا ، زه
هر چېرته سريم په ژړا ، زه

یم ظهیر کړی دې دنیا ، زه
شوم جنده پوش د بل یوچا ، زه

په دې عمل یم همېشه وږ د خندا دریشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما دریشي

وکړه یقین چې د سزا وړیم
زه خپل وجدان ته په رښتیا پړیم
په شته جایداد کې د هرچا اړیم
وایي (پردېس) مرګ نه پخوا مړیم

دا چې په نوم د ژوندي ګرځم څه مانا دریشي
اول د بل وې اوس په خوند واغوستې ما دریشي

۱۳۵۳\۶\۱۲ - کابل آرین هوټل

تاريخي سند ۱۳۵۷\۱۰\۱۱

د خپل کلي قيصه وايم
ښه يې په مزه وايم
کورونه په دې کلي کې څلور رائې په شمار
دروغ نه دی دا گفتار
څلور کورونه جوړ دي
خبرېږي ځوان وځوړ دي
په دغه واړه کلي کې پرته لويه دنيا ده
وينا زما رښتيا ده
د دې کلي وگړي
څلور ميندو راوړي
څلورو خواته تللي
چارک په کې ځوک نشته هر يوځان گڼي خروار
دروغ نه دی دا گفتار
دوکسه حاجيان دي
ددې کلي مشران دي
په ما باندی ډير گران دي
جومات د دوی د لاسه پاتې شوی بې ملا دی
د کلي حال تباه دی
لوگر ترې لاړ په ډډه
قوال ترې وکړه کډه
زيک ترې تاوکړه بډه
دخپل چې را په زړه کړم هغه گړې توبه وايم

د خپل کلي قيصه وايم
سنه پينځلسمه
هيڅ نه وه زياتو کمه
وينا مې راغله سمه
چې راغی چاردرې ته جوړ د سيند خواکې دا کلی شو
وړوکی کاروان پلی شو
حاجي محمد سرور وو
هادي د دې ټبر وو
راوتی په سفر وو
اوس د اغريب بوډا دی پرې درود هره لحظه وايم
دخپل کلي قيصه وايم
زما پلار سعدالدين
چې ستنه ده د دين
په لوړ عزم متين
په دغه قافله کې لوبولی ښه کردار
دروغ نه دی دا گفتار
د اووکالو هلک وم
ښو نه ډير چابک وم
ماهره د چنگک وم
چې سيند مې وليدلو
د کبانو جوړ غوبلو
ښکار مې ډير کبان کړه

رابیل مې لقه ګان کړه
کاله ته مې روان کړه
ادې مې په دې کار څپیړه راکړه په غُصه شوه
له قهره تکه سره شوه
چې دا به زه اوس څه کړم په څه به یې پاخه کړم
عجیبه ښکلی زمان وو
قانع هر یو انسان وو
ساده ژوندون روان وو
قسم دی که په دې کې به زره مبالغه وایم
د خپل کلي قیصه وایم
د پاڼ په سر کور ونه
د پاڼ لاندې ځنګلونه
خوګان په کې زرګونه
د هرې غوړګې بیخ کې شغالان وه په ونګار
دروغ نه دی دا ګفتار
د ماشو په غُلغل کې
د ورګو په غوبل کې
ثاني خوله دا جل کې
را پریوتل ناڅاپه شنه طوطیان د ننګرهار
دروغ نه دی دا ګفتار
دا کلی څلور کوره
دی خلاص له خپل کلتوره
پوښتنه مه کړه نوره
نهضت د اورپا ورته راغلی دی له وخته

پښتو تللې له دسته
لمنې پا ولیدارې
روپۍ کلیمه دارې
په مخ نه وهې لارې
مجنون رانه جوړ شوی چې کوم داسې فکرونه
راځي ډیر ارمانونه
آغاز د نوي ژوند دی
اخیستی مې ترې خونددی
لوړ شوی هر مرکند دی
په سپینه ږیره ځوان شومه شعرونه مستانه وایم
د خپل کلي قیصه وایم
ډاریږم په ایمان
چې نه شي رانه زیان
دا وخت دی د خسران
چې له کوره بهر وځم هر قدم کې راځي ډار
دروغ نه دی دا گفتار
قربان د قوم له ځنگه
شم ځار د قوم له رنگه
غني له ډیر فرهنگه
دا کلی ځلور کوره اوس لري ډیر میړني
د میني لیوني
دې کلي کې ځوانان شته

هوښياراو پوه کسان شته
غښتلي انسانان شته
لمړی به هغه یاد کړم چې معارف کې کوي کار
دروغ نه دی داگفتار
اوه کسه استادان دي
تازه نوي گلان دي
د خاورې خادمان دي
قضا ته رسيدلي هم د دې کلي ځوانان
ته واوره دابيان
سپین زر او زراعت کې
داخلک دي عزت کې
لگيا دي په خدمت کې
زه خپله هم مدير يم خو د ځان خبرې نه وايم
د خپل کلي قيصه وايم
عمرونه ځي تېرېږي
تاريخ نوشته کيږي
هيڅوک نه پاتې کيږي
له وخته گټه اخلي هغه څوک چې وي هوښيار
دروغ نه دی داگفتار
داکلی څلور کوره
د رب قدرت ته گوره
ډیر ژر شولو سمسوره
ځمکې جبه زارې شوې بدلې په گلانو

په زور د دې نـــرانـو
مهـار يې طبيعت کړو
ثابـت يې حقيقت کړو
آغـاز يې فعـاليت کړو
اوس يو په کې خوار نشته دا په ډاگه درته زه وايم
د خپل کلي قيصه وايم
چې راغلو چهاردرې تـه
دې وراني جزيرې تـه
غوږ ونـيسه مصرې تـه
په ټولـه چهـاردره کـې يـو مـلامحـمدولي وو
چې دا زمـوږ قومي وو
د يو وطـن مـرغـان وو
د يو چمن طوطيان وو
د يو سنگر سپاهيان وو
په گټه او نقـصـان کـې مو شـريک گڼل ځـانونه
وه يـو زمـوږ فـکـرونه
اوس نشـتـه هـغـه فکر
هر څوک د ځـان په ذکر
هر ځای کې ډير شو مکر
زه هم لگيا په چل يم چاتـه ورور وچاتـه تـره وايم
د خپل کلي قيصه وايم
جـلا د خـــپـل د ياره
لـه خـوږه ننـگرهاره

وه ورکـــــه رانـه لاره
روزگار پـه دې محیط کې ډیر قوي وو د ازبکو
پښتـون وو پـه ترپکـو
یـو کـال لا نـه وو تـیر
زمـــا لا نه دي هـیر
خوشحالـه شومـه ډیر
وزیـر محـــمدگل خـان راغـی شمـــال تـه
زمـوږ حـال و احـوال تـه
رښا وه راخـــپره شـوه
بـر هـمـه خـطره شـوه
شـروع نـوي دوره شـوه
ځنـگلـونو کې ویده زمریان راووتل میـدان تـه
موږ هلته پوه شو ځان ته
دعوت کړو عیسی خیلو
داخـــبر نه ده د ویـلو
بلـــد نه ووپه تـیلو
د نن پـه څیر خو نـه ووچې پـه تیلو کې قورمې وهو
غــوړې نـوالـې وهـو
سوکـه هغـه عـادت لاړو
د ژبـې اهـمـیت لاړو
ټـول مقـــاومـت لاړو
اوس ما ملامت نه کړې چې مړځ ته بودنه وایم
د ښیا کلي قیصه وایم

چې راغلو همسایه شو
ارباب سره دیره شو
بلد په منطقه شو
ارباب تغایمراد وو
د خلکو منځ کې یاد وو
په دې ځمکه آباد وو
میراب د څو شاخو و
خاوند د ښو آسو و
دا دوست د پښتنو و
چې څومې تن کې ساه وي دې ارباب ته به تل ښه وایم
د خپل کلي قیصه وایم
د ده ژبه فارسي زموږ ژبه پښتو
خبرې مو کولې د سر په اشارو
ارباب تغایمراد به موږ نه ځارېدو
موږ ورو ورو فارسي دان شو خو ده نه کړه پښتو یاده
خبره مې ربنتیاده
پښتون عجیبه قام دی
زما ورته سلام دی
په خوی لکه غلام دی
چې چا سره پریوتی بیا د هغو ځُم کې رنګ دی
کور د پښتون رنګ دی
په دې توره تیاره کې
چې اوسم چاردره کې

ایمـــان لرم کله کې
دا پاکه پښتو ژبه مې مــدام په اوداسـه وایم
د خپل کلي قیصـه وایم
د ژونـــد نتیجه دا ده
چـــې پاتې دا دنیا ده
آخر بلــه مـــاواده
لـه مرگه خلاصی نشتـه هرڅوک درومې پخپل وار
دروغ نـه دی داگـفـتار
آغـاز مـې د ځوانـۍ وو
ژونـدون د حیرانـۍ وو
گـــذران د دهقانـۍ وو
تولـه شپه به ناست ومه پـتې کې چوکـیدار
دروغ نـه دی داگـفتار
یو سپی مې وو چابک
پوهیـده په واړه څرک
په نامـه وود جینجک
یوه شپه په خوب ویده وم راویښ یې کړم له خوبه
راویښـــوده دالـوبه
چې گـورم ځناور دی
راغلـی په ډگــر دی
ولاړ بـــبر بـبر دی
راتاو ورنه داسپی دی پرې کوي سخت غور ځنگونه

زمري غونډې تاختونه
د هغه وخت دنیا وه
هم دا یې تقاضا وه
چې سپی لویه کلاوه
کنډرې او کپې وې اوسیده په کې وګړي
ځیر پیړ وه لکه مړي
د هغه وخت سړي دلته
لویان او کوچني دلته
اتلس یادوي دلته
دغه یاداشتونه په سند او ښه ثقه وایم
دخپل کلي قیصه وایم
سپیره وچه لقه وه
نه باغ او نه باغچه وه
سیزونکې منطقه وه
یوازې دخواجه ولي زیارت کې یوخسک ووچې باله یې توت مزار
دروغ نه دی دا ګفتار
نن راشه ګوره حال
ټول خلک دي سنبال
زه هم یمه خوشحال
نیالګي رقم رقم راته ولاړ دي په باغچه کې
همدغه چاردره کې
میوې راته خوږې نیسي
زیړي الوچې نیسي

سرې ځیرې منې نیسي
بادام مې کاغذي دي ترینه ځار بنګ اوکوکنار
دروغ نه دی داګفتار
کندز هغه وخت غم وو
په شان د جهنم وو
تمام مار ولړم وو
را یاد چې هغه وخت شي الله هو هره لحظه وایم
د خپل کلي قیصه وایم
ورانې خیلخانې وې
کورونه کنډوالې وې
جاري دا افسانې وې
که مرګ غوارې کندز ته راروان شه په تلوار
دروغ نه دی داګفتار
آخر دا ناګوارې
تولې شوې اوارې
احداث شوې پخې لارې
موټرې الوتکې تیلفون اومدنیت راغی
چاروکې سرعت راغی
له دې سره محشر جوړ شو
اتم ضد بشر جوړ شو
کور راته سقر جوړ شو
اوس سد مې سرکې نشته نه پوهیږمه چې څه وایم
د خپل کلي قیصه وایم

زندان د سلیمان دی
زما په کې گذران دی
په زړه مې ډیر خفگان دی
د یاس او حرمان اوښکې مې په مخ درومې کتار
دروغ نه دی دا گفتار
ترور او اختناق دی
جهان اوراق اوراق دی
قیامت په دې افاق دی
زرگونه فاسقان نن
د پاک خدای دښمنان نن
په موږ دي حاکمان نن
څوک وژنې څوک شړي د چا ړیره بیا په لاس باسي تار تار
دروغ نه دی د اگفتار
راتیت مې شهامت شو
بدبخته مې ملت شو
نصیب مې فضیحت شو
تقدیر مې د وطن تاکې بې دینه ملحدان
څو کسه مفسدان
قلم مې په ژړا دی
قیامت وینم برپا دی
اختیار مې د بل چا دی
له ډاره مرتجع شوم شپې ته ورځ ورځې ته شپه وایم

د خپل کلي قيصه وايم
چې راغی ترکی دلته
سورلعين روسی دلته
خپور شو مرداری دلته
راغی مصيبت په ټول افغان ملت
په دغه مسلمان ملت
کلي نه ارام لاړو
لاس نه مې زمام لاړو
خوند مې د کلام لاړو
له ځان سره غږېږمه خبرې بېهوده وايم
د خپل کلي قيصه وايم
بهير د طيارو دی
غراری د ټانګو دی
زړه مې په وتو دی
جهان ټول راته ګوري چې وروسانو کړمه ښکار
دروغ نه دی داګفتار
خو زه وايم په جار
دنيا ته داګفتار
له چا،نه راځي ډار
چې ما باندې راغلی هغه وړی نه دې سر
که يو دی او که زر
ورک چې شوروبان نه کړم

خلاص تري تاجکان [۱] نه کړم
وران پري دا جهان نه کړم
لنګی به په سر نه ترم افغان به ځانته نه وایم
د خپل کلي قیصه وایم
ما سره تکړي
د عقل نه دي لري
تل وایم دا خبري
زه ځوی د میرویس خان یم
مطرح په دي جهان یم
محکم لکه سندان یم
د آسیا په زړه کي اوسم د تاریخ یم افتخار
دروغ نه دی دا ګفتار
په ماچي دا حالت راغی
په خاوره مي آفت راغی
غم او مصیبت راغی
قصور دا د چا نه دی زه پخپله ملامت وم
چي کوږ له شریعت وم
رشوت مي ښه ډېل وهه
کور به مي د بل وهه
په شان به مي د غل وهه
چي کرلي مي وربشي نوغنم په کومه خوله وایم

---

[۱] مطلب د تاجکستان خاوره ده .

د خپل کلي قیصه وایم
بې خونده بې خوندي وه
په کلي کې گوندي وه
بې ځایه تربگني وه
ورور د خپله وروره ځوی د پلاره وو بېزار
دروغ نه دی داگفتار
په یواوبل غمجن
په کلي کې یوتن
نه مرد وو او نه زن
پاده باندې هی، هی وونظر به گاوخود
وه هرڅوک متردد
وه خلک غولیدلي
له لارې وه وتلي
سواره وه اوکه پلي
چاموښځ نه کړو له سره چاروژه خوړه په جار
دروغ نه دی داگفتار
د دې فعل نتیجې
را ووتې ترخې
اوس کړمه اندیښنې
چې پای به زما څه شي آینده ته نگران یمه
پاتې حق حیران یمه
که پریږدمه داکلی
له هرطرفه ښکلی

## چيرته به شم غلی

جهان ټول ناآرام دی نو وينا ولې اوږده وايم
د خپل کلي قيصه وايم
د تېر تاريخ قيصې
د فلسطين کمبوج جګړې
دا ټولې شوې زړې
نن اور د جنګ را ولويده زموږ ښکلي ګلشن کې
محشرجوړشو وطن کې
ملګري ملتونه
د چا تاوکړي غوږونه
ويتو وران کړه ملکونه
دغې کشالې ته زه د لويو قدرتو مسابقه وايم
دخپل کلي قيصه وايم
جهان کې هنګامه
نفرين هره لحظه
د وروس په عقيده
وطن يې زموږ وسو د ګوليو په انګار
دروغ نه دی داګفتار

**يادونه**:

درنولوستونکودغه پورتنی تاريخي سندلاتکميل شوی نه وه چې (پرديس) صاحب په شهادت ورسيد.

عرفات (پرديس)

# دمیراب سندره

صفت کړم د میراب
په ډیر ښه آب و تاب
میراب میرغوث الدین دی د خروټو قریه دار
زما دغه گفتار
پرون موټر کې سپور و
د خلکو پسې شور و
ناڅاپه په مخ راغی غیږ یې راکړه په تلوار
میراب دی ډیر بیدار
په دغه زمانه کې
خوند نشته یارانه کې
په تیره پښتانه کې
پښتون چې په خره سپور شي بیا پښې وهي د پلار
زما دغه گفتار
خفه زمینداران
تمام شاخ شریکان
په تیره بذگران
حیران یم چې څه نقد کړم په دې باب

صفت کړم د میراب
رښتیا وکړم خبره
که ځان کړم بې خبره
که جوړه کړم سندره
شاعر یمه ملګرو چپ کیده دي راته عار
زما دغه ګفتار
هرڅوک وایي چې زه یم
ځان نه ګوري چې څه یم
په څه بدو اخته یم
پیسې او دسیسې دي د وطن په ګټه کار نشته
په هیچا اعتبار نشته
سوي مې پخته ده
دنیا په ما ترخه ده
ګردش کې زمانه ده
مامور وم د دولت فلک کړم خوار وزار
زما دغه ګفتار
انګولې مې شړومبې دي
د تاک غوندې ترشې دي
کتغ مې د غرمې دي
قلم په ځای کتمن مې اوس نیولی په لاسوکې

ولاړ یم سرو لمبو کې
دیره په میره تون یم
ملګرو جیګر خون یم
جولا نه یم پښتون یم
که وېش د اوبو داوي ما آخر ګڼې خراب
صفت کړم د میراب
راپورته شئ ځوانانو
د دې خاورې بچیانو
ډار مه کوئ دوستانو
دا خوار غریب ملت درنه شوک نه کړي تار په تار
زما دغه ګفتار
صادق او د خائین
د پاک او د خیرن
تمیز کوئ دانن
له ښو سره نژدې ځانونه بدونه کنار کړئ
ډیر مو پیداوار کړئ
که مې دي که وربشې
دا ټولې نه دي خوشې
خبرې مه کړئ تشې
تولید غله دانه کړئ بیا وهی چلو کباب

صفت کړم د میراب
خواږه عسقلاني
زرمتي غازي ځاني
د ژمې ارکاني
ضرور به تاسو ډیر کړئ چې تول کړي پیسه دار
زما دغه گفتار
قربان له ختکي
هر څوک یې خوښوي
نیک بخت کره به وي
هدیه که در کوان ته شي یو څو بوري کله
تول شاخ به کړي ایله
رابند کړئ دریا بونه
خړوب کړئ یرې دشتونه
نورمه کړئ خوبونه
نه ژونده گټه واخلئ عمر درومې په شتاب
صفت کړم د میراب
سمسوره خپل هیواد کړئ
قومي تعمیر آباد کړئ
ځانونه په کې ښاد کړئ
ترڅو به په کندرو کې خپل ژوند تیروي خوار

زما دغه گفتار
دا عصر د جهش دی
د علمو د دانش دی
تغیر کړئ روش دی
د علم په زور دروميږ ځیني خلک تر آسمانه
خبرې واورئ مانه
سر ښکته کړئ گریوان ته
ژور وگورئ ځانته
تیار شئ امتحان ته
سفر د آخرت ته په خپل ژوند جوړ کړئ اسباب
صفت کړم د میراب
هغه سره سُرسُر
له ده سره برابر
دا کار نه دی د نر
عادت دی دا د ښځو نران گرځي ترې کنار
زما دغه گفتار
زمرو غونډې راوځئ
په غار مه ننوځئ
ډگر نه بل خوا مه ځئ
پرینږدئ ظالمان چې ستاسو غوښې کړي کباب

صفت کړم د میراب
دا شل زره هکتاره
ساحه ده ډیره خواره
اوبو ته انتظاره
په تېره بیا دا سرکال چې ټوله زراعت ده
قابل د وضاحت ده
خبر (محمدي) کړئ
تنظیمه آبیاري کړئ
کارونه خپل جدي کړئ
د اوبو بریښنا وزیر نه ضرور، وغواړئ ځواب
صفت کړم د میراب
چې راشي ما شینونه
پاخه کړي ټول بندونه
شي ورک آب اندازونه
اوچت به هلته لاړشي د دې سیمې پیداوار
زما دغه گفتار
سیندونه د کشور
ترخوبه ځي هدر
ملت خاوري په سر
راځئ په گډه پاچیرو بناء قومي خدمت کړو

چاره د اوبو قلت کړو
د وطن هره دره کې
په سمه او په غره کې
په تیره چاردره کې
اوبه ډیرې بهیږي مګر نه دي لامهار
زما دغه ګفتار
چې لږې شي کوم کال
بروزو کړي جنجال
شي پیښ قتلو قتال
اوبه پاتې په ځای شي بذګران لاړشي زندان ته
بلاه پاڅوي ځان ته
همدا پرابلم دی
چې پاتې آخر غم دی
د ژوند آخر قدم دی
قلم کې مې زور نشته چې پرې ولیکم کتاب
صفت کړم د میراب
په مینه ورکړئ لاس
دهقان ته عام او خاص
د ده وکړئ سپاس
دهقان د بیل په ځوکه آباد کړی دا جهان
پرې وکړئ اطمینان

که نه وي دهقــــانان
د دې وطن بچـــيان
ملــت به شي پرېشان
که ګران درته وطن وي دهقانان نه کړئ خراب
صــفــت کــړم د مــيراب
دهقانان چې لاعلاج دي
د ګوټ اوبو محتاج دي
وتلـــــي لـه رواج دي
شاعـره خاونـدان پرې د قدرت کړه خـبـردار
زمـا دغـه ګفـــــتار
پخـــتـه کـري هــرکـال
خـو دا پـه کې پايـمـال
پـه ځـان نـه دي سمبـال
څه وسوزي اوبو نه څه سورتچي هغه اودا کړي
دهقـــان تالا والا کـــړي
څه تويـه شي پـه ځـمکه
څه تلـه کې شي سپـکه
څلـه لاره کې شي ورکه
څه پته کړي پـه سپينـه رڼا ورځ باندې جلاب
صـفـــت کـړم د ميراب
څو دا هوښيار ساده وي

څو دا نقص او فایده وي
څو دا فیل او پیاده وي
دهقان خوار به وه نه ګټي هیڅکله دا قمار
زما دغه ګفتار
تاریخ نوشته کیږي
رښتیا کله پټیږي
عالم په دې پوهیږي
اوس زره د هر چا خپل دی چې عذاب کړي که ثواب
صفت کړم دمیراب
(پردېسه) کړه احتیاط
چې ونکړې افراط
څوک ښاد دي څوک میرات
چا پورته مناري کړې په چا خاورې شوې امبار
زما دغه ګفتار

۱۳۵۶\۵\۱۰-کندز چاردره

# تقاعدي انګیزې

دیرش کاله زه رسمي مامور وم
ظاهر صحت باطن رنځور وم

ډېر په تکلیف وم ریسانو ځنې
د زراعت ټیکه دارانو ځنې
کندز بغلان او سمنګان کې تېر شو
عمر زما ټول په خفګان کې تېر شو
غوره مالي پېښه مې یاده نه وه
تل به خفه وم خوامې ښاده نه وه
هر ځورور راته ببر غوندې وو
قلم مې لاس کې د خنجر غوندې وو
د مظلومانو په احوال ژړېدم
لکه باران د پښه کال ژړېدم
وینا مې هرځای کې رښتیا کوله
تکیه مې تل په پاک الله کوله
د خائینانو غوندې مست نه وم

قسم په خدای ماده پرست نه وم
تنگه حبه مې تمنا نه وه
دا بده هیله مې له چا نه وه
چې تقاعد شومه قرضدار راغلم
څه مې په لاس کې نه وو خوار راغلم

په هغه ورځې ډیر مسرور وم
دیرش کاله زه رسمي مامور وم

چې کورته راغلم د میزان میاشت وه
هوا سړه وه د باران میاشت وه
ژر مې بېل واخیستو اخېړ مې جوړ کړ
پروړ مې پرېمانه ورکړه ډیر مې جوړ کړ
لاندې (ایمل) پاس مې (لایق) تعین کړ
د ډاگې بیخ کې مې (صادق) تعین کړ
ما ناچارۍ نه گلماله واخیسته
دا وظیفه مې نازدانه واخیسته
ورو، ورو په کار باندې لگیا مو، شو
خلاص د اونۍ په انتها مو، شو
وروسته بیا خرڅ شوه سُخندران رانه
اومه محتاج لاړه ارزان رانه

روپۍ یې څه رانه په ورو لاړې
څه په دوا څه په غورو لاړې
وورسته پخته کې نصفه کار راکړې
روپۍ یې شل زره په شمار راکړې
دغه روپۍ راته کیمیا غوندې شوې
ډیرو دردو ته مې دوا غوندې شوې
بیا نو کابل ته شوم روان زه
ناچار په لار د سمنګان زه

چې په ورتګ هلته مجبور وم
دیرش کاله زه رسمي مامور وم

په سمنګان کې په خاره واوښتم
په بې تنظیمه اداره واوښتم
د رفیقانو پیش آمد مې سوړ وو
کاتب پیاده او معتمد مې سوړ وو
هغه چې ما خواره یاران ګڼل
ګټو تاوان کې مې یکسان ګڼل
چې له چوکۍ نه یې جلا ولیدم
په دغه حال چې یار آشنا ولیدم
(عبدالله جان) خشکه سلام نه داد

شکر که او پخته وخام نداد
(نعمت الله) هذالقیاس کرد
از نزدیکت به من حراس کرد
په دلم گفتم ای خدا چه شد
آن آرزو ها امیدها چه شد
روزی روشن بر سرم شام گشت
فکر بیدار من سرسام گشت
رفقا چرا این چنین میکنند
چرا نزول سوی زمین میکنند
به دلم گشت که من چرا ندانم
چرا رواج این دنیا ندانم
گفتم حقا که اشتباه کردم
به این روش تاسف ها کردم
سپس ناچار نزد جنسی رفتم
پیش (جمال) نور چشمی رفتم
جمال پسر کلانتر نه گفت
از دل به من یک حرف تر نه گفت
تنها (میرزاعبدالمنان) بود
به سرم مثل سایه بان بود
کاريې ژر ژر راته تمام غوندې کړ
علم او خبر يې سرانجام غوندې کړ

د شپې یې راوستم کاله ته زه
محتاج یې نه کړم هر دله ته زه
چې شو سهار ډیر کشمکش یې کړلو
بله شپه پاتې شه خواهش یې کړلو
خو ما رخصت ترې په زارو واخیستو
د نه مې ډیر ډیر په خوارو واخیستو
اوس یادوم میرزامنان زه
هغه پښتون مرد میدان زه

زه یې خوشحاله په مذکور وم
دیرش کاله زه رسمي مامور وم

په سمنګان کې ځلور کاله وم
ډیر په کې زه په زړه خوشحاله وم
خو ډیر افسوس چې ترې خفه ووتم
له سمنګان نه ازرده ووتم
د سمنګان ښکلي زیبا سیمه ده
لکه جنت ګرانه په ما سیمه ده
ډیر په تاثر ورنه جلا شوم زه
مخ په کابل روان تنها شوم زه
بیا په کابل کې پریشان پاتې شوم

کارونه نه کیده حیران پاتې شوم
په سوانح او تقاعد کې بند وم
په نا وارد او په وارد کې بند وم
کله ولاړ به وم نرانو ته زه
کله دفتر کې جینکیانو ته زه
په جینکو کې عاطفه مې لیده
له دغه ښکلو وضعه ښه مې لیده
پیغلې گلونه د ځوانانو دي
ځوانان قربان له جینکیانو دي
خاص په کابل کې چې پردې نشته
مستانې لوڅې دي بوقرې نشته
نور په دفترو کې زاړه ولاړ دي
تقاعدین کاره واړه ولاړ دي
هر چا افسوس زما په حال کولو
جینکو ډیر رانه دا سوال کولو
ته په ځوانۍ کې تقاعد شوې ولې
ته کناره په څه مورد شوې ولې
ما ویل زه خوهم اوس ځوړ غوندې یم
ځواني مې تللې پاتې سوړ غوندې یم
دا چې د ښکلو قدردان یم لا
هره گړۍ ورنه قربان یم لا

په دوی کې صنعه د الله گورم
قسم دی چا ته که خطا گورم
چې را په زړه کړم تیر وختونه کله
خپلې کیسې او هوسونه کله
د زلمیتوب نه مې په ډار پاتې شم
په کړو کارو مې ناکرار پاتې شم

په زلمیتوب کې ډیر مغرور وم
دیرش کاله زه رسمي مامور وم

شل ورځې پس خالق احسان وکړو
ترحم ما باندې سبحان وکړو
(د حافظ خان) غوندې انسان مې مل شو
دغه حاجي پاک مسلمان مې مل شو
د ده په مرسته له بلا خلاص شوم
سترې بلاه نه په خندا خلاص شوم
د داړه مارو شنو لیوانو تنګ وم
له کش مکش د پیاده ګانو تنګ وم
چک مې لا سلیک شو خزانې ته لاړم
د تجارت بانک اداري ته لاړم
بانک نه مې واخیسته لوټونه ډیر

د پنځوس ګيز و بندلونه ډير
نيم مې لاسي بکسي بوخڅي کې کيښود
نيم مې جيبونو د کرتۍ کې کيښود
په منډه ووتم کوڅې ته زه
د بايسکلو مغازې ته زه
د بايسکل خريداري مې وکړه
د (لايق جان) څوی دلداري مې وکړه
دلته مې هم ډيره سودا واخيسته
د خپل کاله لپاره ما واخيسته
ځان ته مې هم ښکلي چشمې پيدا کړې
په مناسب قيمت مې ښې پيدا کړې
بيا نو کندز ته را روان شوم زه
کابل مې پريښوده شادان شوم زه
نور مې پور د هغه آن خلاص کړو
دوستو عزيزنه مې ګريوان خلاص کړو
پاتې پيسې مې څه غنم واخيسته
د کال خواړه مې ټول يو دم واخيسته
يوه روپۍ چېرته پاسره مې نه کړه
روغ اورنځور ته ترې ستنه مې نه کړه
اوس په کاله کې ناکرار پاتې يم
ډيروغمونوکې حصار پاتې يم

لس پتي ځمکه مې پخته کړلې
څه مې خطي څه مې جويه کړلې
په دې اميد چې پيسه دار به شم
چې پخته واخلم دنيادار به شم
اوس يې چې ګورمه پرې ژاړه راغلې
پلوان شريک د لاسه دا راغلې
نن که څه وايمه تاوان غواړم
د وار ده نقصان جبران غواړم
خبره عرضو عريضې ته وځي
نژدې ګاونډ سره دعوې ته وځي
مجبور يم صبر به پېشه کړم زه
بل به خوشحال ځان به خفه کړم زه
دلته په خلکو کې احساس نشته
هر څوک لباس کوي اخلاص نشته
اوس بايد زه چا نه ګيله ونه کړم
اسره د هر دوس دله ونه کړم
د هر بې درد نه فاصله ونيسم
واخلم قلم کومه ګوشه ونيسم
خواره واره اشعار ديوان کړم خپل
پوره په ژوند دا ستر ارمان کړم خپل
خو بيا نظر چې په خپل کور واچوم

بېرته مې دې خيالوته اور واچوم
واړه بچې رانه روزي غواړي
روزنه مانه انساني غواړي
يوته کُرتۍ بل ته پتلون پکار دی
د دغه چارو تول سمون پکار دی
هغه جامه چې پښتنه وه لاړه
چې د هرچا سره درنه وه لاړه
ملي لباس ته دچا پام نشته
خپلی جامې ته احترام نشته
چې د غربيانو پتلونونه نه وي
چې د يورپ ښه جاکټونه نه وي
بله جامه استعماليږي کله
دهقان ميرزا ته منظوريږي کله
مجبور يم زه هم دا دودونه ياد کړم
ساده ګي پرېږدم فيشنونه ياد کړم
بې له دې نه کيږي ګذران دلته
اخيستی ما دا امتحان دلته
که مې په صدق ماموريت کړئ
که مې رښتيا قومي خدمت کړئ
چې پيسې نه لرم خائين يم اوس
بوخت له ناکامه په (کتمن) يم اوس

له پاسه ډېر مې ګرمي وهي
لاس او پښې مې اغزي وهي
لوټو وهلي دي نوکان رانه
کبلو وړی تاب و توان رانه
دا (ډيله کۍ) نه ده بلا ده خدايه
نن يې وهم سبا پيدا ده خدايه
(ايمل) د کار منځ کې رنځورشو راته
سپيره پټی لکه تنور شو راته
که په وطن کې قوانين چليدای
په هريو ځای کې خپل آئين چليدای

کله به دې ځای کې محسور وم
ديرش کاله زه رسمي مامور وم

اوس زه شکرونه ډير بې حده کوم
شکر د لوی ښښتن احده کوم
په مناسب وخت کې وزګار يې کړم
له ماموريت ځني کنار يې کړم
زور مې په متو کې باقي دی لا
بدن مې هغسې قوي دی لا
چې ټوپک واخلمه مرغان ولم

دغـرو پـه تـــړوکې زرکــان ولـم
پـه ماموریت کې دغـه حـال مې نـه وو
د بـل پـه امـر وم خـپـل خیـال مې نـه وو
ډیر وخـت آمــر وو یـو مــرده پـه مـا
د زمـــانـــې یـــو پــوخ دلـــه پـه مــا
مــــــدام د بـــل پــه اراده گـــرځیدم
خوشحالــه نــه وم تـل خفـه گـرځیدم
مامــوریت نــه وو اســارت وتـېـر شـو
آزادي نـــه وه بـــربـــریـــت وتـېـر شــو
خـدمـت د چـاپـه کې معلـوم نـه وو
د صـداقـــت خــو پـه کې نـوم نـه وو
رشـــوت ډیـر غـــټ لـره اثـر هـلـتـه
ټـول خائینــان نـاست وه بـبر هـلـتـه
بې د (کـرزي علـی محمـد) ځـــخـه
چې خوښ یې وه پـېـش آمد ځخـه
نـور لـه ریـس معیـن وزیـر خفـه وم
لـه خـپل قـسمته او تقـدیر خفـه وم
مـدام پـه بار کې کـــوږ لـرگی وم زه
تل بـه د ســــترگو اغـــزی وم زه
زورور ټــــول راتـه قـــــلـم تـرول
رښـــتیا ویــــنا راتـه هــردم تـرول

د خدای په فضل په پرده کې خلاص شوم
د ظـالـمـانو نه په ښـه کې خلاص شوم
اوس چې په کور یمه خـلل مې نـشـتـه
غـم د رتـبې او د ســجل مې نـشتـه
خـپلو بچو سره شـــادان نـاســت یم
کور کې مې خپل لکه سلطان نـاسـت یم
کله ځوی مخکې کړم چکر ته لاړ شم
(غـروقـشـلاق) او (تال گــذر) ته لاړ شم
کـلـه غــوا خـــلاصـه وندر نـه کـړم
کـلـه بـهر مـــیـږې کـنـډر نه کـړم
لاړ شم صـــحرا ته پاده وان پاتې شم
راتلو نکې ژوند ته مې حیران پاتې شم
ځکه د گران وطـن کوچـیان خوار دي
لـه هـره جیـثـه دا خـــواران خوار دي
نه ځـرځــــایونـه د مالـــو لـري
او نـه مــکان د کـیـنـاســتـو لـري
کـډې پـه شـا پـه غـــرورغـو گرځـي
پـیـایـې رمـې پـه سرو غـرمــو گرځـي
پـه دغـه وخت کې چې روښـان گرځـي
ضـفـیـنـې پـورتـه پـه آسـمـان گرځـي

راديــو كــمره او تلــويـزون راغــلى
د خلكو ژونـد كې ډيـر بـدلون راغــلى
پـه دغـه شكـل مـالـــداري غـم ده
زحمـــت نـه ډكـه جانـــداري غـم ده
كـه دهقـانان دي كـه مـالـــدار دلتـه
اوســيږي ډيـر پـه بـــنه خـوار دلتـه
نـه غـريــبان نـه بـډايان هــوسـا دي
نـه مــاشومان اونـه لويـان هــوسـا دي
نـه كـسب گـر نـه تجــاران آرام دي
نـه ميــرزايان نـه مـــلايان آرام دي
مـلا ســرو ســرو كــــترو وهلــى
ميــرزا د خــوار غـريـب خـــيرو وهلــى
وايــي گــشنه بـه جـان شـيــر ميـزنـد
بـه جـان شـير چــنگ دلــير ميـزنـد
لــويـه خـاونــده غـريـــبي بــده ده
پـه آخــر عــمر كـې خــواري بـده ده
دا گــران وطــــن درنـه آباد غــوارم
تـول افغـانان پـه ښــادی ښاد غـوارم
ځـار يـې پـه دشتو كـې ځـو ځـانو نـه شم
ځـار يـې باغـو كـې لـه گـلانو نـه شم

ځـار يـې جـولا او مُـسلي نـه شـم
ځـار يـې نـداف ځـار يـې نايـي نـه شم
ځـار يـې لـه زوړ ځـار يـې زلمي نـه شم
ځـار يـې لـه هـر يـوه سـړي نـه شم
وطـن لـيـلا زه يـې مجـنون يمـه
خـاوره يـې سـاتمـه پـښتون يمـه
د دې خـدمـت چـې پـه رښتيا ونـه كـړم
پـه ژونـد يـې غـم د پرمختيا ونـه كـړم
سبا بـه خـاورې تـه ورتـللى نـه شـم
ورتـه لـه شـرمـه بـه كـتـلى نـه شـم
دې كـې ادې دې كـې مـې نيا پرتـه ده
دې كـې زمـا د ژونـد بـقـا پرتـه ده
دې كـې نيكـه مـې شـهـادت گـټلى
د ځـان پـه ويـنـو يـې جنـت گـټلى
دې كې مـې پـلار ما تـه قيـصې كـړي
قـومي دښمـن سره يـې جـگړې كـړي
تـورخم خـاپـيښ او پـه شـمـشاد بانـدې
پـه كانـو بوټـو د هـيـواد بانـدې
زمـا د نـر پـلار نـښـانې پرتـې دي
پـه تېر تاريخ كې يې قيصې پرتـې دي

زه هم د دغه پلار بچی یم لا
په دې وطن چې سپیلنی یم لا
اوږده دوره د ماموریت کې مې
وخت د قدرت او صلاحیت کې مې
تر خپله وسه د ده غم خوړلی
غم د وطن مې په هر دم خوړلی
اوس هم غمونه د وطن خورم
قسم په نوم د پاک ښښتن خورم
چې ګران وطن نه مې سرې وځي
که دراني او که غلجي وځي
که ازبکان که لرخابي وځي
که بلوچان او پښه یې وځي
زخم زما د زړه په سر جوړیږي
چې ګران وطن نه مې کنډر جوړیږي
ای د افغان وطن بچیانو واورئ
زه درنه ځار شمه ځوانانو واورئ
وطن له تاسو نه چې شاړ پروت دی
درنو غمونو کې لتاړ پروت دی
په ګډه پاځیږئ خدمت یې وکړئ
د ګوډ و ماتو مرمت یې وکړئ
له وچو دشتو یې ګلزار جوړ کړئ
د خپل وطن ساز او سینګار جوړ کړئ
عشق د وطن کې پتنګان شئ واړه

د وطن مينه کې قربان شئ واړه
بهاند سيندونه کړئ مهار د وطن
مخ پورته بوځئ پيداوار د وطن
رشوت خواره سود اخيستونکي نه شئ
ماده پرست قام غولونکي نه شئ
چې پس له مرګه مو آثار پاتې شي
په دې دنيا درنه يادګار پاتې شي
داسې کارونو ته اقدام وکړئ
ای عزيزانو ورته پام وکړئ
وايي (پردېس) چې ناراستي وه نه کړئ
په ملي چارو کې سستي وه نه کړئ
راځئ په ګډه زما پومبه وګورئ
زما دولت زما پخته وګورئ
لاس مې تناکې دی کتمن وهم
د خشاوې بوټي بيخچن وهم
که نه په ماخو جراحي شوي
را باندې څو ځل قصابي شوي
کتمن وهلو نه معذور وم

ديرش کاله زه رسمي مامور وم
ظاهر صحت باطن رنځور وم
۱۳۵۳\۳\۲۰-کندز چارده

# د ملخو شیخ

د ملخو شیخکي نه خبردار شه
شیخکي غونډې د نورو خدمتگار شه

د ملخو شیخکی ډېر زیرک دی بلاگی
اگاه یې شه خصلت نه د شیخ له کرامت نه
که ډېر یې شي بچیان چنجي به کړي طوفان
د شیخ په دې ضعیف وجود کې پټ دی ډېر طاقت
افسوس چې څوک په غور د ده نه کړي نظارت

په نورو ملخوکې د کال ټولو فصلوکې
په ده د خلکو پام شته د شیخ ډېر احترام شته
خو دلته غریب خوار دی په شلوکې شمار دی
څوک نه دې ترې خبر په شیخ نه کړي نظر
د دې عزیز موجود پالنه نشته ده له سره
دي خلک لا زموږ ورنه تر اوسه ناخبره

د شیخ چې دښمنان دي هغه ټول غومبسان دي
چې والوځي غومبسي شیخ غریب رانیسي
ورښخ کړي پرې نښونه د شیخ مات کړي برېتونه
د غومبسې وهئ سر په شیخ کوئ نظر
د شیخ د حمایت په لار کې زیار باسئ مدام
شیخ مفید ملخ دی پرې خبر کړئ خاص او عام

د شيخ نصيب ته گوره چې مېنه يې ده توره
چې شيخ وکړي واده اجل راشي د ده
چې خلاص شي له صحبته له يو ځلي عشرته
راپورته يې شي ښځې شيخ کړي بځې بځې
د ده د وجود غوښې بيا همدا ښځې لاندي خوري
(پردېسه) شيخي مه کړه چې شيخان ښځې ژوندي خوري
۱۳۵۰\۹\۱۹-کندزچهاردره

**يادونه**: شيخ يو ډول گتور ملخ دی چې په پښتوکې يې دکابل سيند په نامه يادوي اوپه دري ژبه کې يې گهواره جنبان بولي اوپه ايران کې د شيخ په نامه ياديږي

**پردېس**

# د ملخو راپور تاژ

(۱)(ات په سرکه) ایتالـیا وي دفعه شوه
مراکـشي ملـخ دسـتـي دفعـه شوه
بلخ او فاریاب کندز بغلان کې مړه شوه
ملخ پرېمـانه سمـنـګان کې مړه شوه

د زراعـت سـتر دښـمنان ملـخ
بـشر سـره لاس او ګـریـوان ملـخ
سږ کال په ګډه رابهر غـونـدې شـوه
جوپه جوپه لښکرلښکر غـونـدې شـوه
شـو د کـرنـې وزارت آګـاه
د حـفـاظـې تـول ریاسـت آګـاه
هر لـور مـوټرې پـه سـرعـت لاړې
ملـخ کـشی ته پـه جدیـت لاړې
(عـلی مـحـمد) د حـفـاظـې ریـس
د دغـې سـتـرې ادارې ریـس
تاکـید یـې چـاروکـې مزیـد کـولـو
امـر یـې مـدام دګـوانښ اوبرید کـولـو

(۱) یو ډول ملخ دی.

جگړه د ده په هدايت جاري وه
بلا وقفه په موفقيت جاري وه
نه چا جمعه نه چا شنبه ليدله
نه چا د کار په وخت کې شپه ليدله
ډکي بوجي به د دوا تشيدې
په ضد د دې بدې بلاه تشيدې
په يوه بسوه کې هزاران ملخ
مچ او مېږي نه فراوان ملخ
وه راوتلي ډېر قوي ملخ
جوپه جوپه دسته جمعي ملخ

د خدای په فضل همگي دفعه شوه
مراکشي ملخ دستي دفعه شوه
خروار خروار هر بيابان کې مړه شوه
ملخ پرېمانه سمنگان کې مړه شوه

پخوا له دې نه به نفر وتل
په اتفاق به ښځې نر وتل
ملخ د ټولو په سر غم وو دلته
حال د هر چا درهم برهم وو دلته
د ملخانو له شدته دلته

د کښتو نه لګیده پته دلته
له ناچارۍ خلکو ارزن خوړل
خوار و غریب بدا نیستمن خوړل
له ملخانو ځوریدلي خلک
په منډه راغله دا ښاغلي خلک
د مبارزې دا لوی ډګر یې ولید
جوړ په ملخ باندې حشر یې ولید
په ملخانو ښه جګړه شروع وه
په خیرآباد کې ښه توده شروع وه
(محمد شریف) د تاشقرغان ولسوال
ډیر تشکر له دغه ځوان ولسوال
شخصاً یې سهم دې جګړه کې واخیست
ډیر یې په لویه زمبورچه کې واخیست

تمام د ده په همکاري دفعه شوه
مراکشي ملخ دستي دفعه شوه
د داروګانو په طوفان کې مړه شوه
ملخ پریمانه سمنګان کې مړه شوه

اول ملخ شوه (ګوردره) کې پیدا
د رباتک انجیر دره کې پیدا

بیا (خیر آباد) ملخ تمام ونیوه
وروسته (خشک توت) کې یې مقام ونیوه
بیا (الاشه) کې کل مکمل جوړ شو
د ملخانو لوی غوبل جوړ شو
وروسته ملخ (کلان قدق) ته راغله
هرې کیږدۍ هریو لاچق ته راغله
چې پته ولگیده ښه د ملخ
تثبیت شوه هره منطقه د ملخ
بیا مامورین خورا په درز ورغله
دارو په لاس ښه مجهز ورغله
پوډر پاشان پرې حواله غونډې شوه
ملخ له جوشه راستانه غونډې شوه
د ډیر عالي خدمت مصدر وختل
بریالي ټول موظف نفر وختل
سیلاب سیلاب ملخ تباه شوه ټول
اکثر د ښتونه ترې صفا شوه ټول
لاړو نابود شو دا آفت له منځه
قوي دښمن د زراعت له منځه

په طریقه د کیمیاوي دفعه شوه
مراکشي ملخ دستي دفعه شوه
په فني شکل ښه زمان کې مړه شوه

ملخ پریمانه سمنګان کې مړه شوه
خلکو هزار شکرونه ویستل
تر مسجدو یې خیراتونه ویستل
که شوی لږ زره اهمال وای په کې
اوس به اولس واړه پایمال وای په کې
په برکت د ټینګ ایمان ورک شوه
جوپه جوپه ملخ تمام ورک شوه
د (باختري) تدبیر موثر وختو
بیخ د ملخ له دښتو ژر وختو

وایي (پردېس) چې همګي دفعه شوه
مراکشي ملخ دستي دفعه شوه
غټ او واړه په یو زمان کې مړه شوه
ملخ پرېمانه سمنګان کې مړه شوه
۱۳۵۳/۲/۲۷ - سمنګان خُلم

**یادونه** : (ات په سرکه) په لاتیني ژبه کې یو ډول مضره ملخ ته وایي.

دالاندې منظومه د ۱۳۲۶ کال دمیزان د میاشتې په اوویشتمه نېټه لیکل شوې چې داصلاح په ورځپاڼه کې خپره شوه اوفارسي ترجمه یې په خُلص ډول ښاغلي (امان الدین انصاری) داتحاد دورځپاڼې مدیر په خپله ورځپاڼه کې چې په صنعتي بغلان کې چاپیدله نشر کړه هغه ووچې دکرنې دمستقل ریاست له خوا نه بیا موږ ته درې زره افغانۍ دکرایې په عنوان تخصیص راغی او شخصاًدزراعت مستقل ریس زماخخه دښاغلي غلام صدیق اڅکزی په زریعه چې هغه وخت دبغلان دتجربه گاه په عمومي مدیریت کې لوی مدیر وواوخارج ته دیوکنفراس لپاره کابل ته غوښتل شوې وو ډیر معذرت وغوښت.

## پردېس

## خاونده لايزاله

خبر مې شه له حاله
خاونده لايزاله
مامور يم د ملخو وركه كړې مې چاره ده
دا څه رنګ ګذاره ده
نه پوهنتنه شته نه غور
راغلى عجيب دور
بې معاشه بې تنخا دې دايره كې در په در شوم
عجيب ځاى كې نوكر شوم
په مونږ باندې معاون
سخت امر وكړو نن
چې ځئ له دې مركزه محلاتو ته چالاكه
تمام شوو بې ادراكه
كه تښتو له دې ښاره
هم ډيره ده ناكاره
بله نشته ده چاره چې پسې ورسوو ځان
خدمت ته شو روان
يو كسب زمونږ سخت دى
چې كار زمونږ په دښت دى
پنځه لس په پنځه لس مديريت غواړي راپور
ملخ دې شي په ګور
لار ډيره موټر نشته
آس نشته كچر نشته

پیاده به دا راپور دلته را نه شي تر بل کاله
خاونــــده لایــــزالـه
معـــاون سره به څه کړو
په څه شان به کار وکړو
کـه ده تـه چلمونه ډکوو کار پاتې کیږي
او که نه معاون قـهریږي
چې موږ دا خپل بـیان
معـــاون تـه کـړو عــیان
معاون په نخرو وایي وظیفه مو بېکاره ده
دا څـــنگه گـــذاره ده
معاون وکړي امــــرونـه
چـــټک کـــوئ کــارونـه
موږ د وظیفې په ایجاب ووځو دښتو تـه
مـچــکو لـــټووتـه
چې وگـــورو مـــچـک
بوتـل کـړوتـــرې راډک
هغـه نمـونـه راوړو معاون تـه په تلـوار
معـــاون جوړ کـړي دربار
را وغـــواړي ولـــس
جاري شي پټ مجلس
ملخ کړي وطني زموږ خدمت لاړ شي هدر
ملخ جوړ کړئ لـښـکر
کشتونه کړئ تلف
هرخواونیسي ـسف

شروع وکړي خوراک ته دمعاون داوطني ملخ
اصلي مراکشـــي ملخ
بیـا نـه راسـتـانه کیږي
فصـــلونه تباه کیږي
پیـدا شـي خـطرونه
خواره یې شي خبرونه
رادیو په ډیر سرعت
کړي خپور داحقیقت
بیا موږ ته په جدیت سره راولیږي اخطار
معاون ناست وي قرار
چې موږ کاندي مجبور
لـه غـمـه شـو تـرور
راشو مدیریت ته استـعـفا وکړو فـلحـالـه
خاونـــده لایـزالـه
چې وکړو استـــعفا
مشران مـو وایي دا
چېرته به خلاصیږئ ملخو کړې خساره ده
داڅه رنـګ ګـذاره ده
ورک شوی قضاوت دی
په ما باندې قیامت دی
په دغه ظلماني محیط کې څنګه وکړم کار
ستـي شـوم پـه انـګار
علـیـل زهـیر اسیر یم
بې ځایه ځای کې ګیریم

احتیاج مې روزافزون دی مدام گرځم سربداله
خــاونــــده لایزالـــه
مشکل مې کړه آسانـه
ای خدایـه مهـربـانـه
(پردېس) یمه بغلان کې رانه پاتې چهار دره ده
داځـه رنگ گذاره ده

۱۳۲۹/۷/۲۷ - صنعتي بغلان

# دیوازیتوب نتیجه

بیگاه ناست ومه کوټه کې په ټیکله
چې ناڅاپه دروازه چا ووهله
شوم خوشحاله ما ویل راغی کوم آشنا
ټوله شپه به سره وکړو مشغولا
ځکه ماته چندان نه راځي نفر
په اونۍ اونۍ مې نه ټکیږي ور
کله یو دشت کله بل دشت کې مسکون یم
ګران وطن مې ده لیلا زه یې مجنون یم
په دې خیال کې ژر کوټې ته شوم بهر
څوک یې څوک یې غږ مې وکړ مکرر
هیچا هو ځواب رانکړ پریشان شوم
د کوټې خوا ته مایوسه راروان شوم
ډیر ساعت مې لاس کاسې ته نکړو وراندې
ما ویل نه چې میلمه پاتې وي د باندې
بیا به څه میلمه ته ږدمه حیراني ده
په ایبک کې خو د هر څه ګراني ده
د ماښام په خره ښار ټول تړل کیږي
کې ډوډۍ په کې په نوم نه پیدا کیږي

د ایبک د ښار نژدې غروکې چینې دي
چې اوبه یې لکه شات داسې خوږې دي
خو افسوس چې تخریبیږي او هدر ځي
د غم اوښکې مې لپاسه په تېر ځي
نشته موږ کې لیاقت چې دا مهار کړو
وچه بنه د ایبک گل او گلزار کړو
موږ به کله خپلې خاورې ته خدمت کړو
موږ به ولې نور خوبونه د غفلت کړو
دا مې ویلې ډوب حیرت کې ناست تنها وم
په کوټه کې له خپل ځان سره لگیا وم
ساعت وروسته درشل بیا وټکیدلو
د سړي د پښو غږ مې وا وریدلو
دا ځل ډیر شوم وارخطا ما ویلې غل دی
دروازې شاته راغلی په کوم چل دی
خدای دې خیر کړي نه چاره شته نه ټوپک
نه مې ځان سره ساتلی دی کوتک
نه مې خوا کې همسایه شته متور
راروان راته خطر دی زور اور
ځکه دوه شپې دې نه وړاندې په کوڅه کې
وژل شوی یو سړی وو توره شپه کې
چا ویل ښه شو دا ناولی قمار بازو

هلکـــان يـې وه سـاتلـي ډاګـي بـازو
چا ويل نـه مـړدی پـه تـــور کــې د زنـا
چـا ويـل نــه، وه ورســــره پــتــه دنيـا
مـا ويل ما پـسې بـه هم جـوړې قيصې شي
پـه تعريف کې به مې ستړي ډيرې خولې شي
څوک به وايي رشـوت خـور مـردار کـکړ و
چـا تــرې غوځـه کـــړه ککره ددې ور و
څـوک به وايي چې ډير مست ، مست ګرځيدلو
اخـــر ويــــنو کـــې د ځـــان ولمبيـــدلو
څـوک بـه وايـي خـودمنم غټ کلان کـار و
تـرک تاجک پښتون ازبـک ورنـه بـېزار و
څوک به وايي ښـه شـاعـر نـويسـنده و و
خائينان د ده له لاســــه تـول خـــفـه و و
د ملي جهاد پـه لاره کـې شهـــــيد شو
پس له مـــرګه سـزاوار د ډيـر تـمجيد شو
د دې خيال نـه پــــس راووتم سـر تـوره
د کوڅې خواتـه مـې غــږ وکـــړو پـه زوره
ماويل څوک يې ښـايـه ځان مړ شوې بدرايه
سـلامت بـه نــور لاړنـه شـې لـه دې ځـايه
بياهم چـا راتـه رانـه کـــړ ځـــه ځواب
بـېرته ډوب شـومه د فـــکـر پـه دريـاب

ساعت غلی ودرېدمه په تیاره کې
خوږ پټ به مې کتلي په کوڅه کې
د هیچا هلته پیدا نشو درک
دوباره کوتې ته راغلمه چابک
د خپل ځان سره مې غوټه کړه په کلکه
ما ویل خورم اول ډوډۍ په خېټه ډکه
بیا که مرګ وي هم دې راشي څه پروا ده
په خالي کولمو خو مرګ لویه جفا ده
ژر مې جوړې کړې اوبه لاس مې کنګال کړ
بسم الله مې وکړه یاد مې ذالجلال کړ
په نارامه خاطر کیناستم کاسې ته
مګر فکر مې تمام وو دروازې ته
چې ناڅاپه مې ترغوږ بیا ټکهار شو
جوړ له ویرې مې په زړه کې درزهار شو
ما ویل داځل چې هر څه وي نه پاڅیږم
له مرګي نه خو په تېښته نه خلاصیږم
خو مرګي ته به تسلیم نه شم تر ژونده
ځکه زه خو دومره نه یمه بې خونده
ملخ کُش یمه لیدلې مې سختي ده
په مارانو کې مې کړې زندګي ده
سوء یې قصد رابانديې شوی دی څو ځله
مګر ساه مې ده تر اوسه لامعطله
ژوندی ګرځم چا لا نه یمه وژلی

لوی څښتن هرې بلا نه یم ساتلی
د خپل ځان سره لګیا اوتر اوتر وم
لاهو شوی د غمو په سمندر وم
چې ناڅاپه مې په زرک راغی نظر
کوم چې ماسره دی مل شام او سحر
زه او دی سره ملګري د یو کال یو
یو تر بله دواړه ښه سره خوشحال یو
د سهار له خوبه وخته پاځوي ما
په خواږه آواز مانځه ته ویښوي ما
د بچو مینه مې ده باندې ما تیره
که دانه وي دنیا ما باندې ورانیږي
دا همدا وچې قفس یې تکولو
ماعبث پرې د غلیم ګمان کولو
دا د ده د تونګې غږ وه پنجره کې
زه یې هسې وم ډوب کړی اندیښنه کې
په دې کار (پردېسه) څومره سرګردان شوم
په خپل نه فکر کولو پښیمان شوم
په هر څه کې عجله اوځغلیدل
داکارونه هرګز نه دي د عاقل
عاقلان ړومبې کوي د کار فکرونه
له اوبو نه مخکې نه باسي بوټونه

۱۳۵۳/۹/۶ - ایبک سمنګان

# حکایت

نن مې لوستی مثنوی کې یو داستان
چې تفسیر په کې آیات دي د قرآن
په پښتو یې اوس کومه ترجمه
په کې نه کړم معطلي یوه شیبه
دي لیکلي علامه بلخي په خپله
کیسه داسې ده غوږ ونیسه ای ګله
بخارا کې یو هلک مور نه پیدا شو
په جمال د مخ یې ټول محیط رڼا شو
په عالي صورت یې وه شوه ښه روزنه
نوم یې لاړ د مرتبې تر هر وطنه
کرامت یې په تمام جهان مشهور شو
د صفت یې جوړ په هرې خوا مذکور شو

لکه لمر په هر مقام وځلیده
له نظره د هیچا نه پټیده
د کشمیر د ایالت نه یو دوه کسه
بخارا ته راروان شوه له هوسه
د دې لوی عارف د مینې له کبله
دا دوه کسه به راتله په هله هله
نه یې ورځ لیده نه شپه و راروان
آخر راغله بخارا ته په ښه شان
بوالحسن د کور یې وکړله پوښتنه
چا وروښوده په لاس د ده مېرمنه
دوی مېرمنې نه تپوس وکړ د پیر
چې دی چېر ته هغه پیر روشن ضمیر
ښځې وخندل په شالاړه کړه شوه
له خندانه وروسته ډیره په غُصه شوه
هغه کله ورنو ارزي په پوښتنه
ځئ په بېرته څه په کاریې ده لیدنه
نه دی پیر او نه پیرانو سره مل دی
د پیرۍ نوم یې په ځان ایښی په چل دی
دې سړو چې واوریدې دغه خبرې
ترینه پاتې شوې زما او ستا اترې

يو او بل ته يې کتل حيران حيران
دواړه هسې په خپل حال شوه پرېشان
په راتلو يې څپل کول ډير ارمانونه
پرې راپريوتل ځولی ځولی غمونه
چې ښکاره ورته د پير د کور حالت شو
دې سړو سره ملګرې ندامت شو
په دې وخت کې يو سړی راغی په لار
دغه خلک يې وليده ګډ په ګفتار
سړي وويل بوالحسن تللی ځنګل ته
ساعت وروسته راستنيږي خپل منزل ته
تاسو کښينئ په آرام جوړه کړئ دمه
بوالحسن صاحب به وګورئ بېغمه
ساعت وروسته ناڅاپي پورته آوازشو
له آواز سره د خلکو زړه ناساز شو
چې يې وليد يو زمری کوي غړمبار
پرې ترلی بوالحسن د خسو بار
هم په خپله د زمري په شاه دی سپور
راروان وحشي زمری دی مخ په کور
دې سړو ته چې ښکاره دا کارعجب شو
بوالحسن يې سمدستي پوه په مطلب شو

ژرله ځان سره ګويا شو په دې شان
هغه پير روشن ضمير بلند مکان
د هغې ښځې خاطر ساتم يارانو
چې سپر پرېږم د ځنګل په شنو زمريانو
د هغې مېرمنې بار ورمه په سر
چې مې زور دی په زمريانو باندې بر
ځپلو ښځو سره ښه کوئ ګذاران
چې مو زياته مرتبه شي په جهان
پيغمبر د خدای ويلي مکرر دي
څوک چې ښځې دبوي خاورې په سردي
ته (پردېس) په غوږو واوره داخبرې
د خپلې ښځې له ازاره ګرځه لرې
پيشوګان ورسره مه تله هيڅکله
که څه هم چې غوښه ټوله وخوري خپله
۱۳۳۷/۱۲/۷ - بغلان

# د الماني شاعر (گیوته) د شعر پښتو ژباړه

هسې وايي جادوګرو کې یو کس وو
سامري غوندې ساحر ورته وچ خس وو
په جادویې تسخیر کړي وه ملکونه
ډیر و ویل ورنه د دې مسلک درسونه
یوه ورځې له کوټې خپل ووتلو
په یو ښاخ باندې د ونې کینا ستلو
چوف یې واچوه په شاخ واوره نیک ذاته
شاخ مرغه شو ساحر والوتو هواته
جمبوري د خپل استاذ پیخې بنا کړي
بې هنره خپل لاربنود پورې خنداکړي
استاد لاړو جمبوری میر د میدان شو
د ساحر کلي یې واخیسته روان شو
قفل یې لرې کړ له وره جمبوري
ورنه هېره شوه د ټول عمر خواري

په کوته کې يوه زړه جارو پرته وه
په بل گوټ کې يې همسا ايښي کړه وه
په همسا يې ډب جارو نه کړ اوچت
دا وينا يې ورته وکړه په شدت
په اصلي شکل څېره شه راڅر گنده
ځان آزاد کړه د جادو له هر گزنده
دايې وويل له جارو نه جوړ تور ديو شو
لکه تندر د آسمان سر په غُريو شو
جمبوري ويلې بېشکه شوم استاذ زه
پس له دې به ډير ديوان کړمه آزاد زه
بيا يې ديو ته هسې رنگ وکړ گفتار
د اوبو نه ډک تالاب کړه په تلوار
ديو بې دريغه شو روان د بحر لور ته
د اوبو لوی لوی تيمان يې کړه راپورته
هسې رنگ کار يې شروع کړ په شدت
حويلۍ کې اوبه ډنډ شوې په سرعت
که هر څو ورته ويل کړه جمبوري
چې ای ديوه نوره مه کړه سقاوي

په غـوړونـو د ديـو کلـه لـګـيـدلـه
داخـبـره يـې هـرګـزنـه اوريـدلـه
لکه برق به ځغليده تيمـان پـه شا
جمبوري بانـدې يـې نـه کـړلـه پـروا
جمبوری چې شو په تنګ وريې ګذار کړو
ديويې نيم دخپل شمشيرپه زوريووار کړو
ولـې ديـو پـه دې ګـذار نه شو نـابـود
لـه ګذار سره دويـم شـو رامـوجـود
دواړ و زور ورکړ خپـل کارتـه هسې شان
حويلۍ کې داوبـو جـوړ شـو طـوفـان
جمبوری شو ورخطا کيناست په لوړه
ويلي خدا يه ماکړې خلاص له دغه جړه
دا بلاه کړه په خير ښخه ته په ځمکه
ماکتلي خپـل استاذ تـه دي پـه سپـکه
بدمې کړي نور به نه کړم داکـارونـه
ای استاذه د کـمک راکړه لاسـونـه
اوبه ډنډ شوې حويلۍ کې کور ورانيږي
کور او کلی ټول درياب تـه ورګډ يږي

په دې وخت کې جادوګر راغی سفر نه
شو راکښته د جادو علي کفتر نه
غږ یې وکړ په دیوانو هسې شان
جادوګر استاذ په زوره هغه آن
شیطانانو نوره مه کوئ مستي
د جارو په شکل وګرځئ دستي
هغه دم وچه جارو شوه ورنه جوړه
جمبوري شکرونه ویستل ځو کروړه
په دې ډول ختمه دغه ډرامه شوه
په عالم کې جوړه سخته هنګامه شوه
څا ویل هغه چې پاخه نه دي لاخام دي
که تېرې توري راواخلي هم ناکام دي
ته (پردېس) په غوږو واوره دابیان
جمبوري غونډې راوینښ نه کړې دیوان

۱۳۵۲/۱/۱۲ - چهاردره کندز

# زماخوب

وینم خوب چې بند یوان دگورستان یم
دانکیر منکر سره لاس وگریوان یم

په غضب شي راته سرپه دې مقال
نوم دې څه دی کور دې بنایه واله حال
خواکې قبرنه راجیګ یوبل مرده
د ځواب لپاره راغی ایستاده شو
د بلبل غوندې ګویا شو په دې شان
زه اوداء ووچارده کې ګاونډیان
د سود خور امیر قوترسره یې کور وو
په دنیا کې داکمبخت سوی په اور وو
ما ویل هو امیر خوپېژنم په کلکه
چاردرې ته وو راغلی بې تلتکه
اوس د سود له خباثته میلونر دی
غنم ساتي قیمتی ته محتکر دی
زه د ده د لاسه سوی په نیران یم

وینم خوب چې بندیوان د ګورستان یم
چې بهر مې شوې له خولې نه داخبرې

نور راکلک کړمه انکیر منکیر له ږیرې
راته یې ویلې ته په څه راغلې بدرایه
چاردره دې چا ته پرېښوه راته وایه
ما ویل څه مې وه چاره نه کیده بله
ساه مې وختله راغلمه په خپله
ساه مې وختله راغلمه اوترزه
توبه ګار خپل اوپردي نه مرور زه
اوس ولاړ یم ملامت اوډیر خجل
ذخیره راسره نشته د عمل
شیرین عمر رانه تللی په ډغرو
غولیدلی یم د خلکو په خبرو
مګر زیان مې چا ته نه دی رسیدلی
یم د هر سړي په مخکې ځغلیدلی
دوی ویل وړ په دې صفت باندې بلکل
چاردره کې بې (پردیسه) نشته بل

ماویل شخصاً زه هغه پردېس په ځان یم
وینم خوب چې بندیوان د ګورستان یم

دوی ویل ښه ده چې مو وشو معرفت
ستالیدو ته موږ لرو ډیر ضرورت

اول دا چې ته په څه کاندید یدلې
وکالت ته په څه حیث ورانديې کیدلې
کوم دې زور کوم دي طاقت کوم د تبرو
ډیر ناوړه کار دې کړی په خپل سرو
وکالت ته سردوباره وړ (هیکل) وو
که څه هم چې مخالف یې (مولاګل) وو
وروسته ښه وه چې جیګ شوی (سیدعطا) وای
چاردرې نه وکیل شوی د شورا وای
بې له دوی نه نور څوک نشته چاردره کې
ته بې ځایه وې ګډ شوی دې قوره کې

ماویل زه هم دې خپل کار ته حق حیران یم
وینم خوب چې بندیوان د ګورستان یم

پس له دې نه بیا انکیر منکر په قار شوه
له هیبته د قبرو مړي بیدار شوه
راته یې ویلې ته مامور وې د دولت
ولې ناخیستلي تا تحفې رشوت
وږی تږی ګرځیدې په سمه اوغر
اچولې دې خپل ژوند وه په خطر

اوس دي اړ تړول ماشومان پاتې په کور دي
د پورو د لاسه سوي په سره اور دي
هيڅ ښه نه شو په دنيا کې ستا روزګار
ته ساده وې پاتې شوې خوار و زار
نه دې واخيسته موټر ځمکې باغونه
نه دې واخيستل ښايسته ښکلي قصرونه
له کنډرې نه دې پورته جنازه شوه
د خدمت اوږده دوره دې بابېزه شوه
ما ويل دا خو زه ګڼمه افتخار
ډېر شکرونه چې مړ نه يم دنيا دار

داسې مرګ باندې خوشحاله هر زمان يم
وينم خوب چې بنديوان د ګورستان يم

دوی ويل ښه ده ګرانه اوسې سلامت
در کوو درته هم زيری د جنت
په ارامه خاطر ګرځه خوشحالي کړه
د جنت باغونه ستا دي شاعري کړه
په جنت کې نه ميراب نه کوکباشيان شته
نه بلاه د آب انداز نه در کوان شته
دي هر څه په آسماني قانون روان
چا ته حوري مقرر چا ته غلمان

په غوړو به هیڅ وانه وړې داخبر
چې کاکا دی له وراره نه مرور
داجنت دی په کې نشته کم اوزیاته
موږ انکیر منکر مژده درکووتاته

ما ویل زه (پردېس) محتاجه د احسان یم
وینم خوب چې بندیوان د گورستان یم
۱۳۵۳/٦/۳ - چارده کندز

# د برېښنا سره خواله

ما ښام ناست ومه کوټه کې برېښنا راغله
مروره د څو میاشتو کورته بیا راغله
له خوښۍ نه مې ژر ودانګل دهلیز ته
وارخطا وم پام مې نه وو دچاي میز ته
پښه مې ونښته میز رانه چپه شو
پاس پرې ایښې ترموزګې ټوټه ټوټه شو
ژر راپاڅیدم له ځایه ودریدمه
ماویل دادی له ترموزه شوم بېغمه
چېرته موږ چېرته برېښنا چېرته میزونه
د افغان بدبخت نه مه پوښتئ حالونه
افغان پرېږدئ چې دستورو په رڼا
د تاثر وږشپې سبا کړي په دنیا
افغان نه لري دنیا کې څه عزت
د عزت نه دی خلاص کړی جهالت
ساعت ډیر وکړیدمه بې علمۍ ته
د افغان ملت دې ستړې ناپوهۍ ته
له ناچاره بېرته راغلمه کوټې ته
برېښناته مې وویلې ته وې چېرته

رڼايي خو دي خپره په ديوالو ده
پوره شوې پرې زما د زړه آرزو ده
پوره لس مياشتې دي ونه کړه پوښتنه
ته په څه وې له دې کوره گيله منه
رښتيا وايه چېرته تللې وې اى گرانې
د خپل نه راتگ علت به راته وايې
برښنا راته وويل چې څوک مې نه کوي خدمت
دا چې نه ومه څو مياشتې خراب مې وو يو نټ
هغه نټ دلته چا نه شو جوړولى
بې له نټه ماشين کار نه شو کولى
اخر لاړو دغه نټ پلخمري ته
د هغه ځايه راجع شو نساجي ته
وروسته راغى بيا خبر په دغه رنگ
نساجي کې هم دا نټ نه شو ولډنگ
ليږل شوى اوس هغه دى چک سلواک ته
خو وزير صاحب جدي ويلي ډاگ ته
نوى نټ راوليږه چې ماشين وران دى
په تياره کې پاتې شوى سمنگان دى
دا چې اوس کومه کار نټ مې سوالي دى
شايد دا هم ژر خراب شي چې ډيسي دى
چې بريښنانه راته ښکاره دا حقيقت کړ

رښتیا زړه یې زما ډیر ناراحت کړ
ما ویل خدایه خلکو ستوري مُسخر کړه
په کمال یې جوړ له خاورو نه سره زر کړه
په هوا کې یې ایجاده کړه فارمونه
له سرکښ فلک یې واخیستل کامونه
موږ خو هم ستا واردات ستا پیداوار یو
ستا په دې لویه دنیا کې ولې خوار یو
لږ په موږ باندې د خیر وکړه نظر
موږ به څه کړو دا بې نتهه جنر یتر
په تېنو نو ذخیرې لرو فولاد
د هغو د استخراج چل کړه راياد
ما په ژوند باندې احتیاج نه کړې پردي ته
د خدمت توفیق را وبښه زړګي ته
ما شینو ته مې پیدا خپلې پرزې کړه
پاکه خدایه ته مې سر دغه اسرې کړه
د ملت شمله مې ټیټه نه کړې چا ته
(پردېس) وویل خپل عرضونه خدایه تاته
۱۳۵٤/۱۰/۳

دجلالتماب مارشال تیتو دیوگو سلاویا دقهرمان ملت د ستر واکمن د ناروغۍ اندیښنه.

د اوښکو رود مې له لېمو ځي
له دې جهانه چې تیتو ځي

په دغه وخت کې چې کشور اسیر دی
د سرو وروسانو په لښکر اسیر دی
موږ ته تیتو غوندې لیډر ضرور وو
د اروپا دا شیر نر ضرور وو
ځکه په ده هر مسلمان ګران وو
په خاصه توګه پرې افغان ګران وو
مګر افسوس چې اوس زهیر پروت دی
دا ستر انسان د ځان په ویر پروت دی
موږ د وروس توپ او ټانګونه وژني
دا کافران زموږ نسلونه وژني
کنړ تخار او بدخشان کې مړه شوه
لوګر کندز او په بغلان کې مړه شوه
شوه استعمال زهرجن ګازونه په موږ
په ډیر شدت نیپال بمونه په موږ

په سر مې سیل د طـــیارو ځي
د اوښـــکو رود مې له لـــیمو ځي

خو زه قسم کړمـه ډیر سخت واوره
خپل ځـان به نه کړمـه بدبـخت واوره
ای د مـلي سمـــبول وحـدتـه واوره
ای د نـړۍ ســتر شـخصیته واوره
لکه چې څنـګه مې اورنګ نابـود کړ
لکه چې څنـګه مې فـرنګ نابـود کړ
هغونه ډیـر به شـورویان خاورې کړم
دوی به په زور د ټینګ ایمان خاورې کړم
خـیر دی که اوس په لاس کې څه نه لرم
بې تـبرګي بـلـه وسـله نه لرم
په دغـه تـبر به یې بـنیاد وکاږم
بېـخ د وروس به له هـیواد وکاږم
زیـری به در وړم روغــتون ته زه
تا به حیران کړم دې مضـمـون ته زه

خـیر دی که سر مې په چـړو ځي
د اوښکو رود مې له لـــیمو ځي

شپږم د جدي وو چې شور جوړ شو
له دې سمسور وطنه گور جوړ شو
کراري لاړه نا امني راغله
په مملکت کې گډوډي راغله
دې مسلمان او قهرمان ملت
ښار او بانډو کې ټول افغان ملت
په رڼا ورځو يې ټانگونه وسوه
په تورو شپو يې قطارونه وسوه
عالي همت بلند مقامه واوره
ای د نړۍ باتور مارشاله واوره
څو چې زما افغانستان ژوندی وي
څو چې په دې کې يو افغان ژوندی وي
وروس به په دې وطن کې ښاد نه شي
خورمه قسم چې څو برباد نه شي
توره به تيکي ته دننه نه کړم
خوره به ځان باندې برستنه نه کړم
وروس چې زما خاوره کې خورې راته
په سرو او شنو سترگو چې گورې راته

خنجر مې زړه کې په تېرو ځي
د اوښکو رود مې له لېمو ځي
۱۳۵۸\۱۲\۱۷

# ورنه شي

چې وځې له کاله نه د خیله کره ورنه شي
په طمه د پیسو چې نوکیسه کره ورنه شي

زمانه شوه ډیره تېګه هر څوک ځاني مطلب کړي
راسخ یار نه ځاریږه خو د تره کره ورنه شي
خیښې نه مزه تللي خپلوان نه پکاریږي
پ، ځان خپل متکي شه د باجه کره ورنه شي
آیینه د ضمیر پاکه په صیقل د خپل ایمان کړه
د خدای پاک اسره ښه ده د بنده کره ورنه شي
هغه چې د ژورې غونډې وینې درنه باسي
دښمن د جامعې دی چې هغه کره ورنه شي
که ښکیل کړې ظالمانو چېرته ته په دسیسو کې
خالي لاس قوماندان غونډې لیوه کره ورنه شي

چې نوم یې په خوله وانخلې ترې لرې لرې ګرځه
(پردېس) وایي دحق ځای کې ړانده کره ورنه شي
۱۳۵٤/۱۰/۱۵ -کندز چهاردره

# مساوي ونډه

ارتجاع ورنه ځان اوباسي په منډه
به هرځای چې اسلامي جوړه شي غونډه

زعامت میراثي نه دی د هر چا دی
ټول ملت پکې لري مساوي ونډه

د جهاد په برکت به هرڅه وشي
دسیسه د کافرانو به شي شنډه

اشغالګر به ژر په شا وځغلو موږ
خپل وطن به کړو را خلاص له خاروخنده

دی متل چې ځوک د بل لوځول غواړي
د هغه تنه به خپله شي بربنده

(تره کي) چې دا اقدام کړی ووځه شو
خپل کالي يې شوه د خپلې غاړې ګنده

که ازبک يې که تاجک او که پښتون
يو تر بله سره لار ونيسئ لنده

د هيواد په کانو بوټو کوئ فکر
د وطن خدمت کوئ په خلاصه تنده

که په سمه که په غره که په صحرا يې
که اوسيږي د سرحد په کوزه څنده

(پرديس) وايي دا موکور دا مو مدفن دی
وروس به هم پکې نابود شي بې له ځنده

۱۳۵۸/۱۱/۲۵ -کندز چارده

# د زنداني ځوی سره د زړه خواله

نه مې کور وای اونه کلی
اوسیدلی چېرته غلی

له آبادي نه بهر وای
پروت په سمڅو کې د غر وای
نه مې چا سره صحبت وای
نه صفت نه شکایت وای
بې د پاک الله له ذاته
سر مې نه ټیټیدی چا ته
کافرانو نه په ځنګ وای
په امان مې ترې مسکن وای
ظاهر دوست باطن دښمن
مخ د داسې مرد و زن

ما په عمر نه لیدلی
اوسیدلی چېرته غلی
نه مې کور وای اونه کلی

به تحریک ملحدان
رفت پسرم به زندان
دادند به برق تن نحیف اورا
تن نحیف جان ضعیف اورا
بالا آسمان پاین زمین گریست
به حالش جمله اهل دین گریست
دشمن دین میکرد خنده به آنروز
که شد واقع این واقعه به آنروز
خوشه چې ما ته تسلیّ کیده
د خوشحال خان دغه وینا کیده
ځنځیرونه چې شرنګیږي
د ځمروغاړې ته ولیږي
دي ځمري د ځنځیر وړ
په ځنځیر باندې ګیدړ

لاهیچا نه دی لیدلی
اوسیدلی چیرته غلی
نه مې کور وای او نه کلی

زما ځویه زړه دې نه کړې لر او بر
که جهان درته تول ونیسي سنګر

یو ویښته به ستا له تنه نه کړي کم
تا به خدای ساتي په خپل فضل و کرم
ته د خدای په امر ناست یې په زندان
هم دا خدای به دي راخلاص کړي په ښه شان
تاخو لوستی دا متل چې داسې کیږي
په یاری کې خو ضرور بنګړي ماتیږي
مور دي تږوله شپه ده ناسته په قرآن
خور دي ډوبه ده په غم کې د هجران
(باري ګیۍ) درته دعا په خوله وره کړي
تا به ژر خالق د ده سره جوړه کړي
حال زما د خوا نه مه پوښته چې څه یم
چې ته نه یې ځویه زه به هم بیانه یم
نوي نوي حادثې را ولاړیږي
د لیمو نه مې د اوښکو رود بهیږي

د زمانې رنګ اوښتلی
اوسیدلی چیرته غلی
نه مې کور وای اونه کلی

بشنو زمن تو ای پسر من
ای یگانه لخت جگر من

به ضرب گل کجا شایان بودی
اما که تو یک مسلمان بودی
این د هری ها ترا شلاق زدند
شنیدم ترا به تیاق زدند
امید است گیرم انتقام ترا
آریم به دست همین مرام ترا
اگر چنین نکردم نر نباشم
بدان که من به تو پدر نباشم
د دغه امر د انجام لپاره
د مفسدینو د اعدام لپاره
لرم ټوپک ډیرو مرمیو سره
نور به زه گورم دې د هریو سره
که دغه سره شنه مې تباه نه کړه
که ورک له دې خاورې نه ما نه کړه

موربه نه یم زیږولی
اوسیدلی چیرته غلی
نه مې کور وای او نه کلی

په جهان کې طوفانونو
خونړو انقلابونو

درولـــــي بـــــــــشر واړه
د لـــحـــد پـــه کـــړه غـــاړه
پـــه ډهلـــي کـــې ګـــوره څـــه دي
خلـــک يـــو پـــه بـــل اخـتـــه دي
پـــه ايـــران کـــې بـــناء جـــنګ دی
هـــر ســـړی پـــه ويـــنو رنـــګ دی
مـــوږ اشغـــال کـــړو وروسانـــو
دې بـــې رحمـــه کافـــرانـــو
نـــيم لـــه خـــاورې نـــه فـــرار شـــو
څـــه کـــورونـــو کـــې بمـــبار شـــو
څـــه پـراتـــه پـــه زنـــدانـــو کـــې
تـــورو تـــورو زولـــنـــو کـــې
لـــه دا هـــسې زنـــده ګـــۍ نـــه
چـــې ده ډکـــه بـــې خونـــدۍ نـــه

نامعـــلومـــه خـــوا تـــه تـــللـــی
نـــه مـــې کـــور وای او نـــه کلـــی
اوســـيدلـــی چـــيرتـــه غلـــی

نـــه ليـــکوال او نـــه شـــاعر وای
لـــه دنـــيـــا نـــه بـــې خبـــر وای

وای په مخکې مې اوښان
پسې زه وای سرگردان
نه مې ټانګ لیدای نه توپ
نه په وینه نه په خوب
کمونیزم تول نابود وای
تباه شوی دا مردود وای

دا ارمان مې وای وتلی
اوسیدلی چیرته غلی
نه مې کور وای اونه کلی
۱۳۵۹/٦/۲۵ - چاردره کندز

# د مجاهد زمزمه

تل آزاد یم گرځیدلی غلامي مې کړې نه ده
د دنیا د زور ګویانو بنده ګي مې کړې نه ده

دا مې لاپې شاپې نه دي دنیا والو ته معلوم یم
په دا زړه د آسیا کې د تاریخ عالي مفهوم یم
چا چې ما باندې راوستي د وروسانو سره فوځونه
دوی دې وګوري په غور زما مخکې تاریخونه
له آدمه تر دې دمه تل آزاد یم اوسیدلی
په دا خپله پاکه خاوره کې ښه ښاد یم اوسیدلی
داغ مې نه دی پاتې شوی په لمن د بد نامی
ځنځیرونه مې مات کړي تل مدام د غلامی
چې موندلي مې دنیا ده بیا ښندلي مې له سره
ظاهر ښکارمه فقیر پټ پادشاه یم بې لښکره

د الحاد سره مې جنګ دی بردګي مې کړي نه ده
تل آزاد یم اوسیدلی غلامي مې کړي نه ده
د دنیا د زور ګویانو بنده ګي مې کړي نه ده

ای زما د وطن غرونو زه په تاسو سر بلند یم
چې لمنو کې دې اوسم له ښه ژونده بهره مند یم
تول راغلي سره روسان به ستا په تړوکې نسکور کړم
په خپل عزم افغاني به کرملن باندې بل اور کړم
ستا دختو خړ کورونه په قصرونو به ورنه کړم
ستا وړې اوغتې تیږې په لعلونو به ورنه کړم
ته چنگیز اداره نه کړې په درو کې دې حصار شو
چې تیمور درباندې راغی په جهان کې شرم سار شو
ستا پکتیا او پکتیکا ستا لغمان او ننګرهار
ستا بکواه او هریرود ستا هری او کندهار
هر یو ځای دې لرې بیلې ډک له ویاړه کارنامې
د تاریخ له تاړاکونو راوتلې افسانې
د دښتونو سره ګلان دې برترې کړي له ختنه
دآسونو شنهار دې تل راځي له قطغنه

ستا په غیږکې یم زوشوی سرټیټي مې کړې نه ده
تل آزاد یم او سیدلی غلامي مې کړې نه ده
د دنیا د زورګویانو بنده ګي مې کړې نه ده

ستا زر کانو تل مات کړي دبازانو ورمېــــړونه
ستاغر څه مدام اخیستي له زمریانو نه بــاجونه
ستا ملاله لاړوندۍ ده په میوندکې انګـازې دي
دنړۍ په هره بــرخه کـــې خــورې دا آوازې دي
د نیکونو تېرې تورې مې ساتلي دي یـــا دګار
د دې خاورې دښمنان به کړمه ټول پرې تار ومار
دا له تیږو جوړسنګر مې دی ښایسته له تاج محله
پکې ساتمه دا خـــاوره د پـردو لـه چـــپاولـه
دې کې هریو زورګیر تـه مـې ورکړي ګـــذارونـه
د دښمن لـه ککرونـه مـې جـوړ کـړي کـتارونـه
زه (پردېس) یمه دوستانو قصوري مې کړې نـه ده
تل آزاد یم اوسیدلی غـــلامي مې کړې نه ده
د دنیـا د زورګویـانو بنـده ګـي مـې کـړې نــه ده

۱۳۵۸/۱۰/۱۱ - کندز چاردره

# کورتاب قره باتوره

کورتاب قره باتور ددوومختلفو قومونو په معنی کې د هغه یوه غره دوه نښتې ټوټې دي کوم چې دچاردرې ولسوالۍ یې دیو خاص جنګي ستراتیژیک موقعت نه برخورداره کړې ده.

کله چې ۱۳۵۸ کال دجدي په میاشت کې دوروس سرې بې رحمه جنګي لښکرې د ببرک کارمل په لارښوونه افغانستان ته راننوځي او د مسلمانو مجاهدینو دټینګ مقاومت سره مخامخ کیږي وروسان په ډیره بې شرمۍ سره خپلې دوه سیله بم غورځونکي میک جازونه اوتوپ ویشتونکي هلي کوپترې دکورتاب قره باتور په سرالوزوي ګمان کوي چې دحرکت اسلام مبتخر عالم اومبارز مشر ښاغلی هاشمي او د حزب اسلامي یو باتجربه او تکړه مشر حاجي سعدالدین او د جمعیت اسلامي ننګیالی قومندان ښاغلی صوفی سرور به په دغه غره کې وي نوله واره د غره ټولې لوړې او ژورې د اورلاندې نیسي . شاعر چې ددغه غره په لمنو کې یو بولوک میږې مخکې اچولي وې سترګې یې په دغه خونړۍ صحنه ښلې چې تاثرات یې په لاندې ډول منظومه بڼه پیداکوي .

## بسمه تعالی

کورتـــاب قــــره بــــاتوره
پــه دښـمن دې شــه موربـوره
دوروسانـو طیـارې دي پـه سر گرځـي تـورې سپینـې
لـــه زړه مـــې ښـــاخي وینـــې
وطـــن کـــې شـــر اوشـــور دی
د جنــــگ بـــل شـــوی اوردی
د کــــور ناســـته پیغــــور دی
اوس هـر چـا بانـدې فـرض دی چـې راودانگـي خـدمت تـه
د خــــاورې حفــــاظت تــــه
ټانگونـــــه طیــــــارې دي
توپونـــــه دهـــــشکې دي
پریمانـــــه اسلحـــــې دي
قـتلونـه دي ورانـي ده بـلاه گانـې شـوې مغـروره
کـورتــاب قــره بــاتــوره
ای ور ونـــــــــو زړورو
نـــږدې اوهـــم دلــــرو
وروس نــه ځــي پـــه خــبرو
راپورتــه غــټ واړه شـئ ورتـه ونیـسئ قـمچینـې

لـــه زړه مـــې څـــاڅـــي وينـــې
ســـروره ګـړنـــــدی شــــه
دخـــا ورې نـــه لـوګـــــی شـــه
مـــدام پـــاتې ژونـــدی شـــه
مـــوږ واړه درســـره يـــو پـــه شـــا نـــه شـــې لـــه دښـمنه
پـــه مخکـــې ځـــه تـــوررزنه
ورروســـان وهـــه پـــه څـــټ
ښـکـــاره اوهـــم پـــټ
مـــه اوړ ګـــوره مـــه غـــټ
دحـــق اوباطـــل جنـــګ دی پکـــې نـــه شـــې بـــې حـــضوره
کـــــوړتاب قـــره بـــاتوره
تـــه پـــاک ســـوچه انـــسان يـــې
تـــه ځـــوی دمـــسلمان يـــې
کلـــک لکـــه سنـــدان يـــې
د زروي قـدرت پـه مـخکـې يـې ولاړ خلـک دي وينـي
لـــه زړه مـــې څـــاڅـي وينـــې
ای خـــدايه مهربـــان شـــه
ملګـــــری د افغـــان شـــه
حافـــظ مـــو د ايمـــان شـــه
زمـوږ مـجاهـدينـو تـه نـصيـب ډيـر لـوی بـرئ کـړه

له خاورې ورک وروسئ کړه
د وروس غونډې غدار
نيولي دي ديار
ملت دی خوار و زار
خوشحالي له خلکو تللې روغ بدتر دی له رنځوره
کورتاب قره باتوره
ځوانانو بوډاګانو
زما ورېنو خورګانو
د دې خاورې بچيانو
خپل ګډ دښمن ته يو شئ ورته مه اوسئ خواشينې
له زړه مې شاخي وينې
راپاڅيږئ چې څه دي
په غم خلک اخته دي
په خاروکې پراته دي
نورجيګ شئ تورې واخلئ وروس وتوته کړئ مجبوره
کورتاب قره باتوره

۱۳۵۹/۱۱/۷- چاردره کندز

**يادونه**:

درنولوستونکودا د(پردېس) صيب وروستی شعر دی چې له بده مرغه نيمګړی پاتې شو او (پردېس) صيب په شهادت ورسيد دشهادت نېټه د ۱۳۵۹ کال دسلواغې دمياشتې اتم مانبام.

# کتاب

انسانان لـه ځانـه هيـڅ نـه شـي کـولی
څـو پـه ډيـر غـور تکـرار نـه کـړي کتـاب

د عافيـت لاره بـه څـوک نـه کـړي پيـدا
څـو معلومـه ورتـه لار نـه کـړي کتـاب

پـه حجـاب کـې ښـکلي کلـه ليـدل کيـږي
څـو ليمـه دچـا بـيدار نـه کـړي کتـاب

هـيڅ عاشـق بـه دمعـشوق ديـدار ونـه کـړي
چـې حـضور تـه يـې رويبـار نـه کـړي کتـاب

بې کتابه انسان نه بولم انسان زه
انسان نه دی چې دلدار نه کړي کتاب

طالبان تر هغه نه تړي دستار
څو ځانونو سره یار نه کړي کتاب

بختور سره په غیږ کې وي همیش
خدایه هیچا نه کنار نه کړي کتاب

شاګردان به پټې سترګې وي تر هغه
څو د شپې مخکې اوار نه کړي کتاب

د عزت خرقه به هغه څوک اغوندي
د دولت ځنې چې ځار نه کړي کتاب

(پردیس) مړ تر هغه وخته نه کړې خدایه
څو خواره واره آثار نه کړي کتاب
۱۳۴۴\۸\۲۴

# دمعلم ترانه

نشته ثاني ستا د مسلک په ټول جهان معلمه
ای دافغان معلمه
ته چې درس وايې په مکتب کې شاګردانو ته
خوږو کوچنيانو ته
در باندې اوري رحمتونه د رحمان معلمه
ای د افغان معلمه
ته د وطن صالح اولاد يې باسې زيار و زحمت
آرام دې نه دی صورت
ليدلی نشې د هيواد بچي پسمان معلمه
ای د افغان معلمه
ته د وطن له هر فرزنده بوعلي جوړ کړه
سير يې علمي جوړ کړه
منزل ته بوزه د هيواد پاتې کاروان معلمه
ای د افغان معلمه
اولس په ګوندۍ اوتربګنۍ کې خوار وزار دی
ډير نا قرار دی

دغه اولس ته مسیحا شه عالي شان معلمه
ای دافغان معلمه
ستا د خدمت تقدیر کوي په احترام ولاړدي
لاس په سلام ولاړدي
اوړکو راوړی د (پردېس) تاته سلام معلمه
ای دافغان معلمه
۱۳٤٤/۷/۱٥

# رباعي

موږ مسلمانان یو مسلمان غواړو
نوم دمسلمان لوړ په جهان غواړو
چاچې داسلام په ضد راوستي اجنبیان دلته
کورېې دمرګي په چیغه وران غواړو
۱۳٥۸/۱۰/۱٦

# خرخرایي

د پښتون ساده اولاد یم صحرایي
وظیفه نه ده زما خرخرایي

سابقه د خدمت نه لرم دې فن کې
زه لوی شوی یم د جیګو غرو لمن کې

نا بلدیم که اشغال خایه مالي کړم
هسې نه چې خوتې وچوي ځان بندي کړم

پریږده ما چې په دا حال خوار اوزبون یم
دا پستي به څنګه کړمه چې پښتون یم

که د خوتو په مښلو لاړ اوچت شم
ورسته نسل ته به پاتې ملامت شم

یوه ورځ به داسې راشي عاقبت
خایه مال به ونیسي ګُنج د عزلت

د کار اهل به په کاربانديې تعین شي
خایه مال به لکه پشم د هر غین شي

۱۳۵۴\۹\۱۲ - سمنګان

# گل ډانګه

ګل ډانګه غاپه په غپا کې دې ښکلا ښکارېږي
ته چې غپېږې خاینان ډیر وار خطا ښکارېږي

نه دما کول شته نه معاش نه د رتبې حریص یې
د سرو او سپینو خاوندان درته ګدا ښکارېږي
ته ښکارندوی د امنیت یې مدام ویاړم په تا
دقوم دښمن ستا له دهشته په ژړا ښکارېږي
د زورورو ظالمانو څخه ښه ګڼم تا
د وطن مینه درسره بې انتها ښکار یږي
کاش کې دې ښارکې ته ولسوال اوقومندان تعین شې
د غلود لاسه خلک ټول په واو یلا ښکارېږي
پوښتنه نشته غور مړ دی هیڅوک کار نه کوي
په دغه عصر در خشان کې ولس تباه ښکارېږي
چې دغفلت په خوب ویده دا خپل ملت وینمه
لرې دفکرنه د دې قوم اعتلا ښکارېږي

وایي (پردېس) چې نور لګیادي خپل کارونه کوي
دلته د کار خبرې موږ ته معما ښکارېږي

# اى غريبه وروره ژاړه

ژمې راغى گرمي لاړه
اى غريبه وروره ژاړه

چاپړې جوړکړه بلډنگونه
چاپړې واخيستل باغونه
رشوت ډېرخلک بدا کړه
خاوندان يې د طلا کړه
اوس يخ نه کړي پرې اثر
چې لري تاوده موټر

د رشوت نه امان غواړه
اى غريبه وروره ژاړه

غور مړ انصاف رنځوردى
جوړ په ټول وطن کې چوردى

دی نوبت د سود خورانو
دبې رحمه انسانانو
د ایمان ځنې غیران
بولي ښه په هر زمان

خپل لاسونه مښه دواړه
ای غریبه وروره ژاړه

واورې پریوتې په ځمکه
په نرخو به تاثیر وکه
دغلې حاصل به زیاد شي
پرې آباد به ټول هیواد شي
خو چې وي محتکران
غنم نورهم گوره گران
دی ښکاره حقیقت واړه
ای غریبه وروره ژاړه
ته (پردېس) ډیرخوار و زاريې
ناکردې وینې بیمار یې
لکه شمه ویلې کیږې
خلک لوړ ځي ته تیږې
چې شاعر فصیح زبان یې

انزواکـــــي ناســـــت پرېـــشان يـــې
دی درپـــــــــاتې يـــــــوقلم
نـــور دي هـــر څـــه دي بـرهـــم

خـــدای دي مـــل شـــه شـــواره پـــاره
ای غريـــبـــــــــــه وروره ژاره

۱۳٤۷/۱۰/۹ - صنعتي بغلان

# زړه مې نه دی

زړه مې نه دی چې حاکم اوقومندان شم
زړه مې نه دی چې زه یاد په دې عنوان شم
زړه مې نه دی چې املاک کې مقررشم
چې په لړه موده کارکې میلونر شم
زړه مې نه دی چې وکیل شم دملت زه
چې پیداکړم دولتونه په خیانت زه
زړه مې نه دی چې قاضي چېرته تعین شم
چې په میاشت نیمه کې غټ پټ خوجین شم
زړه مې نه دی چې ملک شمه د قام زه
چې اوښان خورمه د بار سره مدام زه
زړه مې نه دی چې دا زه دې ښارنوال یم
یا د چېرته سر پرست غوندې ښاروال یم
زړه مې نه دی چې مې جوړتل آب وتاب وي
چې یو زه یمه آباد اونور خراب وي

زړه مې نه دی چې ریس شم دمعارف زه
چې حساس ښوونکي ټول کړم برطرف زه
زړه مې نه دی چې ډاکتر ته ورکړم لاس
ډاکترانو نه لیدلی مې هراس
زړه مې دا دی چې خالق مې سم تقدیر کړي
د کندز په ترافیک کې ما مدیر کړي
که مدیر د ترافیک شم څه مې غم دی
دې چوکۍ کې وایه کوم شی دی چې کم دی
نه په تا او نه په هغه به پرواکړم
د خیانت ملا وستنې به ترملاکړم
څومې توان وي کاربه کړمه په سرعت
چې راټول کړم ډیر نوټونه په خیانت
بیامې نشته اندیښنه که شم رسوا زه
په پیسو به دفعه کړم هره بلا زه
ای (پردیسه) څوچې ګرم دا بازاروي
صادقان به دوطن ټول خوار و زار وي
قوم وطن چې خرڅوي په څو ټنګو
ډیر نفرین دوي په داسې عقیدو
۱۳٤۹/۳/۲۸ - چاردره کندز

# د امو درياب په ساحل کې دښکار خاطره

د آمو د سيند د غاړې ياد ګارونه
د ملګرو په مرغانو دي وارونه
څوک چې ښکار کوي مرغان خورې دهوا
هغو تل په ځان منلي زحمتونه
په هوا کې د مرغانو شور ماشور وو
لاندې مور ورته پټ کړي ووځانونه
توره شپه شوه د آمو ساحل کې ناست يم
د تاجک بريښنا کوي اشارتونه
د حسرت په اور کې سوزم لکه شمعه
کړي ما وطن ته نه دي خد متونه
د آمو درياب د حال په ژبه وايي
ته وهلی څه بلاه يې ای پښتونه
جواهر طلا مې ګوره په سينه کې
راشه سر دې کړم د عمر حاجتونه
د غفلت په خوب ويده يې نه شرميږې

خپل راتلونکي ژوند ته جوړکړه پلانونه
د نفاق توري بلاه يې زهير کړي
په احوال دي ژاړي څمکي آسمانونه
نه پوهيږم دا دې څه رنګه همت دی
نور سپوږمۍ ته وختل ته کړې خوبونه
لويه خدايه چاته وژاړم دا حال
افغانان به مې ترڅو کوي جنګونه
دغه ټول پخپل شخصي ګټو کې بوخت دي
هيڅوک نه خوري د وطن او قام غمونه
د منصب او د چوکۍ خيالونه ډير دي
د قومي تعمير هيڅ نه وينم فکرونه
نافرمانه سيلاب راولې خاونده
پرې خراب د خاينانو کړه قصرونه

# دفانوس غبرگون

فانوسه راغـــی ستا سـلام د اخـــتر
د مینـي ډک شـــیرین کـلام د اخـــتر
اختـر زهـــیر لاړو لـه غـمـه زمـا
اختـر کې جوړه نـه شـوه دمـه زمـا
لکـه بزیـښنا تـیر شـو ایـام د اخـتر
فانوسـه راغـــی ستا سـلام د اخــتر
نــه وي پیـسي چې سرسایـه ورکــړم
حـق د مــلا غــوره گـولـه ورکــړم
اوس مــرور گرځـــي امـــام د اختـــر
فانوسـه راغــی ستا ســلام د اخـتر
واړه مــې واړه بـې جامـــی پاتـــې وه
وکـړه بـاور چې بې مـــیوې پاتـــې وه
سرکال مـې نـه وه پـوخ اوخـام د اختـر
فانوسـه راغـــی ستا ســـلام د اختر
اختـر بـه څـه کـړو چې پالــنه نـه وي
پـه کې د خـوار غریـب پوښتنه نـه وي
وایي (پردیس) چې ورک شه نام د اختر
فانوسه راغـی ستا ســـلام د اختر

## دانتخاباتو نتیجه

چــا کورونــه خپــل گانــه کــړه چــا لورگــانې
دیارلـــــــسمــې دورې راوړې بـلاگـــــــانې

لـــکه پانـــې ســره نوټونـــه وریـــدل
پلوونـــه هـــم بـــې دریـــغــه دمـــیدل
شخــصیت دچاتـــه نـــه کتـــل هیــچـــا
د پیـــسو لـپــاره جـــوړې وې نـــڅـــا
سږنــــي انتخــابات ډیـــر عجیـــبـــه وو
لگـــښتونه خراجـــات ډیـــر عجیـــبـــه وو
یـــوه رایـــه وه خـــتـــلې زر روپـــو تـــه
بـې روپـو کلـــه راتلـــه څـــوک صندوقـوتـــه
ملکانـــو پـــه کـــې واخیـــستل آســـونـــه
مـــامورینو پـــه کـــې غـــوړکړه خپـــل بریتونـــه

دغـــه چـــارې وې پـــه هرځـــای کـــې روانـــې
دیارلـــــــسمــې دورې راوړې بـلاگـــــــانې

هغـــه څـــوک چـــې وو لایـــق او فهـــمـیده
چـــا پـــوره ورســـره نـــه کـــړه یـــوه وعـــده
پـــه خـــالي میـــدان کـــې پاتـــې شـــوه تنهـــا
کـــدوخـــان کُرســـۍ تـــه لاړو د شـــورا
کـــدوخـــان کاکـــا تـــه وکـــړئ مرحبـــا

کـــــدوخان وهــــلـــــي ده لـويــــه پـايگـــــا
کـــــدوخان بانـــــدي دوې آفــريـنونـــه
چـــې آخـــر يــــې وگــتـــل عظـيــم وتـونــه
آفريــــــن د وي مـــــدام پـــه کــدوخـــان
لـــه تاثــيـــره د پلـــو شـــــو قـهرمــان
د پلـــو خـبـــرې دي ډيــــرې دشـــوارې
لـــه هـرچـا نـــه پـوره کـيږي دغـــه چـارې
يـــو پلـــو د خــپل کالـــه بـــل د کــافي دی
بـــل پلـــو د کانـديـدانـــو د ديـــگی دی

د کانديـــد پلـــو تخريــب کـــړې کلاگـــانې
ديارلـــــسمې دورې راورې بـــــلاگانې

لويـــه خدايـــه دغـــه شـــې زمـــوږ ســبا کـــړې
د ملــــي ثبـــات احـــساس راکـــې پيـــدا کـــړې
نـــر او ښځـــو تـــه زمـــوږ راکـــړې قـــوت
چـــې پـــه مـــينه کـــړو آبـاد دغـــه ملـــت
زه پـــښتون او تـــه اوزبـــک هغـــه ديگـــان
دا رنځـــونه تبعيـضـــي غـواړي درمـــان
د دې رنـــځ سبب سنا او بيا ولـــسي شـــوه
چې پـــيدا د قـوم ترمنځه تـربگـــنې شـــوه
ځـوی د پلار او پـلار د ځوی واخيـــست لاسونـه
چې رواج شــــوه پـه پـيسو بانــــدی وتـونـه

دا عمل به اخر ورک پاخه اوخام کړي
د افغان ځلاند تاریخ به ټول بدنام کړي
تشتت راکې پیدا شو لویه خدایه
لار د خیر او د فلاح موږ ته وښایه
هغه لار چې په کې خیر د ټول ملت وي
هغه فکر چې حاصل یې یو وحدت وي

خو د خواهي راکې پیدا کړې خلاګانې
دیارلسمي دورې راوړې بلاګانې

هر شپه به په هر کور کې جوړ محشر و
راټول شوي به لس شل کسه ببر و
هغه غله چې حج ته تللي وو په ګډه
قاچاقي مالونه یې ووهل په بډه
تل به ناست وو قرآنونه په بغل کې
نوټ په لاس خوله یې په جار او زړه په چل کې
لکه چېرې چې ورابانې چاته پنډ شي
یا خو چېرته ټپوسان په مرزګه غونډ شي
لوی اولس یې هر ساعت ګمراه کولو
چال چلند یې د وټو خطا کولو
څو چې دغه رنګ سړي د قوم مشران وي
دا ملت به د وطن واره پرېشان وي

ای (پردېسه) د دوی خونې غواړه ورانې
دیارلسمي دورې راوړې بلاګانې

## پیسې نه غواړم

په پیسومې مین نه کړې ای خالـــقه مهربانه
باورمې په ځان نشته پــیسه نه غـواړم لـه تانه

په پیسو که دې مین کړم جوړ به ما نه شي سود خور
کـه څوک ورک او تبـاه کیږي زه به نـه ورکوم پور

ښـه مې خپلـه نـاداري ده قـنـاعـت راکړې سبحانه
بـاورمې پـه ځان نـشـتـه پیسه نـه غـواړم لـه تانـه

د پیسو په مینـه غرق شو پـه دې ځمکـه کـې قـارون
د پیسو بلاه ده بده خـلـک وژنــــې پـه افــسون

د پیسو چې بنده ګي کړي وي منکر د پاک الله نـه
په پیسو مې مین نه کړې ای خالـقـه مـــهربانـه

پیسه ښه ده بده نه ده پرې حاصل د نیکو نام کړه
پیسه تل په جیب کې نه وي ای (پردېسه) گوره پام کړه

په یو لاس یې راته راکړه په بل لاس یې واخله ما نه
په پیسو مې مین نه کړې ای خالقه مهربانه
باور مې په ځان نشته پیسه نه غواړم له تانه
۱۳٤۷/۷/۱٦ - نوی بغلان

# رباعي

یا برېښنا د سپینو تورو
یا دیدار د ښو مخونو
چې تاثیر یې له زړه نه ځي
دا شنهار دی د آسونو

## موري

مـــورې بچيانـو تـه دي كار وښايـه
دغـــه ســبق ورتـه تــكرار وښايـه
مـلي وحـدت ورنـه خـراب دی ولـې
دغـــه بـې ډب اولاد تـه لار وښـــايه
سـود او رشـوت بانـدې اختـه دي واړه
ورتـه په ژونـــد لـړم اومـار وښايـه
د يو اوبل په حق يې پوه غوندې كړه
هـــر ناخـلـــف لـــره دې ډار وښـايـــه
زامـن لـور گـانې دي ستومانـه وينم
(پـردېس) تـه دا غـمژن اسـرار وښـايه

۱۳٤٦/۳/۲۲ - نوي بغلان

## زمـا

چـې كـــړه چاره نـه شـي سمـه زمـا
جـوړه بـه نـه شـي گـوره دمـه زمـا
د ځـــان صـفت د بـل غيبـت چـې كـوم
دا خـو ضـــرور راغـــلي كـمـه زمـا
ظـالـم خائـين ســره چـې وخانـــدم
دا قاعـــده نــه ده مـحـتـرمـــه زمـــا
د قـوم پـه مـخـكي ملامـت ولاړ يـم
د ژونـــد دفــــتر دی بـې رقـمـه زمـا
وايـي (پـردېس) چـې زه بـه هـيڅ ونـه كـړم
چـې اراده نـه شــــي محكمـه زمـا

۱۳٤٤/۷/۱۷ - نوي بغلان

# سلام

ډیر منلو محصلانو سلام
ای د افغان وطن بچیانو سلام
د لوي خدای نه درته غواړم موفقیت
د علومو په تحصیل کې ډیر پیشرفت
خلکو کړله د سپوږمۍ خاوره تسخیر
خارجي فضاته لاړه په تدبیر
موږ تر اوسه په دې ځمکه خوار وزار یو
بې علمۍ د لاسه سوي په انګار یو
نه مشران راکې معلوم دي نه کشران
یو د بل مخې ته باسو تل کویان
دی قسم چې ترڅو نه شو یو وجود

په کارو کې به مو رانه شي بهبود
دا مرض په زور د علم مدوا کړئ
ډيره مينه د تعليم سره پيدا کړئ
تنها زه تاسو ته نه کړم دا خبرې
په ژړا دي د وطن ټولې ډبرې
د وطن له درد او غم نه ځان اګاه کړئ
ای ښاغلو د کمال ليمه پيدا کړئ
نظري درسونه ټول خپل عملي کړئ
پرې خوشحاله د وطن مړي ژوندي کړئ
ځکه مونږ کې منل شوې دا قاعده ده
جامعه زمونږ له کاره آزرده ده
د يو بل غمونه نه کړو غم د ځان کړو
نه پوهيږمه چې ولې دغه شان کړو
دا خبرې ټولې واورئ ښه مضمون دی
ليکل شوی په قلم د يو پښتون دی
پس له مرګه که ګټې ژوندي نومونه
(پرديس)وايي ورکړئ يو بل ته لاسونه

۱۳۴۸/۸/۶ - کندزچاردره

# د مړو ادیره

د طوطي غوندي چغیږم پنجره کې
بندیوان یم د کندز په چاردره کې
له آسمانه رالویدلی یم په ځمکه
زنده ګې کوم د مړو ادیره کې
له هیچا سره مې نشته ناسته پاځه
مدام ورک یم د خپل فکر مانوره کې
پس له دې غوارم د خلکو نه په څنګ شم
چېرته ګډې بزې وساتم په غره کې
دی قسم چې هر ساعت په مرګ راضي یم
چې لیوان ګورم د انس په قواره کې
لاس پښې وهم ساحل ته نه رسیږم
لاهو شوی یم د غم په بحیره کې
نه والي نه کوم ډار او نه وزیر نه
خو میرزا نه کوم ډار په اداره کې

غور نشته محکمو کې چور بناء دی
عدل کوم دی چې قاضيان ورکړي جندره کې
عقل وايي راته غلی کېښنه چپ شه
چېرته بند نه شي ناحقه فقره کې
اوبه پروړې لاندې بيايه کوه پام
ارتجاع لوله د وخت په سپاره کې
سپين ته تور او تور ته سپين وايه مدام
حقيقت نه کړې اظهار پټ او ښکاره کې
په طوفاني بهر لاهو قومي بېړۍ ده
د افغان ملت راګير دی خطره کې
باچا خان د قوم خدمت کې زنداني شو
د خوشحال بچي ويده دي تاتره کې
(پردېس) وايي چې په رَوند وسومه اور کې
پس له مرګه به مې ياس پروت وي ايره کې

# پښتون پايمال دی

چې نطاق يې پاينده غونډې ناسيال دی
پېښور راديو ته غور نيول اوبال دی
چې صفت د ذالفقارعلي بوټو کړي
توکل خان ته پښتون مه وايه قوال دی
د ميرويس بچي ويده په درانه خوب دي
خاينانو غوړولی ورته جال دی
قيوم وژني پښتانه وزارت نيسی
د خپل بد عمل پاداش نه فارغبال دی
څوچې دالويدلی قام په خوب ويده وي
دريده د ظلم مخکې خواب اوخيال دی
د غازي فخر افغان بچيانو يوشئ
ځان ځاني کې خو د تاسو ژر ذوال دی
که نن دير کې په سوولـه تيغه تير شوه
سبا سوات کې هم په تاسو دغه حال دی
د پښتون بقا لپاره مې قربان کړئ
سر مې مه تيتوئ چاته دا مې سوال دی
چی د نورو ډول ته څرخئ خپل مشران موکړه زاړه په زولنو
(پرديس) وايي پو پنا شئ خدای مو واخله ای نامرده پښتنو
۱۳۵۵/۸/۲۴ - چاردره کندز

# پاخېږه

ای د پامیر او د سپین غر خلکو
ای د خاپښ او د خیبر خلکو

ای د غزني او د پکتیا اولسه
ای د زرنج او د فراه اولسه

ای د لغمان او ننگرهار مېړنو
ای د هرات او کندهار مېړنو

ای د کندز پهلوانانو ورونو
پهلوانانو بزرکشانو ورونو

وطن وروس درنه نیولی ښځه نر پاځېږئ
وریسي توري را وچتي کړئ ډیر ژر پاخېږئ

دلته او هلته بلا شکه په هرآن باندي
جهاد فرض شوی په هرځای کي مسلمان باندي

که کاپیسا او په پروان کي پروت یي
که تورو غرو د نورستان کي پروت یي

که سمنگان بامیان بغلان کي اوسي
بلخ او فاریاب که په جوزجان کي اوسي

د پکتـــيکا که د لـــوگر اولـــس يې
که د وردگـــو غـــونـــدې نر اولـــس يې

که بـدخـــشـان که په تـخـــار ديـــره يې
که په صـــحرا او که په ښـــار ديـره يې

جنگ د وروس ته په نعره د يو تکبير پاڅـيږئ
ورپسې تورې را اوچتې کړئ ډير ژر پاڅـيږئ

دلته او هلته بلاشـــــکه په هــر آن باندې
جهاد فرض شوی په هر ځای کې مسلمان باندې

ای د زابل گـرانـــو ښـاغــــلو واورئ
ای د هـــلـــمــــند تـــولـــو ناقـــلو واورئ

ای د بامــــيان هـــــزاره گـانـو ورونـو
ای د پـــنجـــشير غـــضـنفريانو ورونو

ای قـــزل باشــــو قـــدر مـــنو ورونـو
ای وزبکـــانو ای ترکـــمـــــنو ورونـو

لاسـونـه ورکـړئ د وحـدت لښـکر، لښکر پاڅـيـږئ
ورپسې تورې را وچـــتې کړئ ډير ژر پاڅـيـږئ

دلــــته او هلــــته بلاشـــکه په هـرآن باندې
جهاد فرض شوی په هرځای کې مسلمان باندې

343

# خبرتیا

گرانو لوستونکو ! کوم شعرونه چې پدې ټولګه کې تاسوته وړاندې شول دا د شهید زین العاب الدین (پردېس) د شعري نړۍ یوه برخه ده ،د نوموړي ډیر شعرونه ورک شوي دي او که کومه ټوټه یې له چاسره وي نو هیله تري کوو چې موږ ته یې په لاندې پته رالیږي:

- دکندز پوهنتون
- ښوونې او روزنې پوهنځی
- د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه
- پوهیالی عبدالمجید (پردېس)
- د تیلیفون شمیرې (۰۷۰۰۷۰۰۰۵۲)

(۰۷۷۸۶۵۷۱۲۲)

برېښنا لیک : Mpardis.kz@gmail .com

"قاطن" له پیښور څخه

## د شهید "پردیس" په یاد :

ستر ګې ئې کړې پټې له دنیا "پردیس"
پرېښود لوو یواځې بینوا "پردیس"
بدله ئې فاني دنیا په تل کړ له
کړ له ئې فانی دنیا ته شا "پردیس"
ده ته خو نصیب حورې غلمان به وی
پرېښودل غمونه نا اشنا "پردیس"
جوړ چې به محفل د فرهنګپالو شو
هر محفل ته زیب او ښکلا "پردیس"
ډ که خوله خندا نه د هر چا سره
خلاص له تکبر او له ریا "پردیس"
نه ومه شاعر "پردیس" شاعر کړمه [۱]
کړم له "اتحاد" سره اشنا (پردیس)
تل به ئې په لیک او زړه کی ستایمه
ډیر و مهربان او ګران پر ما "پردیس"
ورانه ئې د "قاطن" د زړه کلا کړ له
نور به ئې یاد ومه په دعا "پردیس"

۱ (د بغلان اتحاد اخبار)

د چاردري ولسوالي جغرافيوي جوړښت




د نقشي اوړونکې: (تصميم)



# د شهید زین العاب الدین (پردېس)

## لنډه پېژند ګلوي

زین العاب الدین (پردېس) د حاجي سعد الدین (خوږیاڼي) ځوی په (۱۳۰۷) لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ د ماڼو د کمانګرو د کلي په یوه روحاني کورنۍ کې وزېږېد او په (۱۳۱۵) لمریز کال کې له خپلې کورنۍ سره د کندز ولایت چاردرې ولسوالۍ ته راغی، خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د دغې ولسوالۍ د جمعیت په لیسه کې بشپړې کړې، وروسته یې لوړې زده کړې د کرهنې په برخه کې د بغلان په ولایت کې چې هغه مهال د قطغن مرکز و سرته ورسولې او پوره دېرش کال یې بیا په دې ځانګه کې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې دندې ترسره کړې. نوموړی په (۱۳۵۹) کال کې د هېواد او فرهنګ د دښمنانو لخوا نه په شهادت ورسول شو.

عرفات (پردېس)